# احكام البسملة

د بسم الله الرحمن الرحيم تفسير، احكام او مسائل

مولف

محدث عصر سيد بديع الدين شاه الراشدي رحمه الله

پښتو ترجمه

عامر حسن بن نعمت الله


المكتبة الراشدية

آزاد پير جهنڈو نيو سعيد آباد سندھ پاکستان

0301-3558732, 0302-0121733

أبو محمد نصرت الله بن محمد بن بديع الدين
الراشدي السندي رحمه الله

**د ملاويدو پته:** ١. مكتبه رشيديه نزد جامعه محمديه يوسف اباد پشاور.

**قاري شاهد الله: 0313-8638522**

٢. مكتبة أبي أنس:**عامر حسن البشاوري:03165447968**


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


مکتبہ راشدیہ لصاحبها (محدث بدیع الدین شاہ الراشدی) کی جانب سے عنقریب زیر طبع ہونے والی کتابیں: ان شاء اللہ

۱. عربی زبان سے اردو میں مترجم کتابیں:

- اهل الحديث هم الفرقة الناجية (اہل حدیث ہی فرقہ ناجیہ ہے)

مولف: الشیخ احمد النیسابوریؒ۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

- هدم اصول اهل البدع۔ (اہل بدعت کے قواعد کا رد)

مولف: عبداللہ موسیٰ۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

- الاربعين عن فتنة القبورين۔ (قبرپرستوں کے رد میں چالیس احادیث)
- براءة السلف من التفويض۔ (اللہ تعالی کی صفات میں تفویض سے سلف کی براءت)

مولف: احمد نجار۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

۲. عربی سے پشتو زبان مترجم کتابیں:

- الطوام المرعشة في تحريفات اهل الراى المدهشة۔(مطبوع)

مولف: المحدث سید بدیع الدین شاہ الراشدي۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

- فقہ و حدیث۔(مطبوع)

مولف: المحدث بدیع الدین شاہ الراشدي۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د بسم الله احکام او مسائل۔ (مطبوع)

مولف: محدث بدیع الدین شاه الراشدی۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

- توحید خالص۔

مولف: محدث بدیع الدین شاه الراشدي۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

- ۱۰۵۰ معجزات د رسول اللہ ﷺ۔

مولف: ابو المعاطی۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

- اطیب المنح في علم المصطلح۔ (مطبوع)

مولف: المحدث عبدالمحسن العباد۔ مترجم: عامر حسن بن نعمت اللہ۔

۳. اردو سے عربی میں مترجم کتابیں:

- توحید رباني۔

مولف: محدث بدیع الدین شاه الراشدي۔ مترجم عامر حسن بن نعمت اللہ۔

عام تالیفات

- بدیع التفاسیر۔ (اردو، سندھی)

مولف: محدث بدیع الدین شاه الراشدي

- الفتح الالهی شرح اصول الشاشي۔

مولف: عامر حسن نعمت الله البشاوري (عربي)

- تسهیل اصول الفقہ (پشتو)

(c) ketabton.com: The Digital Library


مولف: عامر حسن نعمت الله البشاوري

- توحيد خالص(انگلش)

للشيخ بديع الدين شاه الراشدي رحمه الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

د شيخ بديع الدين شاه راشدي رحمه الله د مکتبی(المكتبة الراشدية العالمية) په شرکت د بحر العلوم السلفية) د اشراف لاندی مونږ اراده کړی چي د شيخ رحمه الله د زندگۍ باره كي معلومات راجمع کړو او دي کتاب ته مو نوم ورکړی(الفصل الربيع في حياة الشيخ بديع (رحمه الله تعالى)

مونږ ستاسو څخه بعضي معلومات غواړو هيله ده چي زمونږ سره مرسته وکړی که تاسو سره د شيخ محترم کومه خاطره، فتوی يا درس يا بله کومه علمي نقطه وي يا مو ترينه اجازه اغستلي وي يا مو تري سوال جواب کړی وي يا د حديث سماع نو مونږ سره يی ضرور شريک کړی

أبو محمد نصرت الله بن محمد بن بديع الدين الراشدي رحمهما الله تعالى
(مدير المكتبة الراشدية العالمية) نيو سعيد اباد حيدر اباد سنده پاکستان
موبايل واټس اب نمبر ٠٠٩٢ ٠٣٠١٣٥٥٨٧٣٢

(c) ketabton.com: The Digital Library


فیسبوک پاڼه

https://www.facebook.com/allamabadiuddinshahrashid/i

ای میل ایڈریس: almaktabaalrashidia75@gmail.com

تاریخ: ۲۰۲۱/۱۲/٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين أما بعد:

فاني أحمد الله أولا بأن أنعم علينا ببدء مشروع يحوي دراسة علمية وتحقيق كتب ومخطوطات ومن ضمن ذلك يتعاون فريقنا مع طلاب الماجستير والدكتوراة في كتابة البحوث وتحقيقها ومن البرامج التي نقوم بها بناء المساجد والمدارس والجامعات للبنين والبنات وحفر الابار وطباعة الكتب من المخطوطات والمطبوعات وكذا نقوم بمساعدة المساكين واليتامى والأرامل وتزويج النساء من الفقراء والمساكين وترجمة الكتب الى لغات عدة.

ونخبركم علما أن بعض المحققين عملوا على مخطوطات وكتب الشيخ بديع الدين شاه الراشدي والشيخ محب الله الراشدي مثلا:عمل الشيخ شكيل فكتب رسالة الماجستير على كتاب الشيخ باسم خدمات النبي صلى الله عليه وسلم وكتب الأخ عبدالقدير رسالة قدمت لنيل درجة الماجستير في اللغة العربية بجامعة بنجاب باسم (الشيخ بديع الدين الراشدي،حياته ومؤلفاته مع تحقيق مخطوطه:رفع الارتياب عن حكم الأصحاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وكتب الطالب عمر عزلان بحثا موضوعه جهود الشيخ رشد الله بن رشيد الدين شاه الراشدي في خدمة الأحاديث المنسوبة الى الامام أبي حنيفة بالجامعة الاسلامية بماليزيا وقد قال أبو محمد بديع الدين شاه الراشدي:ليس فيه رواية واحدة ثنائية بسند صحيح.

وقام الشيخ حماد أنس المدني بكتابة رسالة باسم (الشيخ بديع الدين الراشدي جهوده ومنهجه في العقيدة والتوحيد)بالجامعة الاسلامية بالمدينة.

وقام المحقق رياض عاقب من ملتان بتحقيق كتاب الشيخ المسمى(السمط الابريز على مسند عمر بن عبدالعزيز)ولم يكتمل بعد.

وقام الأخ اسامة بن ارشاد بكتابة رسالة عن التعريف بكتب الشيخ بديع الدين رحمه الله.

وقام الأخ عبدالقدير بتحقيق كتاب (الاعلام برواة الامام)لجدي أبي تراب وقد جمع المؤلف في هذا الكتاب أسماء الرواة يبلغ عددهم (٨٦٧) راويا وهم الرواة الذين يروي عنهم أبو حنيفة رحمه الله جمعها من كتاب (مسند الامام أبي حنيفة) لأبي مؤيد محمد بن محمود الخوارزمي والمسند المنسوب الى موسى بن زكريا الحصفكي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وقام الأخ عبدالغفار بتحقيق تفسير الشيخ المسمى(بديع التفاسير)باللغة السندية وهي رسالة الدكتوراة بجامعة سنده.

وقد طبع(بديع التفاسير باللغة السندية) وسيطبع قريبا باللغة الأردية ان شاءالله.

وقام الأخ الشيخ سرور الالهي بتحقيق مخطوط (من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة) في مركز التربية الاسلامية فيصل باد.

وكتب الدكتور أبو أنس عبدالعزيز رسالة قدمت لنيل درجة الدكتوراة في جامعة سنده عن خدمات المكتبة الراشدية باللغة السندية.

والشيخ ارشاد أحمد النيبالي بدأ بتحقيق مخطوط مقدمة بديع التفاسير باللغة العربية في جامعة أم القرى بمكة المكرمة ولكنه لم يكتمل بعد.

وترجم كل من الشيخ أبي حبان كامران وأبي خزيمة عمران ونوشيروان في فرنسا كتب الشيخ بديع الدين رحمه الله الى اللغة الانجليزية والفرنسية.

والشيخ أحرار محمد شريف شرع في تحقيق بعض المخطوطات والمطبوعات ولم يكمل بعد.

وقام الأخ الشيخ أبو الحسن فراز في مدينة المنورة بكتابة رسالة عن حياة الشيخ في مركز أهل الحديث والمسجد الفردوس والمدرسة

(c) ketabton.com: The Digital Library


المحمدية الراشدية العالمية والمكتبة الراشدية العالمية في منطقة نيو سعيد باد سنده باكستان فلله الحمد.

وكتب الطالب حماد أنس رسالة باسم (الشيخ بديع الدين الراشدي جهوده ومنهجه في العقيدة والتوحيد)بالجامعة الاسلامية المدينة المنورة.

وقام الدكتور مسعود السندي بتحقيق بعض مخطوطات الشيخ وطباعة كتبه.

وندعو الله أن يغفر الذنوب لجميع المسلمين والمسلمات والمؤمنين والمؤمنات الأحياء منهم والأموات في كل مكان يا أرحم الراحمين

ونرجو من المشايخ والعلماء والفضلاء وتلامذة ومعاصري جدي الأمجد رحمه الله تعالى أن يساعدونا في جمع العلم والنشر والطباعة والتوفيق بيد الله وفقنا الله وإياكم للخير.

وندعو جميع الاخوة الذين لهم باع في تحقيق المخطوطات أن يزوروا مكتبة الشيخ رحمه الله ويزودونا بعلمهم.

ومن أراد أن يطبع كتابا من كتب الشيخ أو ترجمته الى أية لغة فعليه أن يستأذن صاحب المكتبة ويتصل به.

والذي بين أيديكم كتاب لجدي الأمجد أبي محمد بديع الدين شاه الراشدي رحمه الله المسمى(أحكام البسملة) والكتاب فيه تفصيل

(c) ketabton.com: The Digital Library


وتحقيق دقيق عن أحكام البسملة خصوصا مسألة الجهر ببسم الله والكتاب قام بترجمته أخي الكريم عامر حسن البشاوري من الأردية الى البشتو فأحسن وأتم حقه باذن الله وجزاه الله عنا وعن المسلمين خير الجزاء وهذا الكتاب في الأصل مقتبس من بديع التفاسير للشيخ،والشيخ رحمه الله له كتاب اخر يحتوي على ٣٠٠ صفحة تقريبا عن مسألة الجهر ببسم الله.

وها نحن نطبعه تحت اشراف المكتبة الراشدية للمحدث أبي محمد بديع الدين رحمه الله.

وأجزنا الأخ عامر حسن البشاوري(حفظه الله) لطباعة الكتب لجدي.

أخوكم في الله:أبو محمد نصرت الله بن محمد بن بديع الدين شاه الراشدي رحمهما الله.

موبايل نمبر:٠٣٠١٣٥٥٨٧٣٢

**فيسبوک پاڼه**

**https://www.facebook.com/allamabadiuddinshahrashid/i**

**ای میل ایډریس: almaktabaalrashidia75@gmail.com**

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله تعالى خپل پيغمبر او د هغه امت ته تعليم ورکړى،چې هر کار په بسم الله سره شروع کړي،ځکه د الله تعالى نوم د برکتونو نه ډک دى:﴿**تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ**[1]﴾
ډېر برکتي دى ستا د رب نوم، چې د جلال او د اکرام (عزت ورکولو) والا دى.
لکه څرنګه چې د الله ذات مقدس او بابرکت دى:﴿**بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**[2]﴾
ډېر برکت والا دى هغه ذات چې خاص د هغه په لاس کې بادشاهي ده، او هغه په هر شي باندې ښه قادر دى.
﴿**اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ**﴾[3]
الله هغه ذات دى چې تاسو لپاره يې ځمکه قرار ځاى او اسمان چت ګرځولى دى او ستاسو صورتونه يې جوړ کړي دي، پس ستاسو صورتونه يې ښکلي جوړ کړي دي او تاسو ته يې له پاکيزه څيزونو نه

---

[1] الرحمن: (٧٨)
[2] الملک: (١)
[3] المؤمن: (٦٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library


رزق عطا کړی دی، دغه الله ستاسو رب دی، نو الله رب العالمین ډېر برکتي دی.

دې وجې نه هر کار د الله په نوم سره شروع کول،اسلامي تعلیم دی،او دلته یو څو احکام د بسم الله متعلق ذکر کولی شي:

## ۱ـ د قران کریم د تلاوت په ابتدا کې،یا د بل کوم کتاب په شروع کې:

الله تعالی فرمایي:﴿**بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ**﴾[٤]

ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پیدا کړي یې دي (ټول مخلوقات)

## ۲ـ د خط یا رسایلو د لیکلو په وخت:

لکه دسلیمان علیه السلام په واقعه کې راځي:﴿**قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلأُ إِنِّي أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَابٌ كَرِيمٌ إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم**﴾[٥]

هغې وویل: ای سردارانو! بېشکه زه چې یم، ما ته یو ډېر عزتناك لیك راغورځول شوی دی بېشکه دا د سلیمان له جانبه (راغلی) دی او

[٤] العلق: (١)

[٥] النمل: (٢٩ـ٣٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېشکه هغه (داسې) دی: د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحمت کوونکی دی.
او رسول الله چې کافرو بادشاهانو ته کوم خطونه ليکلي وو،د هغې په شروع کې بسم الله وه،او د سلفو هم دا طريقه وه،امام بخاري -رحمه الله- باب قايم کړی((د رسايلو په ابتدا کې د بسم الله د ليکلو بيان))[6]
پدې باب کې يې د زيد بن ثابت -رضي الله عنه-حديث نقل کړی،چې هغه معاويه ته خط ليږلی وو،او په ابتدا کې يې بسم الله ليکلې وه،او د حسن بصري څخه روايت دی،چې بسم الله بايد د رسايلو په شروع کې وليکل شي،او ددې باب نه پس متصل يو بل باب کې يې د ابن عمر -رضي الله عنه-څخه پدې معنی روايات نقل کړي،ابو بکر -رضي الله عنه-بحرين ته د زکات د جمع کولو باره کې رساله ليکلې وه،او په شروع کې يې بسم الله وه[7].
**تنبيه:** د عوامو دا عادت دی،چې د خط په ابتدا کې(۷۸۶) ليکي،او دا عذر پيش کوي،چې پدې سره د قران الفاظ د بې عزتۍ څخه محفوظ ګرځي،ليکن دا ګمان غلط دی،ځکه دا عمل نه د رسول الله څخه ثابت دی،او نه د سلفو څخه،لهذا په دين کې نوی کار دی،او

---

[6] الادب المفرد (طبع مصر ص١٦٣،طبع پاکستان ص٢٨٨)
[7] مشکاة (ص١٥٨باب ما يجب فيه الزکاة بحواله بخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا عذر هم غلط دی،ځکه ددوی د خبرې نه لازم راځي،چې (۷۸۶) د قران الفاظ ندي،نو چې د قران الفاظ نشو نو بیا د بسم الله قایم مقام څنګه جوړیدی شي،او که ته دا وایي:چې دا عدد د بسم الله بدل او عوض دی،نو بیا ددې بې عزتي هم کول نارواه ده،او ددې عمل د رد لپاره دومره کافي ده،چې رسول الله کافرو بادشاهانو ته د خط په ابتدا کې بسم الله لیکلې وه،حالانکه د هغوی په لاس کې د خط واقع کیدلو کې د بې عزتی ډیره خطره وه.

## ۳ـ د صلح خط په ابتدا کې:

د کاغذونو او صلح خط په شروع کې د بسم الله لیکل مسنون دي،ځکه رسول الله چې د حدیبیه په صلح کې د مشرکانو سره د صلح خط لیکلی وو، د هغې په ابتدا کې یې بسم الله لیکلې وه.[۸]

## ۴ـ د خوراک په ابتدا کې:

په بخاري او مسلم کې د عمرو بن ابي سلمة څخه روایت دی،چې رسول الله ماته حکم وکړ، **((سَمِّ اللَّهَ، وكُلْ ممَّا يَلِيكَ))**[۹]
چې بسم الله وایه په او په ښي لاس خوراک کوه.

---

[۸] بخاري (۳۷۹/۱)

[۹] رواه البخاري في كتاب الأطعمة، باب التسمية على الطعام والأكل باليمين ۵/ ۲۰۵٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


په مسلم کې د حذيفة -رضي الله عنه-څخه روايت دی،چې رسول الله فرمايي: **((إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لا يُذْكَرَ اسْمُ اللهِ عليه))**[١٠]

شيطان د خلکو خوراک د ځان لپاره حلال ګڼږي،هغه خوراک چې بسم الله يې په ابتدا کې ونه لوستل شي.

په طبراني کې حديث راغلی،چې رجال يې ثقات دي،د رسول الله يو غلام سلمی -رضي الله عنه-طعام تيار کړ،او رسول الله او صحابه و تناول کړ،او رسول الله پدې دوران کې يو اعرابي ته وفرمايل: **((سَمِّ اللَّهَ وكل مِنْ أَدْنَاهَا وَشَبِع مِنْهَا وَفَضَلَت))**

بسم الله ووايه او د خپلې مخې نه خوراک کوه،نو هغه ښه موړ شو، او بيا هم طعام باقي پاتې شو.[١١]

د ابن سني په کتاب[١٢]کې د يو صحابي نه روايت دی،چې هغه اته کاله د رسول الله خدمت کړی وو،وايي: **((أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِذَا قرب إِلَيْهِ يَقُولُ بِسْمِ اللَّهِ ))**

کله چې به رسول الله ته طعام وړاندې کړی شو، نو بسم الله به يې لوستله.

---

[١٠] رواه أبو داود في سننه (٣٧٦٦) ، والإمام أحمد في مسنده (٢٣٢٤٩) .

[١١] مجمع الزوائد للهيثمي (٢٢/٥)

[١٢] عمل اليوم والليلة (ص١٦٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**تنبيه:** كه د كار په ابتدا كې بسم الله هيره شي،نو څه وخت چې رایاده شوه،نو ((**بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِره .**)) دې ولولي.[١٣]

## ٥ـ د اوبو څكښلو نه مخكې:

د ابن عباس -رضي الله عنه-څخه روایت دی،چې رسول الله ﷺفرمايي: ((**وسَمُّوا إذا أنتم شَرِبتم، واحمَدوا إذا أنتم رفعتم**))[١٤] كله چې تاسو د يو شي د څكښلو اراده وكړئ،نو بسم الله وايئ،او وروسته الحمدلله.

د نوفل بن معاوية -رضي الله عنه-حديث ددې لپاره شاهد دی،چې هغې كې راغلي:رسول الله به د اوبو څكښلو نه مخكې بسم الله ويله او وروسته به يي الحمدلله.[١٥]

## ٦ـ په سورلۍ باندې د سوريدو په وخت:

په قران كې الله فرمايي: ﴿**وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا ۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ**﴾[١٦]

---

[١٣] (مشكاة ص٣٧١،الاذكار للنووي ص ٢٠٥)

[١٤] رواه الترمذي في "السنن" (١٨٨٥)

[١٥] (عمل اليوم والليله ص١٢٦) او (مجمع الزوايد ج٥ ص٨١)

[١٦] هود: (٣١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هغه ووېل: په دې کې سواره شئ (او وايئ:) د الله په نامه سره د دې روانېدل او د دې ودرېدل دي، بېشکه زما رب يقيناً ډېر بخښونکی، بې حده رحمت کوونکی دی.

د علي -رضي الله عنه-څخه روايت دی،چې**((أردفَ عَلِيٌّ بنُ أبي طالِبِ رجلًا فلمَّا وضعَ رِجلَه في الرِّكابِ قال بسمِ اللَّهِ فلمَّا استَوى قال الحمدُ للهِ وَكبرَ ثلاثًا وَهللَ ثلاثًا ثُمَّ قال رَبِّ إنيِّ ظَلَمتُ نَفسي فاغفِر لي ، إنَّهُ لا يغفِرُ الذُّنوبَ إلاَّ أنتَ ثُمَّ ضحِك فقال لهُ الرجالُ ما أضحَكَكَ يا أميرَ المؤمنينَ قال أردَفَني النَّبيُّ صَلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ ثمَّ فعلَ كَما رأيْتُني فعَلتُ فضحِك فقلتُ ما أضحَكَكَ يا رسولَ اللَّهِ قال ربنًا تباركَ وتعالَى يعجَبُ بقولِ عبدِه يعلمُ أنَّهُ لا يغفِرُ الذنوبَ إلا هوَ))**[17]

د رسول الله لپاره سورلۍ حاضره کړی شوه،بيا چې پرې سور شو نو بسم الله يې ولوسته،او دا دعا:د کمال صفتونه ټول الله لره خاص دي،هغه رب چې زمونږ لپاره يې دا سورلۍ تابع کړې،که د هغه فضل او احسان نه وی،نو مونږ ددې طاقت نه لره،او بيشکه مونږ ټول به خامخا د الله طرفته واپس کيږو،بيا يې درې مرتبه ((الحمدلله)) او درې مرتبه ((الله اکبر)) او بيا يې دا دعا ولوسته:الله ته پاک يې،ما په ځان باندې ظلم کړی،ته ماته بخشش وکړه،ځکه ستا نه علاوه بل

[17] تفسير القرطبي ص ٤٩٠

(c) ketabton.com: The Digital Library


څوک د گناه معاف کولو طاقت نلري،ددې نه پس علي -رضي الله عنه-مسکی شو،چا ترینه پوښتنه وکړه،څه وجه ده؟هغه وویل:رسول الله هم داسې کړي وو،او فرمايلي يې وو:کله چې بنده د الله څخه بخشش طلب کړي نو الله تعجب کوي،او وايي:چې زما بنده ته پته ده چې زما نه علاوه بل څوک د گناه په معاف کولو قادر ندی.

ددې مساله باره کې د عمر او په (ص ۳۴) باندې د حسين -رضي الله عنه-څخه هم داسې حديث ثابت دی.[۱۸]

## ۷-د اودس شروع کولو په وخت:

د ابو هريرة -رضي الله عنه-څخه روايت دی چې رسول الله ﷺفرمايي: ((**لا وضوءَ لِمَن لم يَذْكُرِ اسمَ اللهِ عليه**))[۱۹]

د هغه کس اودس نه کيږي چې بسم الله ونه وايي.

ددې حديث په سند کې معمولي کلام دی،مگر دا په دوه سندونو سره روايت شوی دی،او ددې باب متعلق د صحابه کرامو نه نور احاديث هم نقل دي،لکه په مسند احمد،دارمې،ابن ماجه،صحيح ابن السکن،مسند بزار،دارقطني،حاکم او بيهقي وغيره کې د ابو سعيد خدري نه پدې معنی حديث نقل دی،او په ترمذي،ابن ماجه،مسند احمد،دارقطني،احمد وغيره کې د سعيد بن زيد

---

[۱۸] عمل اليوم والليله (ص ۱۳۳)

[۱۹] رواه الترمذي (۲۵) وحسنه الألباني

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښخه،په مسند بزار،مصنف ابن ابي شيبة کې د عائشة -رضي الله عنها- ښخه،او په ابن ماجه،طبراني،کې د سهل بن سعد -رضي الله عنه-په روايت سره،په (کتاب الکنی)د ابو بشر دولابي کې،او د بغوي په کتاب (الصحابه)،او طبراني په (المعجم الاوسط) کې د ابو سبرة او ام سبرة نه روايت کړی،او ابن عدي -رحمه الله- په خپل کتاب (الکامل) کې د علي بن ابي طالب -رضي الله عنه-ښخه روايت کوي،عبدالملک بن حبيب الاندلسي د انس -رضي الله عنه-ښخه روايت کوي،لهذا ددومره شواهدو او سندونو د کثرت په وجه دې حديث ته تقويت ميلاويږي،دې وجې نه ابن حجر -رحمه الله- فرمايي: **((وَالظَّاهِرُ أَنَّ مَجْمُوعَ الْأَحَادِيثِ يَحْدُثُ مِنْهَا قُوَّةٌ تَدُل عَلَى أَنَّ لَهُ أَصْلًا))**[٢٠]

دا دومره زيات سندونه پدې دلالت کوي چې دا حديث ښه اصل لري او ثابت دی.

او امام ابو بکر بن ابی شيبة -رحمه الله- فرمايي: **((ثَبَتَ لَنَا أَن النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَهُ))**

د سندونو دکثرت په وجه مونږ ته دا خبره ښکاره شوه چې دا حديث د رسول الله ښخه ثابت دی.

[٢٠] التلخيص الحبير (ج١ ص٧٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن سيد الناس -رحمه الله- په شرح د ترمذي کې ليکلي((د بسم الله متعلق د اودس په شروع کې بعضې حسن صريح احاديث موجود دي او بعضې احاديث نور هم شته چې صحيح دي،ليکن صريح ندي))

امام شوکاني فرمايي:((پدې باب کې د ابو هريرة -رضي الله عنه- حديث دومره کمزوری ندی،چې بالکل ساقط کړی شي،بلکه د متعدد سندونو په وجه د حسن درجې ته رسيږي))[۲۱]

ددې نه علاوه د ډيرو صحابه کرامو عمل ددې تاييد کوي،او زما نيکه (ابو تراب رشدالله) فرمايي((ددې حديث د ډيرو سندونو په وجه ضعف ختميږي))[۲۲]

دارنگه ابن الهمام دې حديث ته حسن ويلي،[۲۳]او د اودس په شروع کې يې بسم الله ويل واجب گرځولي دي،دغه شان امام شوکاني وايي((بسم الله لوستل واجب دي))[۲٤]

دا رنگه عبدالحي لکهنوي هم ورته واجب وايي[۲٥]،او د حديث د الفاظو مطلب هم دادی،چې د بسم الله نه بغير اودس نه کيږي،او د انس-

[۲۱] الدراري المضيئة شرح الدرر البهية (ص۴۵)

[۲۲] سمر اخرت (ص ۱٦)

[۲۳] فتح القدير شرح الهداية (۱-۱۵)

[۲٤] (نيل الاوطار) او (الدراري المضيئة)

[۲٥] احکام القنطرة في احکام البسملة (ص ۱۲۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


رضي الله عنه-نه روايت دی چې((**نظَرَ أصحابُ رسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ وَضوءًا فلمْ يَجِدوا؛ فقال النَّبيُّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ: هاهُنا ماءٌ؟ فأُتيَ به، فرَأَيتُ النَّبيَّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ وضَعَ يدَه على الإناءِ الذي فيه الماءُ، ثُمَّ قال: تَوَضَّؤوا بِسمِ اللهِ، فرَأَيتُ الماءَ يَفورُ مِن بينِ أصابعِه، والقَومُ يَتوَضَّؤونَ حتى فَرَغوا مِن آخِرِهم، قال ثابتٌ: قُلتُ لأَنسٍ: كم تُراهم كانوا؟ قال: نحوًا من سَبعينَ رَجُلًا**))[٢٦]

يو صحابي د اوبو لټون کوو نو نبي ﷺ وفرمايل:ايا تاسو کې د چا سره اوبه شته،بيا يو لوخي کې اوبه راوړلی شوې،نبي ﷺ په هغې کې خپل لاس کیخوده،او ويې فرمايل:په بسم الله سره اودس شروع کړئ،ما کتل چې د هغه د ګوتو لاندې اوبه د چینې پشانته رواني وې،تر دې چې ټولو خلکو پرې اودس وکه،تقريبا اويا کسان وو.

پدې حديث کې د بسم الله لوستلو باره کې امر راغلی دی،او امر د اهل اصولو (اصول فقه د علماو) په نزد د وجوب لپاره وي،دې وجې نه امام نسايي -رحمه الله- پدې حديث باندې دارنګه باب قايموي((باب التسمية عند الوضوء))

يعني ددې حديث نه ثابتيږي چې د اودس په شروع کې بسم الله لوستل پکار دي.

---

[٢٦] سنن نسايي(١-١١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دارنگه د ابو هريرة -رضي الله عنه-نه روايت نقل كوي چې **((قَالَ رَسُولُ اللَّهِ يا أباهريرة إِذَا تَوَضَّأَت فَقُلْ بِسْمِ اللَّهِ والحمدلله فَإِنَّ حَفَظَتَك لَا تَسْتَرِيح تكْتُبُ لَك الْحَسَنَاتِ حَتَّى تُحدثَ مِنْ ذَلِك الْوُضُوء))**[٢٧]

نبي ﷺهغه ته حكم كړی وو:ای ابو هريرة،د اودس په شروع كې (بسم الله) او (الحمدلله) وايه،او څو پوري چې ته اودس كې يې ملايكي به ستا نيكۍ ليكي.

هيثمې -رحمه الله- فرمايي:ددې حديث سند حسن دی.[٢٨]

## ٨ ـ ٩ـ مسجد ته دداخليدو او وتلو په وخت دعا:

د انس -رضي الله عنه-څخه روايت كوي: **((كان رَسُولُ اللَّهِ ﷺاذا دَخَلَ فِي الْمَسْجِدِ قَالَ : بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَإِذَا خَرَجَ قَالَ : بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ))**[٢٩]

رسول الله ﷺبه مسجد ته د ننوتو په وخت بسم الله ويله او د وتلو په وخت به يې بسم الله ويله او بيا درود.

---

[٢٧] امام طبراني معجم صغير (ص ٣٨ هندي نسخه)، (ص٧٣مصري)

[٢٨] مجمع الزوايد (١ـ٢٠٠)

[٢٩] عمل اليوم والليلة

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې معنى باندې يو بل حديث په ترمذي[٣٠] او ابن ماجه[٣١] کې د فاطمة -رضي الله عنها- څخه روايت کوي،چې د تير حديث لپاره شاهد ګرځي.

## ١٠- کور ته دداخليدو په وخت:

د جابر -رضي الله عنه-څخه روايت دى چې رسول الله ﷺفرمايي:

**((إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَذَكَرَ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: لا مَبِيتَ لَكُمْ، وَلَا عَشَاءَ، وإِذَا دَخَلَ، فَلَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ، وإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ. وفي روايةٍ : وإِنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ عِنْدَ طَعَامِهِ، وإِنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ عِنْدَ دُخُولِهِ))**[٣٢]

څوک چې کور ته د ننوتلو په وخت او ډوډۍ خوړلو په شروع کې بسم الله ووايي،نو شيطان خپلو ملګرو ته وايي نه ستاسو لپاره دلته د پاتې کيدو ځاي شته او نه د خوراک لپاره څه شی،او څوک چې کور ته داخل شي او بسم الله ونه وايي نو شيطان خپلو ملګرو ته وايي دلته ستاسو لپاره ځاي هم شته او خوراک هم.

او د ابو مالک اشعري -رضي الله عنه-څخه روايت دى چې رسول الله

---

[٣٠] (١-٤٣)

[٣١] (ص٥٦)

[٣٢] صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري (٢٤٦٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ﷺفرمايي:ځوک چې کور ته دداخليدو اراده وکړي نو دا دعا دې ولولي: **((اللَّهمَّ إنيِّ أسألُكَ خيرَ المولجِ وخيرَ المخرَجِ بسمِ اللَّهِ ولجنا وبسمِ اللَّهِ خرجنا وعلى اللَّهِ ربِّنا توَكَّلنا))** [٣٣]

اى الله زه ستا نه دداخليدو او وتو خير غواړم او مونږ د الله په نوم سره کور ته داخليږو او وځو او په خپل رب باندې توکل کوو،او بيا دى د کور په خلکو باندې سلام وکړي.

## ١١ـ د کور نه د وتلو په وخت:

د ام سلمة -رضي الله عنها- نه روايت دى چې رسول الله ﷺبه د کور نه د وتلو په وخت دا دعا ويله: **((باسمِكَ ربيِّ، إنيِّ أعوذُ بكَ أنْ أزِلَّ أو أضِلَّ، أو أظلِمَ أو أُظلَمَ، أو أجهَلَ أو يُجهَلَ عليَّ))** [٣٤]

زه د الله په نامه د کور نه وځم،او په هغه مې اعتماد کړى،اى الله زه ستا پناه غواړم ددې نه چې گمراه شم،يا مې څوک گمراه کړي،يا خوى شم،يا مې څوک خوى کړي،يا چا باندې ظلم وکړم،يا راباندې څوک ظلم وکړي،يا زه د چا سره د جهالت معامله وکړم،يا ما سره د جهالت معامله وکړى شي.

په ترمذي او ابو داود کې راغلي دي،چې رسول الله ﷺبه ددې دعا د لوستلو په وخت اسمان ته نظر اوچتوو.

---

[٣٣] رواه مسلم رقم الحديث: (٢٠١٨)

[٣٤] نتائج الأفكار في تخريج أحاديث الأذكار(13523)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دارنگه د انس -رضي الله عنه-نه روایت دی چې نبي ﷺفرمايي((ځوک چې د کور نه د وتلو په وخت دا دعا ولولي: **((باسمِ اللهِ، تَوكَّلتُ على اللهِ، لا حَولَ ولا قُوَّةَ إلَّا باللهِ))**[35]

زه د الله په نوم سره وځم،او هغه باندې توکل کوم،د هغه نه علاوه د چا سره نه قدرت شته او نه طاقت.

نو ملايکې ورته وايي:تاته هدايت وکړی شو،ستا لپاره دا دعا کافي شوه،او ته د هر شر نه محفوظ کړی شوې،او شيطان د هغه نه جدا منډې وهي.

## ۱۲ـ په مونځ کې د (التحيات) ويلو نه مخکې:

د جابر -رضي الله عنه-نه روايت دی،چې رسول الله ﷺمونږ ته (التحيات) رازده کړ چې په شروع کې يې بسم الله وه.[36]

او د عبدالله بن عمر -رضي الله عنه- عمل نقل دی چې هغه به د (التحيات) نه مخکې (بسم الله) لوستله.[37]

دې باره کې د عمر او عائشة (رضي الله عنهما) اثر هم موجود دی.[38]

**فايده:** په عام صحيح احاديثو کې د (التحيات) نه مخکې (بسم الله) ويل نشته،خصوصا د ابن مسعود -رضي الله عنه-حديث د کوم په

[35] رواه أبو داوود في سننه (٤٤٣١)

[36] سنن (٢ـ١٤١)

[37] موطأ د امام مالک (ص ٣١)

[38] بيهقي (٢ـ١٤٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


صحت باندې چې د محدثينو اتفاق دی،دي کې هم د بسم الله ذکر نشته،دي وجي نه اکثر محدثين وايي:مسنون داده چې تشهد د (التحيات) نه شروع شي ليکن په بعضې احاديثو کې ددې لوستل ثابت دي،او د بعضې صحابه و عمل هم دی لهذا بسم الله ويل جايز دي او بدعت ندی.

## ۱۳-۱۴-۱۵: د کور او بچو په باره کې مهم حکم:

د جابر -رضي الله عنه-نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم: ((**إِذَا كانَ جُنْحُ اللَّيْلِ، أَوْ أَمْسَيْتُمْ، فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ، فإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ، وَأَغْلِقُوا الأبْوَابَ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، فإِنَّ الشَّيْطَانَ لا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، ولو أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شيئًا، وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ.**))[۳۹]

کله چې شپه راشي نو خپل ماشومان په کورونو کې بند ساتئ،ځکه پدې وخت کې شيطانان خپريږي،بسم الله وايئ او دروازې بندوئ،ځکه دروازه چې دارنګه بنده کړی شي نو شيطان يې د کولاوولو طاقت نلري،دارنګه بسم الله وايئ، او د مشکيزو خولې بندوئ،لوخې پټوئ،او لاټين او ډيوه بندوئ.

## ۱۶- د جماع کولو نه مخکې:

[۳۹] الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله وسننه وأيامه_(6216)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ابن عباس -رضي الله عنه-ما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺفرمايي: ((بِسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وجَنِّبِ الشَّيْطَانَ ما رَزَقْتَنَا، فَرُزِقَا ولَدًا لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ))[٤٠]

که تاسو کې څوک د خپلې ښځې سره د جماع کولو نه مخکې دا دعا ولولي :ای زما ربه مونږ د شیطان د شر نه محفوظ کړه او کوم اولاد چې ته یې مونږ ته عطا کوې هغوی هم د شیطان څخه وساته.

نو که اولاد یې پیدا شو شیطان به ورته هیڅ ضرر ورنکړي.

## ۱۸ـ بیت الخلا ته د ننوتو نه مخکې:

د انس -رضي الله عنه-څخه روایت نقل کړی چې رسول الله ﷺفرمايي: ((إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ بِسْمِ اللَّهِ))[٤١]

کله چې یو تن بیت الخلا ته د ننوتلو اراده وکړي نو بسم الله دې ووايي.

او ابن السني د انس -رضي الله عنه-یو بل حدیث هم ذکر کړی چې د تیر حدیث تایید کوي،او د علي -رضي الله عنه-حدیث هم ددې لپاره شاهد دی چې مشکاة[٤٢] کې په حواله د ترمذي سره موجود دی.

## ۱۸ـ اوده کیدو په وخت:

---

[٤٠] صحيح البخاري (الرقم: ٣٢٧١)

[٤١] ابن السني په خپل کتاب(ص٧)

[٤٢] (ص٤٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د حذیفه -رضي الله عنه-څخه او په مسلم کې د براء بن عازب -رضي الله عنه-څخه حدیث نقل دی چې رسول الله ﷺبه د اوده کیدو نه مخکې دا دعا لوستله: **((باسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وأَحْيَا))**[٤٣]

ای الله زه ستا په نامه سره مرم او ستا په نوم سره راژوندی کیږم.

د ابو هریرة -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې رسول الله ﷺمونږ ته د اوده کیدو په وخت ددې دعا د لوستلو تعلیم راکړی: **((سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبيِّ بكَ وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ، إنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي، فَاغْفِرْ لَهَا، وإنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بما تَحْفَظُ به عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ.))**[٤٤]

ای زما رب زه ستا په نوم سره ویده کیږم،خپل طرف په بستره باندې گدم،او ستا په حکم سره به یې راوچتوم،که چیرته ته زما روح بند کړې نو رحم پرې وکړه،او که پریږدې یې نو حفاظت یې وکړه لکه څرنگه چې ته د خپلو نیکو بنده گانو حفاظت کوې.

## ١٩ـ بازار ته د داخلیدو په وخت:

د بریدة بن حصیب -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې رسول الله ﷺبه بازار ته دداخلیدو په وخت دا دعا لوستله: **(( بسمِ اللهِ ، اللهم إني أسألُك من خيرِ هذه السوقِ وخيرِ ما فيها ، وأعوذُ بكَ من شرِّها**

[٤٣] الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله وسننه وأيامه (٦٢١٦)

[٤٤] صحيح مسلم (٣٠٨٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**وشرِّ ما فيها ، اللهم إني أعوذُ بك أن أصيبَ فيها يمينًا فاجرةً ، أو صفقةً خاسرةً ))**[٤٥]

زه د الله په نوم داخليږم،اى الله زه ستا څخه د بازار او پدې کې د موجوده مخلوق خير غواړم او د بازار د شر او پدېکښ د موجوده مخلوق د شر نه ماته حفاظت راکړې،اى الله ددروغو د قسم او تاوان څخه ما محفوظ کړې.

## ۲۰ـ د جنگ شروع کولو په وخت:

د بريدة -رضي الله عنه-څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه به کله يو لښکر د جنگ لپاره ليږه نو هغوی ته به يې د الله د خوف او ويري تلقين کوو او امير ته به يې وصيت کوو چې د خپلو کشرانو سره ښه معامله وکړي،او فرمايل به يې: **((اغْزوا باسمِ اللهِ))**[٤٦] د الله په نوم سره د الله په لاره کې جهاد وکړئ.

## ۲۱ـ د ذبح په وخت:

الله تعالى فرمايي: **((فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ))**[٤٧]

---

[٤٥] ابن السني (ص٥٠)

[٤٦] السنن (١٣٤٧٠)

[٤٧] الانعام: (١١٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو تاسو له هغې (مذبوحې) څخه خورئ چې په هغې د الله نوم یاد کړی شوی وي، که چېرې تاسو يئ چې د هغه په ایتونو ایمان لرونکي يئ.

بل مقام کې فرمايي: ﴿**وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ**﴾[٤٨]

او تاسو له هغې (مذبوحې) څخه خوراك مه کوئ چې په هغې باندې د الله نوم نه وي ياد کړی شوی او بېشکه دا (خوراك کول) خامخا فسق (نافرماني) دی اوبېشکه شيطانان يقينًا خپلو دوستانو ته وسوسې اچوي، د دې لپاره چې له تاسو سره جګړه وکړي او که چېرې تاسو د هغوی اطاعت وکړئ، (بيا نو) بېشکه تاسو (هم) خامخا مشرکان يئ.

د رافع بن خديج -رضي الله عنه-څخه روايت دی چې رسول الله ﷺفرمايي((**ما أنْهَرَ الدَّمَ وذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ**))[٤٩]

کومه چاړه چې دومره تيره وي(يا بل شی) چې وينه تويه کړي او د الله نوم پرې واغتسل شي نو دا قسم حيوان خوړلی شئ.

## ۲۲ـ د قرباني حيوان ذبح کولو په وخت:

[٤٨] الانعام: (١٢١)

[٤٩] الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله وسننه وأيامه(6216)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د انس -رضي الله عنه-څخه روايت دى چې نبي ﷺد قربانۍ ګډ راڅملوو او په څټ يې ورله ښپه کيخوده بيا يې (بسم الله الله اكبر) ولوسته.[50]

د عائشة -رضي الله عنها- څخه روايت دى چې نبي ﷺبه د قربانۍ ځناور ذبح کولو په وخت بسم الله ويله.[51]

## ۲۳ـ د ښکار په وخت د تير وغيره ويشتلو په وخت:

د انس -رضي الله عنه-څخه روايت دى چې رسول الله ﷺابو ثعلبة -رضي الله عنه-ته فرمايلي وو: کله چې ته په تير باندې بسم الله ووايې او ښکار پرې وکړې نو ستا لپاره به دغه ښکار کړى شوى حيوان حلال وي.[52]

## ۲۴ـ قبر ته د مړي ښکته کولو په وخت:

د ابن عمر -رضي الله عنه-څخه روايت دى چې رسول الله ﷺبه کله مړى قبر ته ښکته کوو نو دا دعا به يې لوسته((**بسم الله وعلى سنة رسول الله**))

او نسايې،ابو داود،ترمذي،ابن حبان کې د عبدالله بن عمر څخه همداسې يو حديث نقل دى،او په مستدرک د امام حاکم -رحمه الله-

[50] نخب الأفكار في تنقيح مباني الأخبار في شرح معاني الآثار

[51] مسلم (۱۹۶۷)

[52] تخريج سنن أبي داود (۲۸۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې راځي چې نبي ﷺ دې حکم کړی وو چې مړی قبر ته ښکته کولو په وخت بسم الله وواییٔ.[٥٣]

## ٢٥- د سورلۍ د راغورځیدو په وخت:

**((عن رديفِ رسولِ اللهِ صلَّى عليهِ وسلَّمَ قال عثر بالنبيِّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ حمارُه فقلتُ تعسَ الشيطانُ فقال النبيُّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ لا تقل تعسَ الشيطانُ فإنك إذا قلتَ تعسَ الشيطانُ تعاظمَ وقال بقوتي صرعتُه وإذا قلتَ بسمِ اللهِ تصاغرَ حتى يصيرَ مثلَ الذبابِ))**[٥٤]

د یو صحابي څخه روایت دی:چې زه د رسول الله سره په خر باندې سور وم،نو خر راپریوته(ښپه یي وخویدله)،ما وویل:شیطان دې هلاک شي،رسول الله وفرمایل:داسې مه وایه،ځکه پدې سره شیطان تکبر کې راځي او وایي:چې ما پخپل قوت سره دا کار وکړ،بلکې بسم الله وایه،ځکه پدې سره شیطان ورکوټی شي او د مچ یا ماشي په مقدار وګرځي.

## ٢٦- زخمي کیدو په وخت:

د جابر -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې د احد په جنګ کې طلحة بن عبیدالله -رضي الله عنه-د لس سړو برابر جنګ وکړ تر دې

[٥٣] نزل الابرار بالعلم الماثور من الادعیه والاذکار للنواب صدیق حسن (ص٢٩٠)

[٥٤] - البدایة والنهایة (١٣٤٤٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې لاس یې زخمي شو او یوه گوته یې کټ شوه نو هغه اوازونه شروع کړل پدېکښې رسول الله ﷺورته وفرمایل:**((لو قلت بسم الله لرفعتك الملائكة))**[55]

که تا پدې وخت کې بسم الله ویلی وی نو د الله ملایکو به اوچت کړی وی چې خلکو به درته کتل.

**۲۷ـ په وخت او رزق کې د تنگۍ محسوسولو په وخت بسم الله:**

د ابن عمر -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله ﷺفرمایي:څه شی تاسو منع کوي چې د رزق د تنگۍ په وخت کله د کور نه ووځۍ نو دا دعا وایئ: **((باسم اللَّهِ علىَ نَفسي ومالي وديني ، اللهُمَّ ! رَضِّني بقضائكَ ، وبارِك لي فيما قُدِّرَ لي ، حتَّى لا أحِبَّ تعجيلَ ما أخَّرتَ ولا تأخيرَ ما عجَّلتَ))**[56]

زه د الله نوم اخلم په خپل نفس،مال او دین باندې،ای الله ما پخپل تقدیر باندې راضي کړه،او کوم رزق چې تا زما لپاره لیکلی هغې کې برکت واچوه،تر دې چې کوم کار تا زما لپاره وروسته لیکلی وي هغه په جلدۍ ونه غواړم او کوم کار چې تا ماله په جلدۍ مقرر کړی وي هغه په تاخیر سره خوښ ونه گڼم.

**۲۸ـسحر او ماښام د بسم الله لوستل:**

---

[55] نزهة الفضلاء تهذيب سير أعلام النبلاء (۱۲/۱)

[56] ابن السني (ص۹۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترمذي او ابن ماجه د عثمان -رضي الله عنه-نه روايت کړی چې رسول الله ﷺفرمايلي دي:څوک چې سحر او ماښام دا دعا درې مرتبه ووايي نو هيڅ شی به ورته ضرر ورنکړي: **((بسمِ اللهِ الذي لا يضرُّ مع اسمِه شيءٌ في الأرضِ ولا في السماءِ وهو السميعُ العليمُ))**[٥٧] يعني د الله په نامه هر کار شروع کوم د چا د نوم اغستلو نه پس چې په اسمان او ځمکه کې هيڅ شی ضرر نشي ورکولی.

د عثمان -رضي الله عنه-ځوي چې ابان نوميږي د چا څخه چې دا حديث روايت دی، هغه باندې فالج حمله وکړه نو چې چا به ورته کتل هغه به ويل:ما ته څه ګورې؟دا حديث حق او ثابت دی ليکن د الله تقدير کې زما لپاره دا ليکلې وه چې په کومه ورځ ما باندې فالج حمله وکړه په هغې ورځ ما دا دعا نه وه لوستلې.[٥٨]

## ۲۹ـ ددم کولو په وخت:

ددم متعلق چې کومې دعاګاني حديث کې راغلي دي د ډيرو په شروع کې بسم الله ثابته ده،صحيح مسلم کې د عثمان -رضي الله عنه-روايت دی چې ما نبي ﷺته د بدن ددرد شکايت وکړ نو هغه

---

[٥٧] الجامع الصحيح - سنن الترمذي (١٣٥٠٩) -

[٥٨] مشكاة (ص٢٠٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library


راته وفرمایل:ددرد په ځاي باندې لاس کیږده او دا دعا وه مرتبه ولوله:
**((أَعُوذُ باللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِن شَرِّ ما أَجِدُ وَأُحَاذِرُ))**[٥٩]

زه د الله تعالی د عزت او قدرت پناه غواړم د هغه شي د شر نه چې زه یې مونده کوم او ترې ویریږم.

په صحیح مسلم کې د ابو سعید خدرې -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې نبي ﷺکله بیمار شوی وو نو جبریل پدې دعا سره دم کړی وو: **((باسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِن كُلِّ شيءٍ يُؤْذِيكَ، مِن شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ، أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللَّهُ يَشْفِيكَ باسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ.))**[٦٠]

زه د الله په نامه سره تا دموم د هر تکلیف ده شي څخه،د هر نفس د شر،او د هر حاسد د بد نظر نه،زه د الله په نوم سره تا دموم.

شیخ ابو محمد بدیع الدین شاه الراشدي وایي:اسلام واحد مذهب دی چې تقریبا د هر شي شروع په بسم الله سره کولو حکم کوي،شیخ الاسلام علامه ثناءالله امرتسري -رحمه الله- یوه عجیبه واقعه بیانوي،وایي زه یو ورځ په ټانګه کې د یو غیر مسلم سره ناست وم او دا دعا مې ولوسته**((سبحان الذي سخر لنا هذا وما كنا له مقرنين وانا الى ربنا لمنقلبون))**

---

[٥٩] صحیح مسلم (٣٠٨٨)
[٦٠] صحیح مسلم (٣٠٨٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library


بيا مى هغه ته وويل تا خو به د ډيرو مذاهبو كتابونه لوستلي وي ايا په كوم كتاب كې دا رهنمايي دې موندلي چې په سورلۍ كې د سوريدو په وخت ددعا لوستلو تلقين كوي؟ هغه وويل:نه.[61]

دلته مونږ د هغه مقاماتو ذكر وكړ چې زمونږ په علم كې وو باقي د هر خير كار په شروع كې بسم الله لوستل پكار دي لكه خوشبو لگول،تيل لگول،د لوخي نه سر لرې كولو په وخت،دروازه كولاوولو په وخت وغيره پدې سره به په كار كې بركت پيدا كېږي لكه حديث كې راځي((كوم كار چې د بسم الله نه بغير شروع شي هغه بې بركته گرځي))

امام نووي دې حديث ته حسن ويلي دي.[62]

ددې نه معلومه شوه چې د خير ټول كارونه په بسم الله سره شروع كول پكار دي،او ددې تفصيل څخه معلومه شوه چې بسم الله څومره عظمت او فضيلت لري.

**تنبيه:**د مذكوره احاديثو نه معلوميږي چې په اولنو درې كارونو كې پوره (بسم الله الرحمن الرحيم) لوستل پكار دي او باقي ټولو كارونو كې صرف بسم الله.

[61] كلمه طيبه (ص ٢٩ طبع پاكستان)

[62] الأذكار للنووي (ص ١٠٣ بحواله كتاب الأربعين للرهاوي من حديث أبي هريرة )

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د بسم الله معنی او لفظي تحقيق

(ب) د (نه) او (یو ځای والي) معنی ورکوي،او دا د حروف جر څخه یو حرف دی چې په پینځلس معانو کې استعمالیږي،چې څوارلس معاني ابن هشام -رحمه الله- ذکر کړي دي[٦٣]،او رضي -رحمه الله- یوه بله معنی هم ذکر کړی چې (ب) د (من) په معنی استعمالیږي لکه د الله دا قول ﴿**عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا**﴾[٦٤] یعني ددې چیني نه به د الله بنده ګان اوبه څکښي.[٦٥]

او دلته په (بسم الله ) کې (ب) د استعانت یعني مدد طلب کولو لپاره ده او معنی یې داده چې زه د الله څخه مدد غواړم او د هغه په نوم شروع کوم او د (مصاحبت) معنی هم صحیح ده دلته لکه دا معنی په (الکشاف۱ـ۴) د زمخشري کې ذکر ده او مطلب یې دادی چې زه د الله د نوم سره شروع کوم،او د حرف جر باره کې قاعده داده چې ددې نه مخکې فعل محذوف وي چې د هغې سره متعلق وي او دلته فعل محذوف(اشرع) دی یعني زه شروع کوم د الله په نوم او دا فعل به د حالت مطابق راوباسو مثلا د قراءت په وخت (أقرأ) یا (أتلو) رایستل یعني زه لوستل کوم د الله په نوم یا تلاوت کوم د هغه په نوم او د خوراک په وخت (اکل) یعني زه د الله په نوم خوراک کوم او د

[٦٣] مغني اللبيب(ص٩٥ نه تر ٩٩)
[٦٤] سورة الدهر
[٦٥] په شرح د (کافیه۱ـ۲۳۸)طبع استنبول

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښناک په وخت (أشرب) يعني زه د الله په نوم ځکښل کوم او د سوريدو په وخت (أركب) يعني زه د الله په نوم په سورلۍ باندې سوريږم وغيره.

او په (ب) سره د جمله شروع کيدو مقصد حصر دی يعني زه خاص د الله په نوم شروع کوم د بل چا په نوم نه.[٦٦]

[٦٦] بيان الفرقان على البيان للامرتسري (ص٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اسم

د بصرې علماء وايي: چې (اسم) په اصل کې د (سمو) نه راوتلی دی او د (سمو) معنی (اوچتوالی) دی د (سمو) څخه (و) د تخفیف په وجه حذف کړی شوی دی،د (س) د زیر په ځای سکون راغلی او په شروع کې (ا) اضافه شوی دی،او اسم په وزن د (افع) راغلی دی[٦٧]او اسم چونکه په مسمی باندې دلالت او ددې وضاحت کوي نو همدارنګه د الله نومونو ته قران (الاسماء الحسنی) ویلي دي او اسم کې خو د (علو) اوچتوالي معنی پرته ده نو پدې کې اشاره ده د الله علو او اوچتوالي ته چې د هغه شان اعلی او مرتبه اوچته ده.

د تفصیل لپاره زما کتاب(توحید خالص ص۳۳۰ نه ۴۳۴) پورې ملاحظه کړئ.

د کوفې د علماو مذهب دادی چې اسم د (سمة) نه اغستل شوی دی چې معنی یې (علامت،نښه) ده او پدې بنا باندې د معتزله و مذهب دادی چې د مخلوق پیدا کولو نه مخکې د الله لپاره هیڅ نوم او صفت نه وو بیا چې کله الله مخلوقات پیدا کړل نو خلکو د هغه لپاره نوم وټاکه او صفت یې ورله مقرر کړ،او کله چې الله مخلوق ختم او فنا کړي نو یو ځل بیا به الله بغیر د صفت او اسم نه پاتې شي

[٦٧]تفسير روح المعاني (۱ـ۴۵) تفسیر شوکاني (۱ـ۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


لیکن دا عقیده د اهل سنت والجماعت د عقایدو خلاف ده او الله تعالی دداسې خرافاتو څخه پاک دی.[٦٨]

شیخ بدیع الدین(زه) وایم:د الله ټول صفتونو ازلي او ابدي دي،همیشه به پاتې وي،لکه د الله کلام د هغه صفت دی چې د مخلوق د وجود نه مخکې هم موجود وو او اوس هم او په مستقبل کې به هم وجود ولري دې وجې نه اولنی قول صحیح دی چې اسم د (سمو) نه راوتلی دی او دلیل دا دی چې د اسم تصغیر (سمې) راځي او جمع یې (اسماء) او د (سمة) اصل (وسم) دی او تصغیر یې(وسیم) راځي او جمع یې (اوسام) نو که چیرته اسم د (وسم) یا (سمة) څخه وی نو جمع به یې (اوسام) راتلی حالانکه داسې نده.[٦٩]

او امام ابن حزم فرمایي:د بصریانو او کوفیانو ددواړو قول صحیح ندی،بلکې اسم مشتق ندی هیڅ ماده نلري او جامد دی،مثلا (حجر) لفظ دغه شان(خشبة) څکه ددې په مشتق والي باندې هیڅ دلیل نشته یعني پدې خبره دلیل نشته چې دا د (سمو) یا (سمة) نه راوتلی دی لکه د ډیرو حقیر شیانو نومونه شته دی لکه سپي ته (الکلب) وایي او خنزیر ته (الخنزیر) او ګندګي ته (القذر) وایي نو که مونږ دا ووایو چې اسم کې د اوچتوالي او عظمت شان معنی پرته ده نو ایا

---

[٦٨] تفسیر القرطبي (١-١٠١)

[٦٩] قرطبي (١-١٠١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددي شيانو(سپي،خنزير) وغيره شان به پدې نومونو سره اوچت شي؟[٧٠]

**فصل:**منطقيانو دا بحث کړی چې ايا اسم پخپله مسمی ده که نه؟بعضې وايي:اسم پخپله مسمی ده او ددليل په طور دا ايت پيش کوي ﴿**يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا**﴾[٧١]

ای زکريا! بېشکه مونږ تا ته د داسې هلك زيری درکوو چې د ده به نوم يحيٰی وي، مونږ ده ته له دې نه مخکې څوك همنامی نه دی ګرځولی.

څکه ددې نه پس فرمايي: ﴿**يَا يَحْيَىٰ خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ ۖ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا**﴾[٧٢]

ای يحيٰی! ته دغه کتاب په قوت سره ونيسه، او مونږ ده ته حکم (حکمت او نبوت) ورکړ، په داسې حال کې چې دی هلك و.

او بل ايت کې الله فرمايي: ﴿**بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى**[٧٣]﴾

---

[٧٠] الفصل (٥-٢٩)

[٧١] مريم: (٧)

[٧٢]مريم: (١٢)

[٧٣]الاعلی: (١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته پاکي بيان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی.

﴿وتَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾[٧٤]

ډېر برکتي دی ستا د رب نوم، چې د جلال او د اکرام (عزت ورکولو) والا دی.

يعني الله خپله برکت والا دی نو معلومه شوه چې د اسم نه مراد (ذات) او مسمی وي چا لپاره چې دا نوم ايخودلی شوی.

ليکن دا قول باطل دی او استدلال ددې ايتونو څخه کول صحيح ندي،علامه خازن فرمايي: [٧٥]دا قول غلط دی او صحيح داده چې اسم او مسمی کې فرق دی ځکه اسم هغه لفظ ته وايي چې په يو ذات باندې دلالت کوي په هغې سره د يو ذات پيژندل کيږي ځکه کله د يو شي لپاره ډېر نومونه وي او کله شيان ډېر وي نوم يی يو وي مثلا:الله تعالی يو دی چې مسمی ده او نومونه يې بيشماره دي لکه الله فرمايي:﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾[٧٦]

او خاص د الله لپاره ترټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو دی په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه (الله) په نومونو

---

[٧٤] الرحمن: (٧٨)

[٧٥] تفسير لباب التاويل (١-١٥)

[٧٦] الاعراف: (١٨٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به دوی ته د هغو عملونو سزا ورکړی شي چې دوی به کول.

نو ثابته شوه چې اصل مونږ دعا د الله تعالی ځخه کوو لیکن دا نومونه په وسیله کې پیش کوو.

او ددې ایت ﴿**يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا**﴾[77]

ای زکریا! بېشکه مونږ تا ته د داسې هلك زېری درکوو چې د ده به نوم یحیٰی وي، مونږ ده ته له دې نه مخکې څوك همنامی نه دی گرځولی.

نه استدلال صحیح ندی ځکه دلته الله تعالی زکریا -علیه السلام- ته د ځوی زیری ورکړی چې نوم به یې یحیی وي او بیا وروسته خطاب یې بعینه یحیی ته کړی اسم یې صرف د علامت په طور استعمال کړی.

او ددې ایت ﴿**بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ** الْأَعْلَى﴾[78]

ته پاکي بیان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی.

نه هم استدلال غلط دی ځکه پدې کې الله (اسم) خپل ځان (ربک) طرفته مضاف کړی دی نو (اسم) مضاف شو او (ربک) مضاف الیه او

---

[77] مریم: (٧)

[78] الاعلی: (١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


قاعده داده چې مضاف او مضاف الیه دواړه جدا جدا شیان وي ځکه بیا د یو شي اضافت خپل ځان ته راځي او دا ناممکنه ده.

**تنبیه:** کومو سلفو علماو چې اسم او مسمی دواړو ته یو ویلي دي د هغوی مقصدا دادی چې لکه څنګه چې د الله د ذات تنزیه او پاک ګڼل د هر عیب څخه ضروري دي دغه شان باید د الله نومونو هم د هر عیب څخه پاک وګڼل شي لکه د (الله اکبر) الفاظ ویلو څخه مراد د الله ذات دی.[79]

**فصل:** د الله ټول نومونه ښایسته او ښه دي او باید مونږ ترینه پدې سره دعا ګانې وغواړو،او د الله پشان نومونه د بل چا نشته،یعني بل څوک الله سره پدې نومونو کې شریک ندی:

**﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾**[80]

او خاص د الله لپاره ترټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو دی په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه (الله) په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به دوی ته د هغو عملونو سزا ورکړی شي چې دوی به کول.

---

[79] مجموع الفتاوی لابن تیمیة (۱٦-۲۳۲)

[80] الاعراف: (۱۸۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرحمن ۖ أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا﴾[٨١]

ته (دوی ته) ووایه: تاسو الله بلئ، یا تاسو رحمن بلئ، هر یو (نوم) يې چې وبلئ، نو خاص د هغه لپاره دي تر ټولو ښکلي نومونه او ته (قراءت د) خپل لمونځ ډېر مه ظاهروه او مه يې ډېر پټوه او د دې دواړو په مینځ کې (منځنی) لار ولټوه.

﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ﴾[٨٢]

الله (چې دی) نشته دی هېڅ لایق د عبادت مگر هم دی دی، خاص د ده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي.

﴿هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ ۖ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ۚ يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾[٨٣]

هم دغه الله پیدا کوونکی، (له نیشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی، خاص هم ده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي.، د ده پاکې بیانوي هر هغه شی چې په اسمانونو او ځمکه کې دی، او هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی.

او په دعا کې د الله هر یو نوم ذکر کول جایز دي،د عبدالله بن مسعود -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې رسول الله ﷺفرمایي((چاته چې

---

[٨١] بنی اسرایل: (١١٠)

[٨٢] طه: (٨)

[٨٣] الحشر: (٢٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه تکلیف وي یا په غم او فکر کې مبتلا وي نو دا دعا دې ولولي الله به ورته نجات ورکړي او غم به ورته په خوشحالۍ بدل کړي:

**((اللهمَّ إني عبدُك ، و ابنُ عبدِك ، و ابنُ أَمَتِك ، ناصيتي بيدِك ، ماضٍ فيَّ حكمُك ، عدلٌ فيَّ قضاؤُك ، أسألُك بكلِّ اسمٍ هو لك سميتَ به نفسَك ، أو علَّمتَه أحدًا من خلقِك ، أو أنزلتَه في كتابِك ، أو استأثرتَ به في علمِ الغيبِ عندَك ، أن تجعلَ القرآنَ ربيعَ قلبي ، و نورَ صدري ، و جلاءَ حزني ، و ذَهابَ همي))**[٨٤]

ای الله زه ستا بنده یم زه ستا د بنده ځوي یم زه ستا د وینزي ځوي یم زما تندی ستا په لاس کې دی زما باره کې ستا فیصله جاري ده،ستا فیصله زما باره کې په حقه ده،زه ستا څخه سوال کوم په هغه نوم سره چې تا ځان لپاره مقرر کړی دی یا دې خپل کتاب کې نازل کړی دی یا دې خپل مخلوق کې چاته د وحي په ذریعه ښودلی دی،یا دې ځان سره په علم غیب کې ساتلی دی زه ستا څخه دا دعا کوم چې قران زما د زړه پسرلی وګرځوه،زما د سینې لپاره یې رڼا وګرځوه،او د قران په ذریعه زما غم او فکر ختم کړه.

نو صحابه و پوښتنه وکړه: ای د الله رسول ﷺایا مونږ دا دعا په یادو یاده کړو هغه وفرمایل: هر څوک چې دا دعا واوري نو باید یاده یې کړي.

---

[٨٤] موارد الظمان الی زواید ابن حبان للهیثمي (٥٨٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ابو هريرة -رضي الله عنه-څخه روايت دى چې رسول الله ﷺفرمايي: ((**إنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وتِسْعِينَ اسْمًا، مِائَةً إلَّا واحِدًا، مَن أحْصاها دَخَلَ الجَنَّةَ**[٨٥] ))

د الله ۹۹ نومونه دي چا چې په يادو ياد کړل نو جنت ته به داخل شي.

دا ځکه چې که څوک دا نومونه ياد کړي نو با بار به يې لولي او زړه به يې الله ته متوجه کيږي ځکه د الله د هر نوم نه د هغه يو صفت لکه قدرت مهرباني،رحمت،شفقت وغيره ښکاره کېږي او کله چې دده زړه د الله باره کی مخلص وي او د هغه د رحمت نومونه ملاحظه کوي نو نيک اعمال کوي يا يې د غضب والا نومونو ته ګوري نو ګناهونه ترک کوي دداسې شخص لپاره پدې سره جنت واجبيږي.

زه وس دلته د الله تعالی دغه نومونه او ددې تشريح په اختصار سره ذکر کوم چې دا نومونه د ترمذي په حديث[٨٦] کې راغلي دي او د تشريح لپاره مونږ د لاندې کتابونو څخه استفاده کړې:د امام بيهقي کتاب(الاسماء والصفات) د غزالي کتاب(المقصد الاسنى شرح اسماء الحسنى) د امام بوني کتاب (شرح اسماء الله) د امام ابو اسحاق زجاج کتاب (تفسير اسماء الله الحسنى)

---

[٨٥] - الجامع الصحيح المسند٦٢١٦

[٨٦] (١ـ١٨٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library


((إنَّ للهِ عَزَّ وجَلَّ تِسْعَةً وتِسْعِينَ اسمًا ، مَن أَحْصَاها دخل الجنةَ ، هو اللهُ الذي لا إله إلا هو الرحمن ، الرحيم( المَلِكُ ، القُدُّوسُ ، السلامُ ، المؤمنُ ، المهيمنُ ، العزيزُ ، الجبارُ ، المتكبرُ ) ، ( الخالقُ ، البارئُ ، المصورُ ) ، الغفارُ ، القهارُ ، الوهابُ ، الرزاقُ ، الفَتَّاحُ ، العليمُ ، القابضُ ، الباسطُ ، الخافضُ ، الرافعُ ، المعِزُّ المُذِلُّ ، ( السميعُ ، البصيرُ ) ، الحَكَمُ ، العَدْلُ ، ( اللطيفُ ، الخبيرُ ) ، الحليمُ ، العظيمُ ، الغَفُورُ ، الشَّكُورُ ، العَلِيُّ ، الكبيرُ ، الحفيظُ ، المُقِيتُ ، الحَسِيبُ ، الجليلُ ، الكريمُ ، الرقيبُ ، المُجِيبُ ، الواسعُ ، الحكيمُ ، الوَدُودُ ، المَجِيدُ ، الباعِثُ ، الشهيدُ ، الحقُّ ، الوكيلُ ، القويُّ ، المَتِينُ ، الوَلِيُّ ، الحميدُ المُحْصِي ، المُبْدِي ، المُعِيدُ ، المُحْيِي ، المُمِيتُ ، ( الحَيُّ ، القَيُّومُ ) ، الواجدُ ، الماجدُ ، الواحدُ ، الصمدُ ، القادرُ ، المُقْتَدِرُ ، المُقَدِّمُ ، المُؤَخِّرُ ، الأولُ ، الآخِرُ ، الظاهرُ ، الباطنُ ، الوالِي ، المُتَعَالِي ، البَرُّ ، التوابُ ، المُنْتَقِمُ ، العَفُوُّ ، الرؤوفُ ، مالِكُ المُلْكِ ، ( ذو الجلالِ ، والإكرامِ ) ، المُقْسِطُ ، الجامِعُ ، الغنيُّ ، المُغْنِي ، المانعُ ، الضارُّ ، النافعُ ، النورُ ، الهادِي ، البديعُ ، الباقي ، الوارِثُ ، الرشيدُ ، الصَّبُورُ))

دا حدیث ابن حبان -رحمه الله- په خپل کتاب (صحیح ابن حبان) کې ذکر کړی او امام حاکم وايي:دا حدیث صحیح دی[87] او امام ذهبي په (تلخیص د مستدرک) کې د حاکم موافقت کړی او امام

---

[87] مستدرک(ص١٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


حاکم ددې حدیث د سند د تقویت لپاره یو بل حدیث هم د شاهد په طور ذکر کړی.

**(الله)**

دا د الله تعالی مبارک اسم دی،چې په ټولو نومونو کې جامع او عظیم دی،او پدې نوم کې د هغه سره هیڅوک شریک نشته ﴿**رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ ۚ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا**﴾[۸۸] (دغه) د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کې دي، نو ته د ده عبادت کوه او د ده په عبادت ښه ټینګ اوسه، ایا ته د ده کوم همنام پېژنې.

همدا وجه ده چې نه ددې تثنیه شته او نه جمع او ددې معنی باره کې علماو داسې لیکلي دي:الله هغه ذات ته وایي چې حقیقت کې وجود ولري او د الوهیت ټول صفات پکښې موجود وي د ربوبیت په صفاتو سره هم موصوف وي،او هیڅ شریک ونلري،دهغه نه علاوه هیڅ معبود برحق نشته.

او بعضې علما وایي:هغه ذات چې د عبادت مستحق دی.

بعضی وایي:هغه ذات ته وایي چې وجود ولري او همیشه موجود وو او وي به.

---

[۸۸] مریم:( ٦٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


البته ددې ټولو معنو مصداق يو دی.

**فصل:** دا نوم(الله) د څه شي نه مشتق دی يعنې اصل ماده يې څه ده؟

دې باره کې دوه قوله دي:

۱ـ دا د (اله) په وزن د (فعال) نه اغستل شوی دی او د (همزه) په ځای يې په شروع کې (ال) اضافه شوی دی نو (الله) ترې جوړ شوی لکه (الناس) په اصل کې (اناس) وو (ا) ترې حذف شو او په شروع کې (ال) اضافه شو نو (الناس) ترې جوړ شو.

۲ـ بعضې وايي: (الله) په اصل کې (الاله) وو همزه ترې حذف شو او (ل) په (ل) کې مدغم کړی شو نو (الله) ترې جوړ شو نو ددې قول مطابق (اله) اصل کې (ولاه) وو او همزه د (و) په ځای راغلی دی لکه (وشاح) اصل کې (اشاح) و او (وسادة) اصل کې (اسادة) وه.

دويم قول دادی چې د (الله) لفظ مشتق ندی بلکې جامد دی،چې هيڅ ماده نلري،او دا قول د اکثرو علماو دی،مثلا امام شافعي،الجويني،ابوسليمان الخطابي،ابو حامد الغزالي،او مفضل،خليل،او د سيبويه نه هم يو روايت نقل دی.[۸۹]

---

۸۹ القرطبي (ج۱ ص۱۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


شيخ بديع الدين -رحمه الله- فرمايي:زما په نظر همدا دويم قول صحيح دی،ځکه په اشتقاق باندې هيڅ دليل نشته،او د ځانه ماده رايستل محض تکلف دی،چې هيڅ ضرورت يې نشته،بلکې پخپله ددې خلاف دلايل موجود دي،امام قرطبي د خطابي -رحمه الله- څخه نقل کوي چې فرمايي:ددې دليل دادی چې په لفظ (الله) باندې (يا) داخليږي مثلا ويل کيږي (يا الله) حالانکه په کوم لفظ کې چې (ال) راشي نو (يا) يې په شروع کې داخلول منع دي لکه (يا الرحمن) (يا الکريم) ويل جايز ندي.

د نحو علماو دا هم ويلي دي چې کوم لفظ کې (ال) وي هغې باندې (يا) حرف ندا داخلول جايز ندي بلکې د منادی او حرف ندا مابين کې به د مذکر لپاره (أيها) راځي لکه (أيها الانسان) او کله مؤنث وي نو (أيتها) راځي لکه (أيتها المرأة)[٩٠] علامه خازن فرمايي:دا دجمهورو علماو قول دی(چې اسم (الله) جامد دی.[٩١]

علامه فيروز ابادي ليکلي:((صحيح قول دادی چې لفظ(الله) مشتق ندی جامد دی))[٩٢]

---

[٩٠] الکافيه د ابن حاجب (ص ٢٥) متن متين (ص١١٨) ،الفيه ابن مالک مع شرح ابن عقيل وشرح البهجه المرضيه للسيوطي (ص١٤٠) ،المفصل د زمخشري (ص٤١) ،ملحقه الاعراب د ابو القاسم الحريري (ص٧٨) وغيرهم.

[٩١] (ص١٥ ج١)

[٩٢] القاموس (ص٢٨٠ ج٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**خلاصه:** دا چې (الله) د الله تعالی خاص ذاتي نوم دی او (الاله) د هغه صفتي نوم دی او ددې باره کې مختلف اقوال دي چې (الاله) د کومې ماده څخه مشتق دی د ټولو اقوالو حاصل یو دی:

۱ـ دا د (أله) څخه دی (په ل باندې زبر) په معنی د (عبد) یعنې بندګي او ددې مصادر مختلف راځي لکه الهة،الوهة،او ألوهیة او (تأله) په معنی د (تعبد) راځي او (استأله) په معنی د (استعبد)[۹۳] نو د (الله) معنی ده (معبود) یعني هغه ذات چې د عبادت مستحق دی.

۲ـ(اله) د (ل) په زیر سره په معنی د (تحیر) یعني حیران شو[۹٤] او د (الله) معنی ده هغه ذات چې د هغې د ادارک او معرفت باره کې د ټولو خلکو عقلونه حیران دي.

۳ـ(اله) د (ل) په زیر سره په معنی د (فزع) یعني پناه یې واغسته او د (الله) معنی ده هغه ذات چې د هغه طرفته ټول مخلوقات د مصیبت او مشکل په وخت پناه طلب کوي.[۹۵]

---

۹۳ (القاموس (ص۲۸۰ ج۴)

۹٤ الصحاح د جوهري (ص ۲۲۲۴ ج۴)

۹۵ لسان العرب (ص۴۲۹ ج ۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴ـ(اله) په معنی د سکون او اطمینان[96] او د (الله) معنی ده هغه ذات چې د هغه کور ته په راتګ سره یا د هغه په عبادت سره د مومن زړه ته سکون او اطمینان حاصلیږي لکه الله فرمایي﴿**الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ**﴾[97]

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او د هغوی زړونه د الله په ذکر سره مطمئن کیږي، خبردار شئ! د الله په ذکر سره زړونه مطمئن کیږي.

۵ـ د (اله) معنی ده (په شوق سره راتلل)[98] لکه عرب وايي:(اله الفصيل) د اوښې بچی د خپل مور خواته په شوق سره راغلی.

نو د الله معنی ده هغه ذات چې بنده ګان ورسره مینه او د هغه په عبادت کې شوق لري.

لسان العرب کې راځي[99] د الله تعالی ټول مخلوقات هغه ته عاجزي کوي او د هغه ته خپل حاجتونه وړاندې کوي په هر مصیبت کې د هغه څه د دفع کولو سوالونه کوي لکه څنګه چې یو ماشوم خپلې مور طرفته التجا کوي.

---

[96] لسان العرب (ص۴۲۹ ج ۱۳)

[97] الرعد: (۲۸)

[98] روح المعاني (ج۱ ص۵۳)

[99] (ص۴٦۸ ج۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


پدې صفحه باندې د ابو الهيثم قول موجود دی چې (الله) هغه ذات ته وايي چې خلک يې عبادت کوي او د خپلو بندگانو خالق وي هغوی ته رزق ورکوي او د امورو تدبير ورله کوي او په هر څه باندې قادر وي که په چا کې دا صفات موجود نه وي نو هغه (اله) نشي گرځيدلی اگر که خلک شرک وکړي او د الله نه علاوه د هغه بندگي وکړي بيا هم معبود حق نشي گرځيدلی.

يعني (اله) د الله صفتي نوم دی او د (لا اله الا الله ) هم دا معنی ده چې د الله نه علاوه کوم معبود برحق نشته او هغه سره پدې صفت کې څوک شريک نشته،همدا وجه ده چې د جاهليت په دور کې به کافرو د (الله) لفظ د هغه ذات لپاره استعمالوو چې د اسمانونو او ځمکو خاوند دی او (اله) به يې د عامو معبودانو لپاره استعمالوو چې پدې کلمه کې ددې منع وشوه.

په لسان العرب [١٠٠] کې ليکي:الله صرف د يو ذات نوم دی چې هيڅوک ورسره پکښ شريک نشته،البته د (الاله) لفظ د الله لپاره هم استعماليږي او د نورو معبودانو لپاره هم لکه بوتان وغيره ليکن د (الله) اطلاق د هغه نه علاوه په بل چا باندې نه کيږي.

[١٠٠] (ص٤٦٩ ج٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی وجی نه الله فرمايي: ﴿وَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۘ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ۚ لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾[۱۰۱]

او ته له الله سره بل هېڅ معبود مه بله. (ځکه چې) د عبادت هېڅ لايق نشته مگر هغه دی، د هغه له مخ (ذات) نه غير هر څيز فناکېدونکی دی. حکم خاص د هغه لپاره دی او خاص هغه ته به تاسو بېرته بوتلی شئ .

﴿ذَٰلِكَ مِمَّا أَوْحَىٰ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتُلْقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومًا مَدْحُورًا﴾[۱۰۲]

دا (ټول حکمونه) له هغو څخه دي چې ستا رب له حکمته څخه تا ته وحي کړي دي او ته له الله سره بل هېڅ معبود مه نيسه (گڼې) نو په جهنم کې به وغورځول شي، ملامت کړی شوی، رټل شوی. ﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً ۖ قُلِ اللَّهُ ۖ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ ۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُلْ لَا أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ﴾[۱۰۳]

ته ووايه: د گواهۍ په لحاظ کوم شی تر ټولو لوی دی؟ ته ووايه: الله دی، (هغه) زما په مېنځ کې او ستاسو په مېنځ کې گواه دی. او ما ته

---

[۱۰۱] القصص: (۸۸)

[۱۰۲] بنی اسرايل: (۳۹)

[۱۰۳] سورة الأنعام: (۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا قرآن وحي کړی شوی دی، د دې لپاره چې په دې (قرآن) سره زه تاسو ووېروم او هغه څوك چې دا ورته رسېدلی، ايا بېشکه تاسو خامخا (د دې خبرې) ګواهي کوئ چې يقينًا له الله سره نور معبودان (هم) شته؟ ته ووايه: زه (د دې) شاهدي نه کوم، ته ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې هغه يو معبود دی او بېشکه زه له هغه څه نه بېزاره يم چې تاسو يې شريکان کوئ.

**﴿أَمَّنْ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَمَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَعَ اللَّهِ ۚ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾**[١٠٤]

بلکې هغه ذات چې اول ځلې مخلوق پيدا کوي، بيا به دغه (مخلوق) بېرته ژوندي کوي او هغه ذات چې تاسو ته له اسمان او ځمکې نه روزي درکوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ ته (دوی ته) ووايه: تاسو خپل دليل راوړئ، که تاسو رښتيني يئ.

**﴿هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾**[١٠٥]

دغه الله هغه ذات دی چې نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي ورکوونکی (او) امان ورکوونکی دی، نګهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)، ډېر

---

[١٠٤] النمل: (٦۴)

[١٠٥] الحشر: (٢٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


عظمت والا، ډېر لويې والا دی۔ الله پاك دی له هغو (شيانو) نه چې دوی يې ورسره شريکوي.

**فصل:** د (الله) نوم د هغه په ټولو نومونو کې عظمت او شان والا دی دې وجې نه ورته اسم اعظم وايي،حالانکه دالله د اسم اعظم باره کې د علماو مختلف اقوال دي چې تقريبا څلويښت ته رسيږي.[١٠٦] دلته زه د مشکات (کتاب الدعوات باب اسماء الله تعالی الفصل الثاني) څخه صرف درې احاديث ذکر کوم چې د الله د نوم متعلق دي چې ټول احاديث صحيح دي.

د بريدة -رضي الله عنه-نه روايت دی چې نبی ﷺد يو سړي نه واوريدل چې دا دعا يې لوسته: **((اللهمَّ إنيِّ أسألُك بأنك أنت اللهُ لا إلهَ إلا أنتَ الفردُ الصمدُ الذي لم يلدْ ولم يولدْ ولم يكنْ له كفُوًا أحدٌ فقال : لقد سأل اللهَ باسمِه الذي إذا سُئِلَ به أعطَى، وإذا دُعِيَ به أجاب))**[١٠٧]

ای الله زه ستا نه سوال کوم چې ته الله يې ستا نه علاوه بل حق معبود نشته ستا هيڅ شريک نشته او بې محتاجه ذات يې نه د چا نه پيدا يې او نه دې اولاد شته،او نه ستا برابر څوک شته،نو نبي ﷺوفرمايل:ده د الله څخه په اسم اعظم سره دعا وکړه هغه نوم چې

---

[١٠٦] تحفه الذاکرين فی عده الحصن الحصين للشوکاني (ص٦٢)

[١٠٧] شفاء العليل في مسائل القضاء والقدر والحكمة والتعليل(690 )

(c) ketabton.com: The Digital Library


پدې سره چا دعا وکړه نو هیڅکله به يې الله رد نکړي بلکې ضرور به يې قبوله کړي.

دا حدیث په نسايي او ابن ماجه کې هم شته،ترمذي ورته حسن ویلی دی،ابن حبان -رحمه الله- هم په خپل کتاب(صحیح ابن حبان) کې نقل کړی،او امام حاکم په (مستدرک) کې ذکر کړی او فرمايي:چې دا حدیث د بخاري او مسلم د شروطو برابر دی،امام منذري د خپل استاذ (ابو الحسن مقدسي) څخه نقل کوي چې دې حدیث باندې هیڅ طعن او جرح نشته،او حافظ ابن حجر وايي:دا حدیث پدې باب کې د ټولو احادیثو څخه راجح دی.

۲ـد انس -رضي الله عنه-څخه روایت دی **((كنتُ معَ رسولِ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ جالسًا ـ يَعني ـ ورجلٌ قائمٌ يصلِّي ، فلمَّا رَكَعَ وسجدَ وتشَهَّدَ دعا ، فقالَ في دعائِهِ: ((اللَّهمَّ إنِّي أسألُكَ بأنَّ لَكَ الحمدَ لا إلَهَ إلَّا أنتَ المنَّانُ بديعُ السَّماواتِ والأرضِ ، يا ذا الجلالِ والإِكْرامِ ، يا حيُّ يا قيُّومُ ، إنِّي أسألُكَ ، فَقالَ النَّبيُّ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ لأصحابِهِ: تَدرونَ بما دعا ؟ قالوا: اللَّهُ ورسولُهُ أعلَمُ ، قالَ: والَّذي نَفسي بيدِهِ ، لقد دعا اللَّهَ باسمِهِ العظيمِ ، الَّذي إذا دُعِيَ بِهِ أجابَ ، وإذا سُئِلَ بِهِ أعطى))**[۱۰۸]

[۱۰۸] - صحيح سنن النسائي (۱۳۵٦۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې زه د نبي ﷺسره په مسجد کې ناست وم او یو سړي مونځ کوو چې دا دعا یې پکښ ولوسته:ای الله زه ستا څخه سوال کوم چې ستا لپاره حمدونه دي او ستا نه علاوه معبود برحق نشته ته شفقت والا او احسان کونکی ذات یې،د اسمانونو او ځمکو پیدا کونکی یې ای د عزت او اکرام خاونده ای همیشه ژوندی ذاته ای د خلکو د کارونو تدبیر کونکی زه ستا نه غوښتنه کوم.

نو نبي ﷺوفرمایل:دې سړي د الله تعالی عظیم نوم په وسیله کې پیش کړ چې کله یې هم څوک ددعا په وخت کې استعمال کړي نو الله ورله ضرور دعا قبلوي.

۳ـ د اسماء بنت یزید -رضي الله عنها- څخه روایت دی- **((إنَّ في هاتَيْنِ الآيتَينِ اسمَ اللهِ الأعظمَ: {وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ} [البقرة: ١٦٣]، و{الم * اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ}**.[۱۰۹]

چې د الله اسم اعظم پدې دوه ایتونو کې دی:

**((وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرحمن الرحيم))**[۱۱۰]

او ستاسو حق معبود یو معبود دی، هیڅ لایق د عبادت نشته مگر یواځې هغه دی چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحمت کوونکی دی.

---

۱۰۹ تخريج مشكل الآثار (الصفحة أو الرقم: ۱۷۸ |

۱۱۰ البقره: (۱٦۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**((اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ))**[١١١]

الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مگر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالَم انتظام کوونکی دی.

دې باره کې نور احادیث هم شته لیکن د کلام او جرح نه خالي ندي،لهذا ددې درې دعاگانو په لوستلو سره انسان ته د اسم اعظم د لوستو شرف حاصلیدی شي.

**فایده:**تاسو به لیدلي وي چې صوفیان او د وحدت الوجود قایلین خلک د ذکر کولو په وخت صرف د (الله) لفظ استعمالوي او (الله الله ) کوي،چې ددې هیڅ ثبوت نشته،نه د نبي ﷺ څخه دا عمل ثابت دی او نه د صحابه کرامو څخه،نه د سلف صالحینو څخه،شیخ الاسلام ابن تیمیة -رحمه الله- فرمايي:صرف مفرد لفظ(الله الله) ذکر کول د ځمکې د خلکو او د اسماني مخلوق په نزد هیڅ فایده نه ورکوي البته کوم ځای کې چې لفظ یواځې ذکر شوی وي هلته خامخا یو بل لفظ پټ وي یا تنبیه او اشاره مقصود وي لکه څرنگه چې د اواز لپاره وضع کړی شوي الفاظ دي،دې وجې نه د صوفیانو دا ذکر(الله الله) علماو بد گڼلی دی او بدعت یې ورته ویلي،ځکه

[١١١] ال عمران: (١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


نبي ﷺفرمايي:افضل ذكر (لا اله الا الله) دی او افضل دعا الحمدلله ده (رواه ابو حاتم فی صحیحه)[١١٢]

دغه شان هغه فرمايي:بهترينه دعا چې زه يې كوم او زما نه مخكې پيغمبرانو كړی ده:**((لا اله الا الله وحده لا شریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شی قدیر))**(رواه مالک وغیره) او د نبي ﷺڅخه په تواتر سره ثابته ده چې خپل امت ته يې د الله ذكر د پوره جملې په شكل كې ورښودلی دی لکه (سبحان الله) (الحمدلله) (لا اله الا الله) او (الله اكبر)(رواه مسلم) او په صحيح مسلم كې د نبي ﷺڅخه ثابت دي چې فرمايي:كه زه سبحان الله،الحمدلله،او الله اكبر ولولم نو دا زما لپاره د ټولی دنيا د مال او متاع نه بهتره ده.

او فرمايلي يې دي:د چا اخری خبره چې (لا اله الا الله) وي نو جنت ته به داخل شي.

ليكن افسوس نن سبا بعضې خلک دا عقيده لري چې مفرد ذكر (يو لفظ والا) ويل مستحب دي او بعضې خو يې د (لا اله الا الله) د لوستلو څخه افضل او بهتر ګڼړي،نور داسې خلک شته چې وايي (هو) ويل د (الله) لوستلو نه بهتر دي،تر دې چې شيطان ورته وسوسه وكړه او د ځانه يې داسې الفاظ ويل شروع كړل چې نه پكښې ايماني خبره وي او نه هدايت بلكې ددې په وجه دوی د زنديقانو او ملحدينو

[١١٢] الرد علی المنطقين (ص٣٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


په صف کې داخل شول، کوم خلک چې خالق او مخلوق يو ګڼي وايي:چې هر شی الله دی او دوی د الله ددې قول څخه استدلال کوي **(قل الله ثم ذرهم فی خوضهم يلعبون)**

او ګمان کوي چې انسان ته الله حکم کړی چې (الله) ذکر مفرد ووايي ځکه (قل) د امر صيغه ده چې په وجوب ددې ذکر باندې دلالت کوي حالانکه دا استدلال غلط دی، ځکه دلته د (الله) لفظ په جواب د سوال کې واقع شوی دی او پوره ايت داسې دی:

**﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِذْ قَالُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ ۗ قُلْ مَنْ أَنْزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي جَاءَ بِهِ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى لِلنَّاسِ ۖ تَجْعَلُونَهُ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا ۖ وَعُلِّمْتُمْ مَا لَمْ تَعْلَمُوا أَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ ۖ قُلِ اللَّهُ ۖ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ﴾**[113]

او دوی د الله قدر ونه کړ، څنګه چې د هغه د قدر کولو حق دی! کله چې دوی وويل: الله په انسان باندې هيڅ شی نه دی نازل کړی، ته (ورته) ووايه: هغه کتاب چا نازل کړی دی چې موسیٰ راوړی و، چې رڼا او هدايت دی د خلقو لپاره؟ چې تاسو يې پاڼه پاڼه کوئ، چې هغه (ځينې) ښکاره کوئ او ډېرې پټوئ، او تاسو ته هغه علم درکړی شو چې نه پرې تاسو پوهېدلئ او نه ستاسو پلاران، ته ووايه: الله

---

[113] الانعام: (٩١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


(نازل کړی دی) بیا ته دوی په خپلو باطلو بحثونو کې پرېږده چې لوبې کوي.

او د پوره ایت نه دا معلومېږي چې دا د پوره جملې جواب دی یعنې سوال شوی دی چې دا کتاب چا نازل کړی نو الله نبي ﷺ ته فرمایي:چې ته ورته ووایه:الله یعني الله نازل کړی دی.

بهر حال د صوفاینو اکثر دلایل په مکر او فریب،چل او دهوکه باندې بنا وي.

**فایده۲ـ** د (الله) لفظ د هغه لپاره ذاتي نوم دی چې جامد دی او د عربي نه علاوه په بله هیڅ ژبه کې ددې مترادف نشته یعني داسې لفظ نشته چې ددې په ځای استعمال شي لهذا په پښتو یا اردو یا انګلش کې که څوک د الله تذکره کوي نو (الله) لفظ به استعمالوي (ګاډ) یا (خدا) وغیره به نه استعمالوي،البته نورو ژبو کې چې څومره الفاظ د الله لپاره استعمالیږي هغه د (معبود) په معنی دي یعني د (اله) په معنی حالانکه دا خبره تیره شوه چې (اله) د الله ذاتي نوم ندی،بلکې ددې معنی معبود دی چې د نورو معبودانو لپاره هم په قران کې استعمال شوی دی،په (مصباح اللغات ص۱۵) کې لیکي:(اله) هر قسم معبود ته وایي چې جمع یې (الهة) ده برابره ده که معبود باطل وي لکه بتان او که برحق وي لکه الله،دغه شان په فارسي ژبه کې د (خدا) لفظ هم صفتي نوم دی چې مراد ترېنه هر

(c) ketabton.com: The Digital Library


معبود دی لکه په (غیاث اللغات ص ۱۷۴) کې لیکلي(خدا) د (خ) په پیش سره د مالک او دوست په معنی دی او دا لفظ د الله نه علاوه د بل چا لپاره استعمالول منع دي البته که بل لفظ ورسره یو ځای کړی شي نو د بل چا لپاره یې استعمال جایز دی لکه (خدا بیت) د کور مالک.

د (خدا) بله معنی ریبس او مشر ده[۱۱٤] او بعضې وایي:خدا (پخپله راغلي) ته وایي،او دا لفظ د دوه الفاظو نه مرکب دی، چې (خد) (ا) دی او (ا) اصل کې د امر صیغه ده، معنی یې ده (راشه) لیکن د (خد) لفظ سره چې یو ځاي شو، نو د اسم فاعل معنی یې پیدا کړه، او د (خدا) معنی ده (پخپله راغلی) دی او الله ته ځکه خدا وایي چې هغه د خپل قدرت نښې پخپله ښودلي دي او هیچا ته یې پکښ حاجت ندی راغلی.

محمد حسین (البرهان) کې لیکي:د (خدا) لفظ (خذا) هم لوستل جایز دي د (د) په ځاي(ذ) لکه بلوچ د (خذا) لفظ استعمالوي.[۱۱٥]

ددې بحث نه دا ثابته شوه چې د (خدا) لفظ صفتي نوم دی او د (الله) په ځای یې استعمالول جایز ندي همدا وجه ده چې فارسي

[۱۱٤] برهان قاطع (ص۲۴۱ ج۲)

[۱۱٥] برهان قاطع (ج۱ ص٦٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې کله د (اله) ترجمه کوي نو (خدا) ليکي او که د (الله) لفظ ليکي نو (الله) ليکي.

دارنگه په انګريزي ژبه کې د (گاډ) لفظ هم په معنى د (اله) سره استعماليږي يعني معبود برابره ده که برحق وي او که باطل،ليکن دا لفظ هم د (الله) د لفظ په بدل کې استعمالول جايز ندي،د انگلش په ډکشنري کې ليکي:گاډ په معنى د اله،رب،معبود،حاکم،او قوي استعماليږي.[١١٦]

په فيروز اللغات کې راځي (گاډ) په معنى د خدا راځي.[١١٧]

بيمس شارټر انگلش ډکشنري کې راځي د (خدا) معنى (گاډ)[١١٨] ددې نه ثابته شوه چې د انګلش لفظ(گاډ) د معبود په معنى راځي.

ليکن د الله بدل او مترادف هيڅکله نشي کيدلی همدا وجه چې علامه مرمدک پکتهال د قران مجيد ترجمه په انگلش کې ليکلی ده او د سورت فاتحه په تفسير کې داسې ليکي:ما په پوره ترجمه کې د (الله) لفظ په خپل ځاي پريخی دی يعني ترجمه مې ورله نده کړې ځکه په انگلش کې داسې لفظ نشته چې ددې صحيح معنى ورکړي،نه ددې لفظ(الله) مثنى شته او نه جمع او نه مونث،د الله

---

[١١٦] المورد (ص٣٩٣)

[١١٧] (ص١٠٤٤)

[١١٨] (ص٢٥٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library


تعالى نه علاوه په بل معبود باندې ددې اطلاق صحيح ندى،او ما په ترجمه کې د (ګاډ) لفظ صرف د (اله) په ځاي کې استعمال کړى دى.[119]

او په تير شوي صفحاتو کې دا خبره بيان شوې ده چې لفظ د (الله) مشتق ندى بلکې جامد دى حالانکه (اله) مشتق دى نه ددې مؤنث شته نه تثنيه او نه جمع،حالانکه د لفظ (اله) مؤنث هم راځي او تثنيه او جمع يې هم شته.

لهذا دې کس په انګلش کې ترجمه کړې او کوم ځاي کې چې د (الله) لفظ راغلى همغلته يې په انګلش کې هم (الله) ليکلى دى او کوم ځاي کې چې (اله) راغلى دى هلته يې د (ګاډ) لفظ استعمال کړى،زه دلته بعضې مثالونه بيانوم:

**﴿إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾**[120]

بېشکه همدا حق بيان دى او نشته هېڅ ب-رحمه الله-ق معبود مګر يوازې الله دى او بېشکه يوازې الله ډېر غالب، ښه حکمت والادى.

[119] (ص ۴)

[120] ال عمران (٦٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ﴾[121]

او الله وويل: تاسو دوه معبودان مه نيسئ، همدا خبره ده چې هغه يو معبود دی، نو تاسو خاص له ما نه ووېرېږئ.

﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ﴾[122]

نو ته پوه شه چې بېشکه شان دا دی چې د عبادت هېڅ لایق نشته مګر الله دی او د خپلې ګناه مغفرت وغواړه او د مومنو سړیو او مومنو ښځو لپاره هم، او الله ستاسو په ګرځېدنځی او اوسېدنځی عالِم دی.

پدې ایت کې دواړه نومونه(الله) او (اله) ذکر دي لیکن مترجم(ترجمه کونکي) د (الله) د لفظ ترجمه نده کړې او د (اله) لفظ یې په (ګاډ) سره ترجمه کړی.

دې وجې نه باید په انګلش کې هم د (الله) لفظ پخپل ځای برقرار وساتل شي،البته د (اله) معنی په (ګاډ) سره کول جایز دي.

همدارنګه په هندي او سنسکرت ژبو کې هم د (الله) د لفظ په بدل کې بل لفظ نشته،میشور،برماتما،ایشور،او بهګوان،دا الفاظ هم د (الله) مترادف ندي.

---

[121] النحل: (٥١)

[122] محمد:١٩

(c) ketabton.com: The Digital Library


په سرتاج اللغة[١٢٣] کې د میشور معنی (خدا او پرماتما) لیکي،او په فیروز اللغات [١٢٤]کې د میشور معنی لیکي چې هغه ذات ته وایي چې اعلی روح ولري او خدا ته هم وایي،او په فیروز اللغات[١٢٥] کې د بګهوان معنی په (خدا) سره کوي.

سوامې دیانندد په خپل کتاب(ستهیارته پرکاش [١٢٦]کې لیکي:(بهج) په معنی د خدمت او پرستش هغې ته وایي چې په اختیار کې یې قدرت او دولت وي،او (ایشور) بهگوان ته وایي.

نو دا ټول الفاظ اګر که د (معبود) معنی ورکوي لیکن د (الله) مترادف نشي ګرځیدلی ځکه الله معبود برحق دی او پدې لفظ کې ورسره څوک شریک نشته،البته د (بهګوان) لفظ د معبود معنی نه علاوه بله معنی هم ورکوي لهذا ددې نه خو بالکل اجتناب ضروري دی،ځکه دا لفظ ددوو الفاظو نه مرکب دی د (بهګ) معنی (د ښځې مخصوص اندام) ته وایي[١٢٧] او (وان) د (والا) معنی ورکوي[١٢٨] نو د (بهګوان) معنی (هغه چې د ښځې مخصوص اندام ولري)

---

١٢٣ ص ٢٢٠

١٢٤ ص٣٢٥

١٢٥ (ص٢٦٦)

١٢٦ (ص٢۴)

١٢٧ فیروز اللغات (ص٢٦٥)

١٢٨ فیروز اللغات (ص ٢٦٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې تايېد ددې خبرى نه هم كيږي چې هندوان د يوې ښځې عبادت كوي چې نوم يې(ديوى) دى (نيكې ښځې ته وايي) او ديوى خپله مونث دى او (ديوتا) ددې مذكر دى،[١٢٩] او (ديوتا) هندي لفظ دى چې معنى يې(د الله ملايك) ده.

مقصد دا چې په سنسكرت ژبه كې بايد د (الله) لفظ ترجمه نكړى شي،او د پورتني الفاظو څخه يو هم د الله د لفظ مرادف ندى او نه يې ددې په ځاي استعمال جايز دى.

په عربي يا سرياني ژبه كې د (ايل) لفظ يا (ال) د (رب) په معنى استعماليږي،لهذا په قران كې چې كوم ځاى كې د (اله) لفظ راشي د هغې ترجمه په (ايل) سره جايز ده ليكن د (الله) ترجمه پدې لفظ سره جواز نلري،ځكه (ال) په معنى د ربوبيت راځي لكه:استاذ فرا وايي:د (ال) معنى (رشته داري،ذمه داري،او وعده او اقرار دى)[١٣٠] او بعضې وايي: چې (ال) د الله د نومونو څخه دى،حالانكه دا خبره غلطه ده ځكه د الله نومونه مشهور او معروف دي،په قران او حديث كې دا نوم نشته،لكه خلك د الله څخه ددعا كولو په وخت يا (رحمن يا رحيم) وايي وغيره مگر د هيچا څخه دا ندي اوريدل شوي چې يا (ال) لفظ يې استعمال كړى وي.

---

[١٢٩] سرتاج اللغه (ص٤١٧) ،فيروز اللغات (ص٦٨٠)

[١٣٠] لسان العرب (ج١١ ص٢٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام راغب فرمایی:چا ویلي دي چې (ایل) د الله د نومونو څخه دی لیکن دا قول غلط دی.[۱۳۱]

**فایده۳:** د (الله) لفظ د الله داسې جامع نوم دی چې د اسماء حسنی(۹۹) نومونو معنی پکښې پرته ده او نور ټول نومونه ددې لپاره شرح ده.[۱۳۲]

## (الرحمن الرحیم)

(عام مهربان په کافرانو او مومنانو دواړو باندې په دنیا کې او خاص مهربان په مومنانو باندې په اخرت کې)

امام بخاري فرمايي:الرحمن او الرحیم دواړه د رحمت نه اغستل شوي دي او رحیم او راحم یوه معنی لري لکه علیم او عالم (یعني د رحیم معنی ده رحمت کونکی او د راحم معنی هم رحمت کونکی ده)[۱۳۳]

امام جوهري فرمایي:رحمن او رحیم دواړه د رحمت نه مشتق دي لکه ندیم او ندمان(پښیمانه ته وایي) او د تاکید لپاره کله د یوي مادې څخه راوتلي دوه الفاظ تکراریږي لکه ویل کیږي (فلان جاد مجد) یعني فلانکی محنتی دی ډیر محنت کوي،البته د (الرحمن) اسم صرف د الله سره خاص دی بل چا لپاره یې استعمالول جایز

---

[۱۳۱] المفردات (ص ۱۹)

[۱۳۲] مدارج السالکین د ابن القیم (ج۱ ص ۳۲)

[۱۳۳] په خپل کتابصحیح البخاري (ج۲ ص۶۴۲) کتاب التفسیر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ندي،ځکه ته سوچ وکړه پدې ایت کې: ﴿قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ﴾
ته ووایه تاسو د الله څخه دعا وکړئ یا د رحمن څخه.[۱۳۴]
دلته الله تعالی (رحمن) او (الله) یو ځاي ذکر کړل او پدې کې اشاره ده چې لکه څنگه چې (الله) لفظ د بل چا لپاره استعمالول جايز ندي دغه شان د (رحمن) لفظ.
او د مسیلمة کذاب (چې د نبوت دعوی یې کړې وه) هغه ته به خپلو ملگرو (رحمن یمامه) ویل یعني د یمامه رحمان،لیکن دا دوی په دین پورې ټوقې کولې،زجاج -رحمه الله- فرمایي:(الرحمن) د (فعلان) په وزن د مبالغې صیغه ده د کثرت او ډیر والي معنی پکښې پرته ده ځکه د الله رحمت په هر شي باندې کیږي او رحمت یې وسیع او پراخه دی،هغه د ټولو رحم کونکو څخه ډیر رحم والا دی،او (رحیم) د (رحمن)نه وروسته ذکر شوی دی ځکه (رحمن) لازمي معنی لري یعني الله په نفس کې رحمت پروت دی او (رحیم)کې متعدې معنی پرته ده یعني الله په بل چا باندې رحمت کوي.[۱۳۵]
محترم لوستونکو:په عربي لغت کې د رحمت معنی دارنگه کوي:د زړه نرمیدل،معاف کول،رحمت کول،او د نرمۍ تقاضا داده چې احسان

---

[۱۳۴] الصحاح (ج۵ ص۹۳۹)

[۱۳۵] په تفسیر اسماء حسنی (ص۲۹) او لسان العرب (ج۱۲ ص۲۳۰) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي او بخشش او معاف کول خو د الله خاص صفت دی،او رحمت کول هم د هغه طریقه ده.[۱۳۶]

شیخ بدیع الدین(زه) وایم:د اهل حدیثو عقیده داده چې رحمت حقیقي معنی به کولی شي،بغیر د تاویل نه البته د الله زړه څنګه نرمیږي ددې کیفیت صرف الله ته معلوم دی مونږ ته یې ادراک نشته،څکه الله فرمایي: ﴿**فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا ۖ يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ۚ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ**﴾[۱۳۷]

(دغه الله) د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی، تاسو لپاره یې له هم ستاسو له جنس (او ځانونو) نه جوړې پیدا کړي دي۔ او له څارویو نه یې هم قسمونه (پیدا کړي دي)، هغه تاسو په دې طریقې سره خوروي۔، د هغه په مثل هېڅ شی نشته۔ او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی لهذا الله -رحمه الله-مان او رحیم دی او د رحمت اندازه یې چاته نشته.

**فصل:** بعضې خلک ګمان کوي چې رحمن مشتق ندی،څکه دا صرف د الله نوم دی،او که دا چیرته مشتق وي نو کافرو به ترې انکار نه کولی لکه قران کې دي چې دوی به انکار کوو ﴿**وَلَقَدْ أَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ**

[۱۳۶] القاموس (ج۴ ص۸۱۷) ،تاج العروس (ج۸ ص۱۳۵)

[۱۳۷] شوری (۱۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**الَّتِي أُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ نُشُورًا﴾**[۱۳۸]

او يقينًا دوی په هغه کلي تېر شوي دي چې په هغه باندې د بدۍ باران ورول شوی و، ايا نو دوی هغه نه ليده؟ بلکې دوی د بيا ژوندي پورته کېدلو امېد نه لاره.

ليکن دا قول غلط دی او دا صحيح ده چې دا د الله خاص نوم دی د بل چا لپاره يې استعمال جايز ندی،ليکن مشتق دی او دا ضروري نده چې د الله خاص نوم دې جامد وي او د کافروانو انکار خو صرف د عناد په وجه وو لکه الله پخپله فرمايي: ﴿**كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرحمن ۚ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ**﴾[۱۳۹]

همدارنگه ته مونږ په داسې امت کې لېږلی يې چې يقينًا له هغه نه مخکې ډېر امتونه تېر شوي دي، د دې لپاره چې ته دوی ته هغه (قرآن) ولولې چې مونږ تا ته وحي کړی دی، په داسې حال کې چې دوی په رحمن سره کفر کوي، ته ووايه: هغه زما رب دی، له هغه نه غير د عبادت هېڅ لايق نشته، خاص په هم ده باندې ما توکل کړی دی او خاص هم ده ته زما بېرته ورتله دي.

---

[۱۳۸] الفرقان: (۴۰)

[۱۳۹] الرعد: (۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د جمهورو علماو مذهب دادی چې دا د رحمت نه مشتق دی او د مبالغې صیغه ده،معنی یې ده(هغه ذات چې د رحمت انتها یې نشته)،دې وجې نه یې نه تثنیه راځي او نه جمع،او پدې باندې دلیل چې دا مشتق دی د رحمت نه راوتلی دی دا حدیث دی چې امام ترمذي د عبدالله بن عوف -رضي الله عنه-څخه روایت کړی چې رسول الله ﷺفرمایي:الله تعالی فرمایلي دي چې زه الله یم رحمن یم،ما رحمت پیدا کړی،او خپل نوم(الرحمن) ددې څخه مشتق دی لهذا چا چې صله رحمي قایمه کړه نو زه به یې وساتم او چا چې صله رحمي کټ کړه نو زه به یې کټ کړم.[١٤٠]

امام ترمذي دې حدیث ته صحیح ویلي او فرمایي:دې باره کې د نورو صحابه و نه هم احادیث روایت دي لکه ابو سعید الخدري،عبدالله بن ابي اوفی،عامر بن ربیعه،ابو هریرة،جبیر بن مطعم،او دا حدیث د (رحمن) د مشتق والي باره کې صریح نص دی،دې وجې نه د انکار او مخالفت هیڅ ګنجایش نشته.[١٤١]

**فصل:**دواړه نومونه (رحمن او رحیم) یوه معنی لري،چې د الله په رحمت او فضل باندې دلالت کوي،البته په هر لفظ کې خاص خوبي پرته ده دې وجې نه دواړه نومونه جدا جدا راغلي دي.

---

[١٤٠] سنن (ج٢ ص١٣)

[١٤١] القرطبي (ج١ ص١٠٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام ابو اسحاق زجاج فرمايي:بعضې مفسرينو ويلي دي:چې رحمن عام دی معنی يې ده (هغه ذات چې په ټول مخلوق باندې يې رحمت کړی لکه رزق يې ورته پراخه کړی دی او رحيم خاص رحمت والا ته وايي هغه ذات چې صرف په مومنانو يې خاص رحمت کړی چې ايمان يې ورته نصيب کړی،او په اخرت کې به ورته دايمې ثواب ورکړي چې هيڅ انقطاع ورله نشته،او ددې دواړو الفاظو اگر که ماده يوه ده ليکن د تکرار فايده يې داده چې په رحمن کې مبالغه پرته ده او د الله د رحمت عموم او شمول ته پکښې اشاره ده لکه عربي کې وايي (فلان غضبان) فلانکی په هر چا باندې غصه دی او (اناء ملان) يعني لوخی ډک دی دې وجې يې يو ځاي جمع کړي دي يا د تاکيد لپاره تکرار شوي.[١٤٢]

امام بيهقي -رحمه الله- ليکي:د رحمن معنی داده (هغه ذات چې د خپلو بندگانو عذرونه يې زايله کړي يعني جناتو او انسانانو ته يې حکم کړی چې عبادت يې وکړي او هغوی ته يې د عبادت کيفيت او طريقه ښودلې او د هغې حدود او شروط يې هم ورته بيان کړي،بندگانو ته يې شعور او قوتونه او اندامونه ورکړي دي او مخاطب کړي يې دي،مکلف کړي يې دي په بعضی کارونو باندې،او هغو ته يې زيری ورکړی چې عمل کوي او هغو ته يې يره ورکړې چې عمل نه کوي،دې

[١٤٢] شرح اسماء حسنی (ص٢٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library


وجې نه د هر چا هيڅ عذر ندی پاتې،او د رحيم معنی ده هغه ذات چې د هيچا عمل نه ضايع کوي بلکې پوره اجر او ثواب ورته ورکوي،بلکې په خپل رحمت سره ډبل اجر ورته ورکوي.[١٤٣]

امام خطابي فرمايي:رحمن هغه ذات چې په ټولو مخلوقاتو يې رحمت کړی چې مومن،کافر،صالح،او فاسق پکښې شامل دي،ټولو ته رزق ورکوي،د هغوی دنياوي ضروريات يې پوره کړي،او د رحيم لفظ د مومنانو سره خاص دی لکه الله فرمايي: ﴿**وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا**﴾[١٤٤]

او کله چې مومنانو ډلې وليدې، ويې ويل: دا هغه دي چې مونږ سره يې الله او د هغه رسول وعده کړې وه، او الله او د هغه رسول رښتيا ويلي وو، اودوی ته دغو زيات نه کړ مگر ايمان او (د الله حکمونو ته) تسليمېدل.

امام غزالي فرمايي:د (رحمن) لفظ عام دی او ډيرو شيانو ته شامل دی لکه ١ـ الله تعالی مخلوق باندې رحمت کړی او پيدا کړي يې دي.٢ـ دوی ته هدايت او ايمان ورپه نصيب کوي.٣ـاخرت کې به

[١٤٣] په خپل کتاب الاسماء والصفات (ص٤٩) کې

[١٤٤] الاحزاب (٢٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته سعادت او خوشحالي ورکوي.۴-خپلو بندګانو ته به خپل مخ ته د کتلو توفيق ورکوي.[145]

امام قرطبي وايي:علامه عزرمي وايي:رحمن هغه ذات چې رحمت يې په کافر او مومن دواړو باندې کړی لکه باران پرې کوي او انداموته يې ورته ورکړي او نور ډير نعمتونه يې پرې کړي، او رحيم خاص دی مومنانو پسې ځکه دوی ته يې خاص هدايت کړی او رحمت پرې کوي او ابن المبارک فرمايي:رحمن هغه ذات ته وايي چې بنده ترې سوال وکړي نو ورکړه کوي او چې سوال ترې ونه شي نو غصه کيږي.[146]

په لسان العرب کې راځي:فارسي فرمايي:د رحمن نه پس رحيم دې لپاره ذکر شوی چې په رحمن کې عام رحمت مراد دی او په رحيم کې خاص رحمت ته اشاره ده چې صرف په مومنانو باندې دی لکه الله فرمايي**((اقرأ باسم ربک الذي خلق))** او بيا وروسته فرمايي**((خلق الانسان من علق))** اول يې عام حکم ذکر کړ چې الله انسان پيدا کړی بيا يې خاص چې الله د علق نه پيدا کړی ځکه د انسان په پيدايش کې د الله حکمتونه او نښې دي.[147]

---

[145] (المقصد الاسنی (ص۳۵)

[146] په تفسير قرطبي(ج۱ ص۱۰۵) کې

[147] (ج۱۲ ص۲۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library


حافظ ابن القیم -رحمه الله- فرمايي:په (رحمن) کې اشاره ده چې رحمت د الله ذاتي صفت دی چې ذات سره یې قایم دی،او رحیم تعلق د مخلوق سره دی یعني الله پخپله د رحمت صفت لري او په مخلوق باندې رحمت کوي.[١٤٨]

ددې عبارت څخه دا خبره واضحه شوه چې (الرحمن) او (الرحیم) دواړه د رحمت څخه راوتلي دي او دواړو کې مبالغه موجوده ده،البته دواړه مختلف خصوصیات لري،او ددواړو په یو ځای کې جمع کولو کې حکمت او مناسبت هم شته،او الرحمن یې د الرحیم نه مخکې ذکر کړی دی،دیته د عام نه پس د خاص ذکر کول وایي دې لپاره چې دا خبره واضحه شي چې د الله مهرباني خو عامه ده لیکن خصوصي مهرباني په مومنانو باندې ده لهذا ایمان راوړئ نو پدې کې ایمان ته ترغیب هم راغلی.

امام ابن خالویه -رحمه الله- ددې یوه بله وجه هم ذکر کړې ده یعني چې الرحمن د الرحیم نه مخکې ولې راغلی دی ددې څه سبب دی؟ هغه فرمايي:رحمن یې ځکه مخکې کړ چې دا د الله خصوصي نوم دی څوک ورسره پکښې شریک نشته د بل چا لپاره یې استعمال ممنوع دی،او رحیم مشترک دی د بل چا لپاره یې استعمالول جایز دي نو خاص یې په عام باندې مقدم کړ.[١٤٩]

---

١٤٨ په بدایع الفواید (ج١ ص٢٤) کې

١٤٩ په خپل کتاب اعراب ثلاثین سورة من القران (ص١٣) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


علامه محمد ابراهيم مير يو بل سبب ذكر كوي وايي:رحمن يې په رحيم باندې ځکه مقدم کړی چې د وزن خيال راشي ځکه د اکثرو ايتونو په اخير کې (يم) يا (ين) لکه (مستقيم) (نستعين) (العالمين).[١٥٠]

**فایده:** د بعضې خلکو خیال دی چې (الرحمن) عربي لفظ دی،لیکن دا خبره غلطه ده،قرطبي ليکي[١٥١]:په قران کريم کې هيڅ عجمې لفظ نشته البته داسې الفاظ شته چې د عربي او نورو ژبو کې مشترک وي،د تفصيل لپاره(الاتقان للسيوطي ج١ ص١٣٦) ملاحظه کړئ.

**فصل:** هر سورت چې په بسم الله الرحمن الرحيم سره شروع کيږي پدې کې (براعة الاستهلال) وي مطلب دا چې پدې سورت کې راوران احکام ټول د الله په رحمت باندې بنا دي،او د رحيم بادشاه د طرفه دي،او د الله ټول قوانين د رحمت دي،او پدې کې هيڅ بې انصافي او ظلم نشته،دې لپاره چې قاري او لوستونکی راروان ايتونه په مينه او شوق سره ولولي او دا حقيقت دی چې د الله رحمتونه د سمندر پشان دي چې هيڅ ساحل يې ندی معلوم،ابو داود کې دا حديث موجود دی چې نبي ﷺفرمايي((**والذي بعثني بالحق لله أرحم بعباده من أم الأفراخ بفرخها**))[١٥٢]

---

١٥٠ په خپل کتاب واضح البيان فی تفسير ام القران (ص٥٦)کې

١٥١ (ج١ ص١٠٤)

١٥٢ مشكاة (ص ٢٠٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library


قسم په الله چې زه يې په حق سره راليږلی يم،الله په خپلو بندګانو باندې د يوي مور نه ډير رحمت کونکی دی چې پخپلو بچو رحمت کوي.

د ابو هريرة -رضي الله عنه-څخه روايت دی چې رسول الله ﷺفرمايي:((**إنَّ لِلَّهِ مِئَةَ رَحْمَةٍ أَنْزَلَ منها رَحْمَةً وَاحِدَةً بينْ َالجِنِّ وَالإِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ، فَبِهَا يَتَعَاطَفُونَ، وَبِهَا يَتَرَاحَمُونَ، وَبِهَا تَعْطِفُ الوَحْشُ علَى وَلَدِهَا، وَأَخَّرَ اللَّهُ تِسْعًا وَتِسْعِينَ رَحْمَةً، يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَومَ القِيَامَةِ.**))[١٥٣]

الله تعالی سل رحمتونه پيدا کړي او يو رحمت يې
انسانانو،څناورو،او نورو مخلوقاتو ته ورکړی چې په يو بل باندې رحمت وکړي،ددې په وجه حيوانات هم په بچو باندې شفقت کوي،او ۹۹ رحمتونه يې ځان سره حصار کړي دي چې د قيامت په ورځ به په خپلو بندګانو باندې پدې سره رحمت وکړي.

ګويا کې په دنيا کې چې د چا په زړه کې معمولي رحمت موجود دی دا د الله درحمت حصه ده،مثلا مور او پلار پخپلو بچو باندې مهربانه وي،حاکم په عوامو باندې،دوست په خپل دوست،دا ټول د الله د رحمت نتيجه ده،تر دې چې کله ظالم په مظلوم باندې څه شفقت وکړي دا ورته الله په زړه کې اچوي.

---

[١٥٣] صحيح مسلم(٣٠٨٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library


په قران کریم کې الله تعالی د خپل پیغمبر باره کې دارنګه فرمایلي دي﴿**لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ**﴾[١٥٤]

یقینًا یقینًا تاسو ته له هم ستاسو له جنسه نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکلیف کې اچوي؛ په ده ډېر سخت (او درانه) دي، ستاسو (د هدایت) لپاره پر تاسو باندې ډېر حرصناك دی، په مومنانو باندې ډېر نرمې کوونکی، ډېر مهربان دی.

نبي ﷺ چې پخپل امت باندې دومره مهربانه دی دا هم د الله د رحمت په وجه چې الله د هغه طبیعت او فطرت داسې جوړ کړی وو لکه الله فرمایي: ﴿**فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ**﴾[١٥٥]

نو (یواځې) د الله د رحمت په سبب ته د دوی لپاره نرم یې او که چېرې ته بدخویَه، سخت زړی وَی (، نو) خامخا دوی به ستا له چاپېره نه خواره شوي وو، نو دوی ته معافي کوه، او د دوی لپاره بخښنه غواړه، او له دوی سره په کار کې مشوره کوه، بیا چې کله ته پخه اراده وکړې، نو په الله باندې توکل کوه، یقینًا الله له توکل کوونکو سره مینه کوي.

[١٥٤] توبة: (١٢٨)

[١٥٥] ال عمران: (١٥٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ښځې او خاوند مابين كې محبت هم د الله د نښو څخه دى لكه الله فرمايي﴿**وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ**﴾[١٥٦]

او د هغه له نښو څنې دا دي چې تاسو لپاره يې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پيدا كړې، د دې لپاره چې تاسو هغو ته (په مايله كېدو سره) سكون حاصل كړئ او هغه ستاسو په مينځ كې مينه او مهرباني پيدا كړه، بېشكه په دغو كې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فكر كوي.

خلاصه دا چې د كوم مخلوق څخه چې كومه مهرباني يا نعمت صادريږي په بل مخلوق باندې نو دا د الله درحمت يو جز وي او د الله لاس پكښې وي،نبي ﷺفرمايي:كه چيرته كافر ته د الله د رحمت باره كې معلومات وشي نو هيڅكله به د الله د جنت څخه نا اميده نشي.

كه قران كريم مطالعه كړو نو دا به محسوسه كړو چې هر قسم نعمت د الله د رحمت په وجه وي:

د الله نعمتونه دادي:

## ١ـ د مصيبت څخه نجات وركول:

---

[١٥٦] الروم: (٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**﴿وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِنْ ضُرٍّ لَلَجُّوا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ﴾**[۱۵۷]

او که مونږ په دوی مهرباني کړې وی او هغه تکلیف مو لرې کړی وی چې په دوی دی (، نو) خامخا به دوی په خپله سرکشی کې راښینګ شوي وو، په دې حال کې چې سرګردان به وو.

## ۲ـ بچې او ښځه ورکول یا د بیماري څخه شفا ورکول هم د الله نعمت دی:

**﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِنْ ضُرٍّ ۖ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَابِدِينَ﴾**[۱۵۸]

نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه، نو مونږ هغه تکلیف لرې کړ چې هغه ته و او مونږ هغه ته د هغه کورنۍ او له هغوی سره د هغوی په مثل عطا کړل له خپل طرف نه د رحمت په وجه او د عبادت کوونکو لپاره د نصیحت په خاطر.

## ۳ـ یونس علیه السلام د ماهی د خیټې نه راخلاص شو دا د الله درحمت په وجه:

**﴿لَوْلَا أَنْ تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِنْ رَبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ﴾**[۱۵۹]

---

[۱۵۷] المومنون: (۷۵)

[۱۵۸] الانبیاء: (۸۴)

[۱۵۹] القلم: (۴۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


که چېرې داسې نه وی چې ده ته د خپل رب مهرباني ورسېدله (نو) دی به خامخا په سپېره میدان کې غورځول شوی و، په داسې حال کې چې دی به مذموم (ملامت کړی شوی) و.

## ۴- امن ورکول،حفاظت کول:

﴿قَالَ هَلْ آمَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَا أَمِنتُكُمْ عَلَىٰ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ۖ فَاللَّهُ خَيْرٌ حَافِظًا ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾[۱۶۰]

هغه وویل: ایا زه تاسو په ده باندې امینان کړم مگر په شان د هغه چې ما تاسو له دې نه مخکې د ده په ورور باندې امینان گرځولي وئ، نو الله ډېر غوره ساتونکی دی او هغه تر ټولو زیات رحمت کوونکی دی.

## ۵ـد نقصان او تاوان نه بچ کیدل:

﴿أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ۚ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ﴾[۱۶۱]

ایا دا هغه کسان دي چې تاسو به قسمونه خوړل چې الله به دوی ته رحمت ونه رسوي (دوی ته ویل شوي دي چې) تاسو جنت ته داخل شئ، پر تاسو باندې هېڅ وېره نشته او نه به تاسو غمجن کیږئ.

## ٦- قران نازلول:

---

[۱۶۰] یوسف: (٦۴)

[۱۶۱] الاعراف: (۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿تَنْزِيلٌ مِنَ الرحمن الرحيم﴾[١٦٢]

(دغه) نازلول د ډېر مهربان، بې حده رحمت کوونکي له جانبه دي.

## ۷ـ ځناور د انسان لپاره تابع کول:

﴿وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾[١٦٣]

او دوی ستاسو درانه بارونه پورته کوي هغه ښار ته چې تاسو هغه ته رسېدونکي نه وئ مگر د ځانونو په مشقت سره، بېشکه ستاسو رب یقینًا ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی.

## ۸ـ د توبه توفیق ورکول او توبه قبلول:

﴿فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرحيم﴾[١٦٤]

نو ادم له خپل رب نه څو کلمې زده کړې، نو د هغه توبه یې قبوله کړه، بېشکه هم هغه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحمت کوونکی دی.

## ۹ـ په اسلام باندې ثابت قدمه ساتل او ددین د احکامو تعلیم ورکول:

[١٦٢] السجدة: (٢)

[١٦٣] النحل: (٧)

[١٦٤] البقرة: (٣٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرحيمُ﴾[١٦٥]

ای زمونږه ربه! مونږ ستا (حکم) منونکي جوړکړه او زمونږه په اولاد کې (هم) يوه ډله ستا حکم منونکې (جوړه کړه) او مونږ ته زمونږ د عبادت طريقې وښَيَه او زمونږه توبه قبوله کړه، يقينًا همدا ته ډېر ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحمت کوونکی يې.

## ۱۰ـ د نفس د شر څخه حفاظت کول:

﴿وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي ۚ إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي ۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾[166]

او زه د خپل ځان تزکيه نه کوم،ځکه د انسان نفس د بدۍ امر کوي،مگر په چا چې الله رحمت وکړ،او بيشکه زما رب ښنونکی مهربانه دی.

## ۱۱ـ سمه لار ښودل او د تورتم نه خلک د رڼا طرفته رايستل:

﴿هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۚ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا﴾[١٦٧]

---

[١٦٥] البقرة: (١٢٨)

[١٦٦] يوسف: (٥٣)

[١٦٧] الاحزاب: (٤٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی همغه ذات دی چې په تاسو ”صلاة“ (شفقت) رالیږي او د هغه ملایك (هم)، د دې لپاره چې هغه تاسو له تیارو نه رڼا ته راوباسي، هغه په مومنانو ډیر رحمت کوونکی دی.

**۱۲۔ دې امت ته د رسول الله ﷺ رالیږل:**

**﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾**[١٦٨]

او مونږ ته نه یې لیږلی مگر د عالمونو لپاره رحمت.

**۱۳۔ د نبي ﷺ د سخت مخالفت نه پس هم ثابت قدم پاتې کیدل:**

**﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُ لَهَمَّتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ أَنْ يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ ۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِنْ شَيْءٍ ۚ وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا﴾**[١٦٩]

که پتا باندې د الله فضل او رحمت نه وی،نو د کافرانو یوې ډلې اراده لرله چې تا گمراه کړي،او دوی صرف خپل ځانونه گمراه کوي،او تاته هیڅ ضرر نشي درکولی،او الله پتا باندې قران او حدیث نازل کړی،او هغه څه یې تاته زده کړي،چې

---

[١٦٨] الانبياء: (١٠٧)

[١٦٩] النساء: (١١٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخکې يې تا سره علم نه وو،او د الله فضل پتا باندې لوی دی.

## ۱۴ـ باران کول:

**﴿وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ ۚ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ﴾**[۱۷۰]

او دی همغه ذات دی چې باران وروي، وروسته له دې چې دوی نا امېده شي. او هغه خپل رحمت خوروي او هم دی ښه کارساز، ښه ستايل شوی دی.

## ۱۵ـ په امن او سلامتۍ سره کشتۍ خپل ځای ته رسول:

**﴿وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا ۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ﴾**[۱۷۱]

او هغه ووېل: په دې کې سواره شئ (او وايئ:) د الله په نامه سره د دې روانېدل او د دې ودرېدل دي، بېشکه زما رب يقينًا ډېر بخښونکی، بې حده رحمت کوونکی دی.

## ۱٦ـ د اختلاف او فرقه واريت ښخه بچ کول:

---

[۱۷۰] الشورى: (۲۸)

[۱۷۱] هود: (۴۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾[172]

مگر هغه څوک چې ستا رب پرې رحمت وکړي.او د دغه (اختلاف او رحمت) لپاره يې دوی پیدا کړي دي او ستا د رب خبره پوره شوې ده چې خامخا هرومرو به زه جهنم له پېریانو او انسانانو ټولو نه ضرور ډکوم.

## ۱۷. په دنیا او اخیرت کې د نیکیو لیکل:

﴿وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ إِنَّا هُدْنَا إِلَيْكَ ۚ قَالَ عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاءُ ۖ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ۚ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ﴾[173]

او ته زمونږ لپاره په دې دنیا کې ښېګڼه ولیکه او په اخرت کې هم، بېشکه مونږه تا ته رجوع کړې ده، وویل (الله:) زه خپل عذاب رسوم چا ته چې وغواړم او زما رحمت هر شي لره راګیر کړی دی، نو ژر به زه ولیکم دا رحمت د هغو کسانو لپاره چې پرهېزګاره دي او زکات ادا کوي او هغه کسان چې هغوی زمونږ په ایتونو ایمان لري.

## ۱۸. د شیطان د تابعدارۍ څخه حفاظت:

---

[172] هود (۱۱۸)

[173] الاعراف: (۱۵٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا﴾[١٧٤]

او کله چې دوی ته د امن، یا وېرې څه خبره راشي، دوی هغه خوره (نشر) کړي۔ او که چېرې دوی هغه رسول ته او خپلو د کار خاوندانو (حاکمانو) ته رسولې وَی، (نو) خامخا په دوی کې به هغو کسانو دا (خبره) معلومه کړې وَی، څوك چې د دې استنباط او راوېستنه کوي۔ او که پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وَی، خامخا تاسو به د شیطان تابعداري کړې وه۔ مګر لږو خلقو (به نه وه کړې)

## ۱۹۔ په عذاب نازلولو کې جلدي نه کول:

﴿قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِنْ رَبِّي ۖ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا﴾[١٧٥]

دغه زما د رب له جانبه یو رحمت دی، نو کله چې زما د رب وعده راشي دا به د ځمکې سره هموار وګرځوي او زما د رب وعده حقه ده.

## ۲۰۔ د عذاب څخه پناه ورکول:

[١٧٤] النساء: (۸۳)

[١٧٥] الکهف: (۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ اللَّهُ وَمَنْ مَعِيَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَنْ يُجِيرُ الْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾**[١٧٦]

(اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: تاسو ما ته خبر راکړئ! که چېرې الله ما او هغه کسان چې زما سره دي، هلاك (او مړه) کړي، يا پر مونږ رحمت وکړي، نو څوك دى چې کافران به له ډېر دردونکي عذاب نه بچ کړي؟

## ۲۱ـ غلطۍ او سهو امت ته معاف کول:

**﴿ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ ۚ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُمْ بِهِ وَلَٰكِنْ مَا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا﴾**[١٧٧]

تاسو دغه (په زامنو بلل شوي) د هغوى پلرونو ته منسوب کړئ۔، دغه (کار) د الله په نېز د انصاف والا دى، نو که تاسو د هغوى پلرونه نه پېژنئ، نو دوى ستاسو ورونه دي په دين کې او ستاسو دوستان دي، او په تاسو هېڅ گناه نشته په هغه شي کې چې تاسو په کې خطا شئ۔ او لېکن (گناه شته د) هغه (کار) چې ستاسو زړونه د هغه قصد (اراده) وکړي او الله له ازله ډېر بخښونکى، بې حده مهربان دى.

---

[١٧٦] الملک: (٢٨)

[١٧٧] الاحزاب: (٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۲۲ـ د ازادو ښځو سره د نکاح د مشکل کیدو په صورت کې د وینځو سره د نکاح اجازت ورکول:

﴿وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا أَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ ۚ بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ ۚ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ۚ وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾[۱۷۸]

او په تاسو کې چې څوك له اصيلو مومنو ښځو سره د نکاح کولو مالي وَس نه لري، نو (نکاح دې وکړي) له هغو مومنو وينځو سره چې تاسو يې مالکان شوي يئ او الله ستاسو په ايمان ښه عالم دی، ستاسو ځينې له ځينو نورو دي، نو د هغو (وينځو) د مالکانو په اجازت سره له هغوی سره نکاح وکړئ او هغوی ته خپل مهرونه د دستور سره سم ورکړئ، (په دې شرط) چې پاك لمنې وي، بدکارې نه وي او نه پټ ياران نيونکې وي، بيا چې کله دوی مړوښې شوي، نو که بدکاري (زنا) يې وکړه، نو په دوی باندې د اصيلو ښځو د سزا نيمايي (سزا) ده، دا (له وينځې سره د نکاح کولو اساني) په تاسو کې د هغه چا لپاره ده

---

[۱۷۸] النساء: (۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د زنا اندېښنه لري او که تاسو (له وينځې سره له نکاح نه) صبر وکړئ (نو دا) تاسو لپاره غوره دي او الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی.

## ۲۳ـ د ګناه څخه د انسان د نفس تزکيه کول:

**﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾**[۱۷۹]

او که پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وی او دا چې بېشکه الله ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحمت کوونکی دی (نو په دنيا کې به ډېر رسوا شوي وی)

## ۲۴ـ د تنګۍ څخه نجات ورکول او پراخي راوستل:

**﴿وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِنْ رَبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُلْ لَهُمْ قَوْلًا مَيْسُورًا﴾**[۱۸۰]

او که چېرې ته له دوی نه اعراض کوې، د خپل رب له جانبه د رحمت د طلب لپاره چې ته يې امېد لرې، نو دوی ته ډېره اسانه خبره وايه.

## ۲۵ـ د قصاص احکام:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ۖ الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَىٰ بِالْأُنْثَىٰ ۚ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ**

[۱۷۹] النور: (۲۰)

[۱۸۰] بني اسرايېل: (۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ۗ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ فَمَنِ اعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾**[181]

اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! پر تاسو باندې د وژل شويو په باره کې (د) قصاص (قانون) فرض کړی شوی دی، ازاد د ازاد په بدل کې، او غلام د غلام په بدل کې، او ښځه د ښځې په بدل کې (قصاصيږي)، پس هغه څوك چې هغه ته د خپل ورور له جانبه د څه شي معافي وکړی شي، نو په ښې طريقې سره مطالبه (لازم) ده، او هغه (د مقتول ولي) ته په ښکې طريقې سره اداکول (لازم) دي، دا ستاسو د رب له جانبه اساني او مهرباني ده، نو له دې نه پس چې چا زياتی وکړ، نو د هغه لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی.

## ۲٦ـ په د صالحينو په صف کې داخلول:

**﴿فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ﴾**[182]

نو دی د دې په خبره (اول) مسکی شو، چې خندا کوونکی و (وريسې د خوشحالۍ په وجه) ويې ويل: اې زما ربه! ته ما ته الهام او توفيق راکړه چې زه ستا د هغو نعمتونو شکر وباسم

---

[181] البقره: (۱۷۸)

[182] النمل: (۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې تا په ما او زما په مور و پلار انعام (او پېرزو) کړي دي او دا چې زه داسې نېك عمل وکړم چې ته یې خوښوې، او ته ما په خپل رحمت سره په خپلو نېکو بنده ګانو کې داخل کړه.

## ۲۷ـ د قیامت د عذاب څخه بچ کول:

﴿وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ ۚ وَمَنْ تَقِ السَّيِّئَاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾[۱۸۳]

او ته دوی له سختیو نه بچ وساته او هغه څوك چې ته یې په دغې ورځ کې له سختیو نه بچ وساتې، نو یقینًا تا په هغه رحمت وکړ او هم دغه ډېره لویه کامیابي ده.

## ۲۸ـ د قیامت په ورځ د مومنانو مخونه رڼا کول:

﴿وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾[۱۸٤]

او پاتې شو هغه کسان چې د هغوی مخونه به تك سپین وي، نو (هغوی) به د الله په مهربانۍ کې وي، دوی به په هغې کې همېشه وي.

## ۲۹ـ شپه د خوب او ارام لپاره او ورځ د کار لپاره خاص کول:

۱۸۳ المومن: (۹)

۱۸٤ ال عمران: (۱۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**﴿وَمِنْ رَحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾**[۱۸۵]

او خاص د خپل رحمت له وجې يې تاسو لپاره شپه او ورځ پيدا کړې ده، د دې لپاره چې تاسو په دغې (شپه) کې ارام وکړئ او د دې لپاره چې تاسو (په دغې ورځ کې) د هغه له فضله (څه) ولټوئ او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ.

داسې نور بيشماره ايتونه شته چې د الله رحمت او نعمت ته پکښې اشاره ده.

بلکې په دنيا کې هر شی د الله د رحمت منظر دی:

الله فرمايي: **﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرحمن الرحيم إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾**[۱۸٦]

او ستاسو حق معبود يو معبود دی، هېڅ لايق د عبادت نشته مګر يوائې هغه دی چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحمت کوونکی دی

---

[۱۸۵] القصص: (۷۳)

[۱۸٦] البقره: (۱٦۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


يقينًا د اسمانونو او د ځمکې په پېدا کولو کې، او د شپې او ورځې په بدلېدو کې، او په هغو بېړيو کې چې په سمندر کې يې هغه څه روان کړي وي چې خلقو ته نفع رسوي، او په هغه څه کې چې الله له اسمان (بره) نه راوروَلي دي، چې اوبه دي، نو په دې سره يې ځمکه د هغې د مَړه کېدو (وچېدو) نه پس ژوندۍ کړه، او په دې کې يې هر قسمه خوځنده (شيان) خواره کړل، او د بادونو په ګرځولو (راګرځولو) کې او په هغې وريځ کې چې د اسمان او ځمکې په مينځ کې مُسَخَّره کړى شوې ده، خامخا د (هغه) قوم لپاره نښې دي چې عقلمند وي.

يعني په دنيا کې هر شی لکه اسمان کې ستوري،ځمکه فرش ګرځول،دشپې تورتم،دورځې رڼا،او شپه د ورځ نه پس راتلل،په سمند کې د غر پشان درنه کشتۍ تلل،د وريځې او بارانونو مختلف اقسام،مختلفې ونې،بوټې،دا ټول د الله د رحمت نشانات دي.

تردې چې د عيسی -عليه السلام- تابعدارنو به پدې فخر کوو چې الله ورله په زړونو کې رحمت اچولی وو او ددوی زړه نرمول د الله له طرفه وو: ﴿ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۖ فَآتَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ﴾[١٨٧]

---

١٨٧ الحديد: (٣٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا مونږ د دوی د قدمونو په اثارو پسې خپل رسولان راولېږل او ورپسې مو راوست عیسیٰ زوی د مریمې او مونږ ده ته انجیل ورکړی و۔ او مونږ د ده د پېروي کوونکو په زړونو کې نرمې او مهرباني کول ایښي وو او رهبانیت چې دغه دوی له ځانه ایجاد کړی و، مونږ په دوی باندې لازم کړی نه و لېکن (دوی غوره کړی و) د الله د رضامندۍ لټولو لپاره، نو دوی د هغه (رهبانیت) رعایت ونه کړ، حق رعایت، نو په دوی کې هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی و؛ مونږ د دوی اجر ورکړ او په دوی کې ډېر زیات فاسقان وو.

ذو القرنین چې کله یاجوج ماجوجو ته دیوال وکړ او خلک یې د هغوی د فتنی نه محفوظ کړل نو بیا یې پخپله اعتراف وکړ چې دا کار ما د الله په رحمت سره وکړ﴿**قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِنْ رَبِّي ۖ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا**﴾[۱۸۸]

دغه زما د رب له جانبه یو رحمت دی، نو کله چې زما د رب وعده راشي دا به د ځمکې سره هموار وگرځوي او زما د رب وعده حقه ده خضر علیه السلام د کشتۍ نه یوه تختۍ رایستله او د غریبانانو کشتۍ یې د خلکو د غصب کولو نه بچ کړه،د یتمانانو خزانه یې بچ کړه او رالیدونکی دیوال یې سم کړ،او پخپله یې اعتراف وکړ چې دا د الله رحمت وو.

[۱۸۸] الکهف: (۹۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ لَهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَنْ يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا﴾[189]

او پاتې شو دېوال ـ، نو هغه د دوه يتيمو هلكانو و، چې په ښاركې وو، او له هغه نه لاندې د هغو دواړو لپاره خزانه وه او د دغو دواړو پلار نېك (سړى) و، نو ستا رب اراده وكړه چې دوى دواړه خپلې ځوانۍ (او قوت) ته ورسي او (بيا) خپله خزانه راوباسي، ستا د رب د مهربانۍ په وجهـ او دغه (كار) ما (له خپله ځانه) په خپل حكم نه دى كړى ـ، دغه حقيقت د هغه څه دى چې تا په هغو د صبر كولو طاقت ونشو كړى.

او خضر عليه السلام ته چې الله كوم علم او حكمت وركړى وو هغه هم د الله رحمت وو:

﴿فَوَجَدَا عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا عِلْمًا﴾[190]

---

[189] الكهف: (٨٢)

[190] الكهف: (٦٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا نو دوی زمونږ په بنده ګانو کې یو بنده وموندە، چې مونږ هغه ته له خپله جانبه رحمت ورکړی و او له خپل جانبه مو هغه ته (خاص) علم ښوولی و.

موسی -علیه السلام- چې کله د خپلې ژبې باره کې الله ته شکایت وکړ چې زما ژبه نخلي او سینه مې تنګیږي نو الله د هغه سره د مدد په طور د هغه ورور هارون ولیږه او دا هم د الله له طرفه رحمت وو:

**﴿وَوَهَبْنَا لَهُ مِنْ رَحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا﴾**[191]

او مونږ ده ته له خپل رحمته د ده ورور هارون ورکړ، چې نبي و

ابراهیم علیه السلام ته الله په خپل رحمت سره بچی ورکه حالانکه هغه بوډا وو او ښځې یې هم شنډه وه:

**﴿قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ ۖ رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ ۚ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ﴾**[192]

هغوی وویل: ایا ته د الله په امر تعجب کوې؟ د الله رحمت او د هغه برکتونه دې په تاسو وي ای اهلِ بیتو، بېشکه هغه (الله) ډېر ستایل شوی، د ډېرې لویې والا دی.

بلکې ټولو انبیاو ته چې څه ورکړی شوی وو د الله په رحمت وو:

---

[191] مریم: (۵۳)

[192] هود: (۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د الله تعالی هغه ملايکې چې عرش يې اوچت کړی هغوی هم د الله د رحمت اميد ساتي:

﴿الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ﴾[۱۹۳]

(له ملايکو څخه) هغه کسان چې عرش اوچتوي او هغه (ملايك) چې د دغه (عرش) ګېر چاپېره دي، دوی د خپل رب د ستاينې سره تسبيح وايي او په ده ايمان لري او د هغو کسانو لپاره مغفرت غواړي چې ايمان يې راوړی دی (او وايي:) ای زمونږه ربه! ته د رحمت په لحاظ سره هر شي ته رسېدلی يې، نو ته هغو کسانو ته بخښنه وکړې چې توبه يې ايستلې ده او ستا د لارې پيروي يې کړې ده او ته دوی د دوزخ له عذاب نه وساته.

دغه شان نور نيک بنده ګان هم د الله د رحمت اميد لري:

﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا﴾[۱۹۴]

دغه خلق چې دوی يې بلي، هغه خلق دي چې خپل رب ته وسيله لټوي چې په دوی کې کوم يو زيات قريب دی، او د هغه د رحمت

---

[۱۹۳] المومن: (۷)

[۱۹۴] بني اسرايېل: (۷۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


امېد لري او د هغه له عذابه وېرېږي، بېشکه ستا د رب عذاب له همېشه داسې دی چې وېره ترې وکړی شي.

## (الملک)

## بادشاه

هغه ذات چې خپل حکم نافذوي،او د بل کوم بادشاه لپاره دا صفت ثابت ندی ځکه هغه د بادشاهانو بادشاه دی(الزجاج)

## (القدوس) پاک

هغه ذات چې د هر عیب او نقصان څخه پاک دی،داسې پاکي چې د انسان د تصور څخه باهر ده(غزالي)

او برکت والا دی(الزجاج)

## (السلام) سلامتي والا ذات

هغه ذات چې ذات یې د عیب څخه او صفات یې د نقصان څخه او افعال یې د بدۍ څخه پاک وي،(الغزالي) او خپل مخلوق باندې ظلم نه کوي بلکې هغوی د ظلم څخه سالم ساتي(البیهقي)

## (المؤمن) امن ورکونکی

هغه ذات چې خلک ترېنه امن او امان طلب کوي،او د هغه نه علاوه د بل چا څخه د امن طمع نه وي(الغزالي)

(c) ketabton.com: The Digital Library


مومن هغه ذات ته وايي چې د خپل وحدانيت تصديق يې کړی لکه فرمايي: ﴿شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾[۱۹۵]

الله گواهي ورکړې ده د دې خبرې چې يقينًا نشته دی هېڅ لايق د عبادت مگر هم دی دی او ملايکو او د علم خاوندانو، (هم) په داسې حال کې چې دی په انصاف سره قايم دی، ـ نشته دی هېڅ لايق د عبادت مگر هم دی دی چې ډېرغالب، ښه حکمت والا دی

دا معنی زجاج کړی ده.

## (المهيمن) غلبه کونکی

هغه ذات چې د خپل مخلوق په زندگۍ،مرگ،عمل،رزق،او اجل وغيره باندې محافظ دی(الغزالي) په اخرت کې د نيک اعمالو په بدله ورکولو باندې نگراني کوي چې چاته هم د عمل کم اجر ميلاو نشي بلکې پوره ورته ورکړی شي يا گناه سزا کم يا زياته ورنکړی شي بلکې د گناه مطابق ورکړی شي(البيهقي)

## (العزيز) غالب او زورور ذات

هغه چې په هر څه باندې غالب دی،تر دې چې هر زورور او عزت والا د هغه مخې ته ذليل او کمزوری دی،ځکه په عزت کې معنی د غلبه

---

[۱۹۵] ال عمران: (۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرته ده لکه الله فرمايي: ﴿إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوا إِنَّا إِلَيْكُمْ مُرْسَلُونَ﴾[۱۹٦]

کله چې مونږ دوی ته دوه پېغمبران ولېږل، نو دوی هغو دواړو ته دروغجن وویل، نو مونږ (دغه) په دریم سره مضبوط کړل، نو دغو (رسولانو) وویل: بېشکه مونږ تاسو ته رسولان (رالېږل شوي) یو.

﴿إِنَّ هَٰذَا أَخِي لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ﴾[۱۹۷]

بېشکه دا زما ورور دی، د ده نهه نوي (یو کم سل) ګډې (مېږې) دي او زما یوه ګډه (مېږه) ده، نو ده وویل: ته ما د دې کفیل (مالك) وګرځوه او په خبرو کې یې په ما غلبه کړې ده.

او عربی کې ویل کیږي(عزني فلان فی الامر) فلانکی ما باندې غالبه شو په دې کار کې(الزجاج)

الله داسې غالب دی چې هغه ته ضرر رسول یا هغه ته رسیدل ناممکن دي،او د هغه طاقت او مخلوق ته رسیدل همیشه قایم دي(البیهقي)

## (الجبار) ملاوونکی

[۱۹٦] یس: (۱۴)

[۱۹۷] ص: (۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ذات چې کمزور او مات زړونه د يو بل سره ميلاووي،دويمه معنی يې زورور ده ځکه جبر د زور په معنی راځي،دربمه معنی يې اوچت دی ځکه د جبر معنی اوچتوالی دی،لکه د کهجورې اوچت بوټي ته (جبارة)وايي[۱۹۸] امام بيهقي د امام خطابي څخه نقل کوي چې جبار هغه ذات چې خپل مخلوق يې مجبور کړي پدې چې امر نهي او اراده يې تسليم کړي او فقيرانو او محتاجو ته يې د معاش اسباب مهيا کړي.

## (المتکبر) د لويې خاوند

هغه ذات چې د هغه مخې ته هر شی حقير دی،داسې لويې چې د هغه د شان سره مناسب ده،(الغزالي) او دې کې (ت) د تخصيص او تفرد لپاره ده يعني تکبر صرف د الله صفت دی د مخلوق لپاره مناسب ندی.

## (الخالق) اندازه کونکی

ځکه د (خلق) اصل معنی (اندازه کول) دي لکه عربي کې ويل کيږي(خلقت الشيء خلقا ا ذا قدرته) يعني تا يو شی اندازه کړ.

۱۹۸ قصيده نونيه لابن القيم (ص۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


او قران کريم کې راځي: ﴿**إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِنْدَ اللَّهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ**﴾[١٩٩]

يقينًا تاسو له الله نه غير د بتانو عبادت کوئ او تاسو دروغ جوړوئ، بېشکه هغه (معبودان) چې تاسو يې له الله نه غير عبادت کوئ، دوی تاسو لپاره د رزق مالکان نه دي، نو تاسو له الله سره رزق ولټوئ او د هغه عبادت کوئ او د هغه شکر وباسئ، تاسو به خاص هغه ته بېرته بيولی کېږئ.

﴿**ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ**﴾[٢٠٠]

بيا مونږ دغه نطفه د وينې ټوټه وګرځوله، ورپسې مونږ دغه د وينې ټوټه د غوښې وړه بوټۍ وګرځوله، ورپسې مونږ دغه بوټۍ هډوکي وګرځوله، بيا مو هډوکو ته غوښه واغوستله، بيا مونږ هغه په بل تخليق کې پيدا کړ، نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پيدا کوونکی دی.

دا قول د زجاج دی.

---

[١٩٩] العنکبوت: (١٧)

[٢٠٠] المومنون: (١٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (الباري) پيدا کونکی

باري هغه ذات چې ايجاد يې کړی يعني دا مخلوق يې د نش نه شته کړی.

## (المصور) شکل ورکونکی

يعني ښايسته ترتيب ورکونکی(الغزالي) هغه ذات چې د مخلوق شکل يې بغير د نقل جوړ کړی يعني د چا څخه يې نقل ندی کړی(الزجاج)

## (الغفار) پټونکی

هغه ذات چې په دنيا کې د انسان په ګناه باندې پرده اچوي او په اخرت کې يې معاف کوي(الغزالي) او دا د (فعال) په وزن د مبالغه صيغه ده(بيهقي)چې معنی يې ده (بار بار ستر ستر ګناهونه معاف کونکی او پټونکی د خلکو د سترګو نه)

## (القهار) زبردست

هغه زبردست دی پدې حيثيت چې په دشمن او سرکش باندې غلبه او قوت لري په مخالفينو باندې په نښو او دلايلو سره برتري لري،او مخلوق ته په مرګ ورکولو سره،او هر موجود مخلوق د هغه د قدرت مخې ته عاجزه دی،او د هغه په قبضه کې دی(الزجاج،الغزالي)

## (الوهاب) ډېر ورکونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني مخلوق ته بغير د کوم عوض نه ورکړه کوي(الزجاج) د مخلوق څخه هيڅ نه غواړي بلکې هغوی ته ورکړه کوي،علامه قاضي محمد سليمان منصور پوري ليکي:وهاب هغه ذات چې دنيا او اخرت کې ورکړه او عطا کوي،او پدې کې اشاره ده چې مخلوق چې د هر يو شي مالک دی دا د الله عطا ده د هغه خپل ملکيت ندی.[٢٠١]

## (الرزاق) رزق ورکونکی

هغه ذات چې هر ژوندي شي ته رزق ورکوي،دهغې اسباب ورته مهيا کوي او ورته رسوي يې،او رزق په دوه قسمه دی،ظاهري رزق لکه قوت او هغه خوراک چې د جسم لپاره په کار راځي،دويم قسم باطني رزق يعني د بنده په زړه کې ايمان او هدايت اچول نو د ظاهري رزق فايده د جسم لپاره ده او د باطني رزق فايده د اخرت لپاره ده،د دواړه قسمونو مالک الله دی او په خپل فضل سره بنده گانو ته دواړه قسمه رزق ورکوي،البته چا لپاره چې وغواړي رزق پراخوي،او چاته چې وغواړي تنگوي يې(الغزالي)او زجاج وايي:د زرق معنی داده چې الله مخلوق ته د هر قسم حلال شي نه د فايدې اغسلتو اجازت ورکړی،الله فرمايي: **((ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَمْلُوكًا لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ**

[٢٠١] په شرح اسماء الحسنی (ص٦٩)کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


**وَمَنْ رَزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ يَسْتَوُونَ ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ))**[۲۰۲]

الله يو مثال بيانوي چې يو مملوك مريى دى چې په هېڅ شي قدرت نه لري او (بل) هغه څوك دى چې مونږ هغه ته له خپل جانبه ښکلى رزق ورکړى دى، نو هغه له ده نه په پټه او ښکاره انفاق کوي، ايا دوى سره برابرېږي؟ ټولې ستاينې خاص د الله لپاره دي، بلکې د دوى زياتره نه پوهېږي.

## (الفتاح) کولاوونکى

يعني فيصله کوي د حق او باطل په مابين کې،حق ښکاره کوي،او باطل ختموي،(الزجاج)او په خپل فضل سره بند شى کولاووي،او د مشکل د حل لاره بندګانو ته ښايې،پيغمبرانو ته يې هم فتح ورکړې:

﴿**بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا**﴾[۲۰۳]

بېشکه مونږ تا ته فتح درکړې ده، ښکاره فتح.

هغه ذات چې د خپلو بندګانو د زړونو نه پرده لرې کوياو کولاووي يې د غيب او د رزق چابيانې د هغه په لاس کې دي،(الغزالي) علامه قاضي محمد سليمان منصور پوري په کې ليکي[۲۰۴]:فتاح هغه ذات

---

[۲۰۲] النحل: (۱۵)

[۲۰۳] فتح: (۱)

[۲۰۴] (ص۷۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د مشکل او مهم کارونو غوټې کولاووي،او زړه د قبلولو لپاره کولاووي،هغه ذات چې په ژبه باندې علمونه جاري کوي،د سترګو پردې لرې کوي،د اهل حق او اهل باطل په مابین کې فیصله کوي،د ریښتینو ریښتیا ښکاره کوي،او د دروغجنو اصلیت څرګندوي،او مومنانو له پکار ده چې د الله څخه ظاهري او باطني فتح طلب کړي.

## (العلیم) علم او پوهه لرونکی ذات

د الله علم کامل دی چې په هر شي باندې پوهه دی،برابره ده که ښکاره شی وي او که پټ،ورکوټی وي او که غټ،مخکې تیر شوی وی یا راروان،مقصد دا چې د الله علم دومره کمال لري چې بل چا لره دا کمال علمي ثابت ندی،(الغزالي) علیم د (فعیل) په وزن د مبالغه صیغه ده،یعني ډیر پوهیدونکی او هر وخت پوهه لرونکی(بیهقي)

## (القابض) تنګونکی (الباسط) پراخې راوستونکی

د ادب تقاضا ده چې دا دواړه نومونه یو ځاي ولیکل شي،ځکه ددواړو په ذکر کولو سره د الله کامل قدرت ښکاره کیږي،مثلا ویل کیږي (فلان قبض امری وبسطه) یعني زما د رزق تنګوالی او پراخوالی د فلانکي په لاس کې دی.

ددې جملې څخه دده مقصد دادی چې زما د ټولو کارونو اختیار د هغه په لاس کې دی،او ددې دواړو صفتونو دجمع کولو مقصد دادی چې د مخلوق ټول کارونه د الله د قدرت لاندې دي(الزجاج)

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني الله هغه ذات دی چې د مرگ په وخت روح قبض کوي،او ژوندي کولو په وخت روحونه د جسم لپاره کولاووي،د خلکو څخه صدقات قبلوي،او د فقيرانو په رزق کې پراخي راولي،کله د خلکو رزق دومره پراخه کړي چې د فقر نوم هم نه پيژني،او کله دومره فقر راولي چې د مالدارۍ درک هم پاتې نشي،الله هغه دی چې خپلو بندگانو باندې حالات تنگوي دې لپاره چې د هغه طرفته رجوع وکړي،او په خپلې مهربانۍ سره د هغوی حالات ښه کوي دې لپاره چې د هغه تقرب حاصل کړي(الغزالي)

**(الخافض) ټيټونکی،(الرافع) اوچتونکی:**

الله هغه ذات دی چې دشمنان ښکته کوي(ذليله کوي) د خپل قرب څخه يې جدا کوي،او بدبخته يې گرځوي،او د خپلو دوستانو شان او مرتبه اوچتوي،په دنيا کې ورله نوم او خبرې اوچتوي او په اخرت کې درجات ورته اوچتوي(الزجاج)

**(المعز) عزت ورکونکی**

دا په درې قسمه دی:

۱ـپه دنيا کې خپلو بندگانو ته خوشحالي،او اوچته مرتبه ورکوي.

۲ـ په خپلو بندگانو باندې حالات سختوي دې لپاره چې امتحان پرې وکړي،حالانکه دوی نيکان وي او درجات يې اوچت وي ليکن دې لپاره چې د صبر په وجه ددوی مرتبه نوره هم بلند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳ـ الله په دنیا کې خپلو دشمنانو ته رزق ورکوي،مال او دولت ورته ورکوي،دوی ته قوت ورکوي چې خلک يې په دنيا کې تابع وي،ليکن په اخرت کې ددوی لپاره دايمي عذاب دی لکه هغه فرمايي:﴿**وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِأَنْفُسِهِمْ ۚ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوا إِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ**﴾[۲۰۵]

اوکافران شوي خلق دې له سره دا گمان ونه کړي چې ببشکه مونږ چې دوی ته مهلت ورکوو، دا دوی د ځانونو لپاره ډېر ښه دی، يقينًا خبره دا ده چې مونږ دوی ته مهلت د دې لپاره ورکوو چې دوی په گناه کې مخ په وړاندې لاړ شي او د دوی لپاره سپکوونکی عذاب دی.

دا د الله قدرت دی چې چاته وغواړي عزت ورکوي(الزجاج)

## (المذل) ذلت ورکونکی

په دنيا کې دشمنانو او ضدي او سرکش کافرانو ته ذلت ورکول،يعني د هغوی ځخه د غلامانو جوړولو حکم يا په هغوی باندې جزيه مقررول:لکه الله فرمايي:﴿**قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ**﴾[۲۰۶]

---

[۲۰۵] ال عمران: (۱۷۸)

[۲۰۶] التوبه: (۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاسو له هغو کسانو سره وجنګېږئ چې نه په الله ایمان راوړي او نه د اخرت په ورځ، او هغه څه ته حرام نه وایي چې الله او د هغه رسول حرام کړي دي او نه دینِ حق قبلوي، له هغو کسانو څخه چې کتاب ورته ورکړی شوی دی، تر دې چې دوی له خپله لاسه په داسې حال کې جزیه ورکړي، چې دوی ذلیل وي.

او په اخرت کې په عذاب ورکولو سره ذلیل کول(الزجاج)

## (السمیع) اوریدونکی

د الله د اوریدو نه هیڅ شی لرې ندی،د میرې اواز وي،یا د بل کوم شي،الله د ټولو اواز اوري،که څوک د هغه تعریف،حمد بیان کړي یا ترې دعا وکړي نو سمدست یې اوري(الغزالی)او (سمع) په معنی د (قبلولو) هم راځي یعني الله دعا قبلونکی ذات دی.

## (البصیر) لیدونکی

هغه ذات چې هر شی ویني،اګر که د خاورو څخه لاندې هم وي(الغزالي)

## (الحکم) حاکم یا فیصله کونکی

د حکم اصل معنی منع کول دي،ځکه حاکم دوه کسان یا دوه ډلې د یو بل سره د جنجال څخه منع کوي،او الله به د قیامت په ورځ د خپلو بندګانو مابین کې فیصله کوي،بل هیڅ فیصله کونکی به نه وي مګر هغه،او کوم خلک چې په دنیا کې فیصلې کوي هغوی هم پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library


باب کی د الله د شریعت څخه استفاده کوي(الزجاج)او الله هغه حاکم دی چې هیڅوک یې د فیصلې مخه نشي نیولی(الغزالي)

## (العدل) انصاف کونکی

هغه ذات چې فیصله،قول،او فعل یې د انصاف په بنا باندې وي(بیهقي)

## (اللطیف) نرمي کونکی

لطف په قول او فعل کې نرمي او مهرباني ته وایي،د الله لطف او مهرباني په هر شي کې شامله ده،الله په خپل لطف او مهربانۍ سره مخلوق ته ښایسته ترکیب او شکلونه ورکړي،نورانیت یې پکښ اچولی دی،هغه په خپل عملي لطف سره پیغمبرانو،اولیاو،علماو،او مجاهدینو ته علمي مرتبې ورکړي،اهل شعور او متقیانو ته یې بصیرت ورکړی،او هغه په خپل باطني لطف سره پاک نیته او قناعت لرونکو خلکو ته پوره حصه او دنیاوي برخه ورکړې ده،هغه د خپل تکویني لطف په وجه شیان د عدم نه وجود ته راوستي دي،هغه د خپل معنوي لطف په وجه نیکانو باندې اثر کړی،هغه د خپل دنیاوي لطف په وجه بادشاهانو او امیرانو ته دنیا او مشري ورکړې ده،هغه په خپل اخروي لطف سره نیکانو ته جنتونه ورکړي[۲۰۷]

## (الخبیر) خبردار

---

۲۰۷ شرح اسماء الحسنی قاضي محمد سلیمان منصور پوري(ص۷۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ذات چې هیڅ شی ترې پټ ندی،د هر حرکت او سکنت پریشانی او اطمینان ځخه واقف دی،او علم او خبرت کې فرق دادی چې علم د ښکاره شیانو او پټو باندې پوهیدلو ته وایي او خبرت صرف په پټو شیانو باندې پوهیدلو ته وایي(الغزالي)

## الحلیم(صبرناک)

هغه ذات چې په عذاب نازولو کې جلدي نه کوي،د کفارو د مخالفت باوجود هغه ته غصه نه ورځي،چې غضب پرې وکړي او زر یې راونیسي،د هغه غصه او غضب هغه لره فورا په انتقام باندې نه اماده کوي(الغزالي)

## (العظیم) د ټولو نه غټ

هغه ذات چې په شان،حکومت،او غلبه کې د ټولو نه غټ دی(الزجاج)

## (الغفور) بخشش کونکی

دا هم د غفار پشان د مبالغه صیغه ده مگر په غفار کې د تکرار معنی پرته ده یعني بار بار گناه معاف کوي،او غفور کې د کمال او تمام معنی پرته ده یعني ټول گناهونه بخي(الغزالي)

## (الشکور) په معمولي محنت باندې ډېر اجر ورکونکی

یعني الله هغه ذات دی چې په معمولي عبادت باندې ډېر اجر ورکوي،او ددنیا په معمولي شان عبادت باندې د اخرت لا محدود

(c) ketabton.com: The Digital Library


نعمتونه بنده ته ورکوي،(الغزالي) کله چې الله د عمل په وجه بدله او ثواب ورکوي نو ځکه ورته شکور ويلی کيږي ګويا کې دا کار هم د شکر په زمره کې راځي(الزجاج)

## (العلي) اوچت

الله هغه ذات دی چې په ټول مخلوق باندې اوچت دی(الزجاج)هغه د وه اسمانونو دپاسه په عرش باندې اوچت دی: ﴿**الرحمن عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَىٰ**﴾[208]

رحمن په عرش باندې برقراره شو.

## (الکبير) د ټولو نه غټ

هغه ذات چې د هغه مخامخ هر شی حقير دی(بيهقي)

## (الحفيظ) حفاظت کونکی

الله هغه ذات دی چې د ټول کاينات حفاظت کوي د تکليف او مصيبت څخه (الغزالي)

## (المقيت) روزي او رزق ورکونکی

الله هغه ذات دی چې پخپله رزق پيدا کوي او بندګانو ته يې رسوي،دومره رزق ورکوي چې هغوی لپاره کافي وي(الغزالي) زجاج

---

[208] طه: (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


وايي:مقيت هغه ذات چې په هر شي باندې قدرت او نظر لري فرمايي:﴿مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ مِنْهَا ۖ وَمَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُنْ لَهُ كِفْلٌ مِنْهَا ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُقِيتًا﴾[٢٠٩]

چا چې سفارش وکړ، ښه سفارش، هغه ته به په دې (سفارش) سره (د ثواب) برخه وي او چا چې سفارش وکړ، بد سفارش (، نو) هغه ته به په دې سره (د گناه) پيټې وي او الله له همېشه په هر شي باندې قدرت لرونکی دی.

قاضي سليمان منصور پوري په شرح اسماء الحسنی[٢١٠]کې ليکي:المقيت هغه ذات چې د انسان بدن ته تقويت ورکوي د هغه روحانيت ته هم تقويت ورکوي،هغه ذات چې نباتاتو،جماداتو،انسانانو،جناتو،ملايکو ته د هغوی د فطرت مطابق رزق ورکوي،د هغوی په بدن کې ترقي پيدا کوي.

## (الحسيب) کافي کيدونکی

هغه ذات چې د هر شي لپاره کافي دی(الغزالي)،يا هغه ذات چې د هر شي د يو يو جزء څخه خبر دی او حساب يې کوي بغير د اندازې نه(بيهقي) يعني د هر شي حساب ورته معلوم وي او دا حساب صرف اټکل او تخمين نه وي بلکې په صحيح معانو سره وي.

---

[٢٠٩] النساء: (٨٥)

[٢١٠] (ص٩٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (الجليل) د عزت او اکرام والا

هغه ذات چې د کمال اوجلال صفات لري لکه بادشاهي،پاکوالی،علم او قدرت وغیره(الغزالي)

## (الكريم) عزت والا او سخي

هغه ذات چې د قدرت باوجود مخلوق ته معافي کوي،همیشه وفا کوي او د امید نه زیاته ورکړه کوي،که څوک تربنه شی وغواړي نو راضي کیږي حالانکه په مخلوق کې دا صفت دی چې څه شی ترې وغواړې نو خفه کیږي،د گناهونو په وجه په دنیا کې سزا نه ورکوي،او څوک چې د هغه طرفته رجوع وکړي نو د هر قسم سفارشیانو او وسیلو څخه یې مستغني او بې پرواه کوي.

## (الرقيب) نگراني کونکی

هغه ذات چې د نظر څخه یې هیڅ شی باهر ندی په هر څه نظر لري(الزجاج)

## (المجيب) دعا قبلونکی

هغه ذات چې د سوال کونکي مدد کوي،اواز کونکي ته جواب ورکوي،د حاجتمند نه صرف حاجت پوره کوي بلکې نور ډیر نعمتونه ورته ورکوي،او دا صرف د الله شان دی چې د بنده حاجت ورته د سوال کولو نه مخکې هم معلوم وي(الغزالي)

## (الواسع) پراخه او کشاده

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ذات چې سخاوت يې هيڅ حد نلري،انسان نشي کولی چی د هغه د سخاوت حد اندازه کړي،هغه ذات چې رحمت او علم يې په هر شي باندې احاطه کړې،او رزق يې د هر چا لپاره کافي دی(بيهقي،قاضي محمد سليمان منصور پوري)

**(الحکيم) حکمت والا**

هغه ذات چې هر شی په بهترين انداز سره پيژني،د هغه ذات او صفات هيڅ هم مثل نلري،څوک نشي کولی چې د الله پوره معرفت وکړي.

**(الودود) دوست او محبت کونکی د خپل مخلوق لپاره خير غوښتونکی**

هغه ذات چې د خپل بنده ګانو د نيکو اعمالو په وجه خوشحاليږي،او د نيک اعمالو په وجه دوی ته خيرونه ورکوي،د خلکو په زړونو کې دده لپاره مينه او محبت اچوي،په خپلو بنده ګانو باندې بې شماره انعامات او احسانات کوي،دې لپاره چې دوی الله خپل دوست وګرځوي او حمدونه يې بيان کړي.

**(المجيد) د ستر شان والا**

هغه چې ذات يې هم اوچت او صفات يې هم،کار يې عمده او بهترين،او انعامات او ذات يې مثال نلري(الغزالي،البوني)

**(الباعث) د مرګ نه پس راژوندی کونکی**

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ذات چې معدوم شي ته وجود ورکوي،انسانان د قبر څخه راپاڅوي،اوده مخلوق د خوب څخه راپاڅوي،غافلان د غفلت نه راپاڅوي،او د مخلوق د هدایت لپاره پیغمبران رالیږي(الزجاج،الغزالي،المنصورپوري)

**(الشهید) ګواه**

هغه ذات چې د هر څه نه خبر او هغې باندې ګواه دی،په هغه شیانو خبر دی چې مخلوق بغیر د لیدو او حاضریدو نه د هغې څخه نشي خبریدلی.

## (الحق) یعني الله په حقیقت کې وجود لري(شته دی)

لکه ویل کېږي (حقیقه الشيء) د یو شي حقیقت،(احقه) یعني (تیقنت کونه ووجوده) زما یقین راغلی چې دا شی موجود دی.

نو د الله لپاره ددې لفظ مطلب دی چې زمونږ یقین دی چې الله حق دی او شته یقینا.(الزجاج)

د (حق) په مقابله کې د (باطل) لفظ استعمالیږي،دې وجې نه د الله نه علاوه هر معبود او د هغه په مقابله کې د هر چا حکم باطل دی.(الغزالي)

## (الوکیل) کار جوړونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ذات چې مخلوق هغه ته ټول کارونه حواله کوي،او د ټولو مخلوقاتو مالک دی،ټول کارونه د هغه په قدرت کې دي او د بل چا هيڅ قدرت نشته(البيهقي)

**(القوي) طاقت ور**

هغه ذات چې طاقت يې مکمل دی،(الزجاج) په هيڅ حال کې کمزوری کيږي نه،او نه عاجزه کيږي(البيهقي)

**(المتين) د مضبوط قوت والا**

هغه ذات چې د قوت او قدرت يې انتها نشته،هغه ذات چې هيڅکله پکښ نقصان او تغير نه راځي(البيهقي)

**(الولي) دوست او مددگار**

هغه ذات چې د خپلو دوستانو مدد کوي،او دشمنان ورله ذليله کوي.

**(الحميد) هغه ذات چې تعريف او ثنا يې بيانيږي**

د هر چا په ژبه باندې د هغه ثنا بيانيږي،(الزجاج)هغه ذات چې د ټولو نه مخکې يې د ځان ثنا او تعريف په خپله کړی دی(الغزالي)

**(المحصي) حساب لگونکی**

هغه ذات چې هيڅ شی ترې ورک ندی،هغه ذات چې د هر شي حد او عدد ورته معلوم دی(الغزالي)

**(المبديء) د ټولو نه مخکې پيدا کونکی**

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ذات چې مخلوقات يې پيدا کړي او ددوی ايجاد يې کړی پدې کې يې د چا څخه نقل ندی کړی(الزجاج،الغزالي)

**(المعيد)هغه ذات چې دويم ځل پيدا کول کوي**

يعني د قيامت په ورځ به د حساب کتاب لپاره مړي راژوندي کړي(الزجاج)

**(المحي) ژوندی کونکی**

هغه ذات چې مخلوق ته يې زندگي ورکړې،يا مړې ځمکې ته ژوند ورکوي راشنه کوي يې،(الزجاج) او مړ زړه ته د دين هدايت کوي او ددېن په رڼا سره يې راژوندی کوي(البيهقي)

**(المميت) مړ کوونکی**

هغه ذات چې مخلوق باندې مرگ راولي،او پدې صفت کې مدح شامله ده ځکه د الله په لاس کې مرگ او ژوند دی د بل چا پدې باندې قدرت نشته نو الله بايد په عبادت سره واحد وگڼرو او مدح يې وکړو،(البيهقي) الله هغه ذات دی چې زندگي او مرگ يې پيدا کړی(الزجاج)

**(الحي) هميشه ژوندی پاتې کيدونکی**

هغه ذات چې مخکې هم ژوندی وو او وس هم او وي به(الزجاج) د هغه زندگي هميشه ده او د مرگ د عيب څخه پاک دی.

**(القيوم) هميشه قايم دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library


هيڅ فنا او زوال پرې نه راځي،او د هغه په قدرت سره ټول مخلوقات ولاړ دي.

## (الواجد)موندونکی

هغه ذات چې هر شی موندہ کوي،هيڅ شی ترې پټيدی نشي،(الغزالي) او په هيڅ شي کې د چا محتاجه ندی(الزجاج)

## (الماجد) عزت والا

الماجد او المجيد دواړه يوه معنی ورکوي(عزت والا) ليکن په (المجيد) کی مبالغه ده يعني ډير عزت والا.

## (الواحد) يو ذات چی هيڅ شريک نلري

هغه ذات چې په ذات او صفاتو کې ځانله دی،نه جزء لري او نه شريک،حالانکه د نورو معبودانو او مخلوقاتو شريکان هم شته په صفاتو او ذواتو کې او اجزاء يې هم شته(الزجاج)

## (الصمد) بې پرواه

هغه ذات چې مخلوق ورته په ټولو حاجتونو کې محتاجه دی،او په ټولو ضروریاتو کې د هغه طرفته رجوع کوي(الغزالي)

## (القادر) قدرت لرونکی

هغه ذات چې بغير د واسطې نه يې حکم نافذ دی،او د خپل حکم په نافذلولو کې هيچا ته محتاج ندی(الزجاج)هغه ذات چې څه وغواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي يې،او چې څه ونه غواړي نه يې کوي،د هيچا زور پرې نشته،او نه يې څوک په کوم کار باندې مجبورولی شي.

## (المقتدر) مکمل قدرت لرونکی

هغه ذات چې د قدرت نه لاندې يې هر شی دی،په هر شي کې خپل طاقت او قدرت ښکاره کوي،او کوم کار چې نه کوي د بې وسۍ او عاجزۍ د وجې نه نه بلکې ددې وجې نه چې کول يې نه غواړي که چيرته وغواړي،نو هرو مرو به يې وکړي،(البيهقي)او په قادر او (مقتدر) کې فرق دادی چې قادر کې حروف کم دي د (مقتدر) په نسبت ځکه پدې کې (ت) او (م) اضافه ده چې دلالت کوي په مبالغه باندې لهذا د مقتدر معنی ده ډير او زيات قدرت لرونکی.

## (المقدم) مخکې کونکی (المؤخر) وروسته کونکی

هغه ذات چې په عزت،شرف،علم،عمل او مال کې خپلو خاصو بنده گانو ته ترقي ورکوي،او دشمنان روسته کوي،په چا چې اراده وکړي چې مخکې يې کړي نو مخکې کوي يې،او په چا چې وغواړي چې وروسته او ناکام يې کړي کوي يې،او پدې هر کار کې د هغه حکمت پروت دی،او الله چې څوک مخکې کړي هميشه لپاره مخکې روان وي او هيڅوک يې نشي وروسته کولی،او هغه چې څوک ورسته کړي نو هميشه لپاره وروستو پاتې وي،(الزجاج،الغزالي،البوني)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (الاول) د ټولو نه مخکې (الاخر) د ټولو نه وروسته پاتې کیدونکی

الله هغه ذات دی چې د ټولو مخلوقاتو د وجود نه مخکې هغه موجود وو،او د هر شي د عدم او نشتوالي نه پس به هم موجود وي،ابن ماجه -رحمه الله- د رسول الله ﷺدا حدیث نقل کړی چې دا دعا به یې لوستله: **((اللَّهُمَّ أَنْتَ الأَوَّلُ فليسَ قَبْلَكَ شيءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فليسَ بَعْدَكَ شيءٌ، شيءٌ))**[٢١١]

ای الله ته د ټولو نه مخکې وې،ستا نه مخکې هیڅ شی نه وو،او ته به د ټولو نه وروسته یې چې بل هیڅ شی به نه وي.

(الزجاج)

## (الظاهر) غالبه

علماو ویلي دي چې د ظهور یوه معنی (غلبه) هم ده لکه عربی کې ویل کیږي(ظهر فلان فوق السطح) فلانکې په چت باندې دپاسه وختله.

او د نبي ﷺدا دعا هم ددې معنی لپاره تایید دی چې فرمایل به یې: **((وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فليسَ فَوْقَكَ شيءٌ، وَأَنْتَ البَاطِنُ فليسَ دُونَكَ شيءٌ))**[٢١٢]

---

[٢١١] مشکوة (ص ٢١١)

[٢١٢] النبوات (٦٣٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ای الله ته اوچت يې ستا څخه بل هيڅ اوچت نشته،او ته پټ يې ستا څخه بل هيڅ شی پټ نشته(الزجاج)

## (الباطن) د ټولو نه پټ

هيڅوک د هغه د ذات معرفت او کيفيت په عقل سره نشي کولی،بلکې د هغه د قدرت نښو ته په کتلو سره د الله معرفت حاصلیږي،(البيهقي)يوه بله معنی هم لري چې په هر پټ شي باندې علم لرونکی ذات لکه ويل کيږي (بطنت فلانا) ما د فلاني باطن او پټ رازونه وپيژندل،دا ځکه چې الله تعالی د ټولو مخلوقاتو ظاهر او باطن پيژني او پرې عالم دی(الزجاج)

## (الوالي) مالک

هغه ذات چې د هر شي مالک دی او په هغې کې د خپل مرضي مطابق تصرف کولی شي،او تدبير يې هم کوي،(الزجاج،البيهقي،المنصورپوري،محمد درويش)

## (المتعالي) ډير زيات اوچت

دا د علو څخه د مبالغه صيغه ده،(الزجاج)او الله تعالی د وه اسمانونو او عرش دپاسه دی لکه دا په قران او حديث سره ثابته ده دې باره کې زمونږ کتاب(توحيد خالص) مطالعه کړئ،الله تعالی د هغه ټولو صفاتو څخه پاک او اوچت دی چې د نقصان تقاضا کوي او مخلوق

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې د هغه طرفته منسوبوي لکه د الله څوي او دا خبره چې ملايکې د الله لورګانې دي(البيهقي)

## (البر) نيکي کوونکی

الله هغه ذات دی چې د ټول مخلوق سره نيکي کوي،خير ورته رسوي،په هغوی باندې د مصيبت راوستلو اراده هيڅکله نه کوي،د ډيرو انسانانو ګناهونه معاف کوي،د نيکي بدله يو په لس ورکوي،د خپلو مقرب او نژدې بنده ګانو سره دوستي او مينه کوي،ټولو مخلوقاتو ته رزق ورکوي،او دهيچا سره د بخل معامله نه کوي(البيهقي)

## (التواب) توبه قبلونکی

کوم انسان چې د خپلو ګناهونو څخه توبه اوباسي او پښيمانه شي،بيا د الله طرفته رجوع وکړي،نو الله هم پخپل رحمت او فضل سره په هغه باندې مهرباني کوي،کومې وعدې چې يې د بنده ګانو سره کړې د هغې نه يې نه محروموي،بلکې ضرور وفا ورسره کوي،او صرف توبه نه قبلوي بلکې د توبه توفيق هم ورکوي لکه فرمايي:﴿**وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّىٰ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرحيم﴾**[۲۱۳]

او په هغو درېو کسانو باندې چې وروسته کړی شوي وو، تر دې چې په دوی باندې ځمکه، سره د هغې له ارت والي تنګه شوه او په دوی باندې خپل ځانونه (هم) تنګ شول او دوی یقین وکړ چې د الله (له عذاب) نه د پناه هېڅ ځای نشته مګر هم ده ته دی، بیا هغه (الله) په دوی مهرباني وکړه، د دې لپاره چې دوی توبه وباسي۔، بېشکه چې الله، هم دی ښه توبه قبلوونکی، بې حده مهربان دی.

## (المنتقم) انتقام اغستونکی

هغه ذات چې د سرکشانو او کافرانو ملا ماتوي او سخت عذاب ورته ورکوي،البته یو ځل ورته مهلت او تخویف ورکوي دې لپاره چې د سوچ او فکر موقع ورته میلاو شي،شاید رجوع وکړي او که رجوع ونکړي نو سخت عذاب ورته ورکوي،(الغزالي)هغه ذات چې هر چا ته د هغه د قوت برداشت مطابق عذاب ورکوي(البیهقي)

## (العفو) معافي کونکی

ګناهونه او بدۍ ورانوي،او دا لفظ د معنی په لحاظ سره د (غفور) څخه ډېره مبالغه لري،ځکه په غفور کې د پټولو معنی پرته ده او پدې

[۲۱۳] التوبه: (۱۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې د ګناه د بالکل ختمولو معنی پرته ده،(الغزالي)لکه عربي کې ویل کیږي (عفا عنه) یعني ترک العقوبة علیه یعني الله تعالی د ګناه باوجود انسان ته معافي کوي او عذاب نه ورکوي(الزجاج)

## (الرؤوف) شفقت کونکی

دا لفظ د رحیم څخه ډیره مبالغه لري ځکه مطلب یې دی ډیر مهربان او رحمت والا(الزجاج) د الله غټه مهرباني داده چې یو انسان په عبادت باندې د وس او استطاعت مطابق مکلف کوي او په چا باندې دومره وزن او پیټی نه باروي چې د اوچتولو طاقت یې نلري،همدا وجه ده چې مسافر لپاره یې د مونځ قصر کولو حکم کړی او مریض ته یې مونځ معاف کړی(البیهقي)

## (مالک الملک) د بادشاهۍ مالک او بادشاه

هغه ذات چې چاته چې څه شی ورکول وغواړي ورکوي یې،او د چا نه چې قوت اغستل وغواړي اخلي یې ترې،د بادشاهانو بادشاه چې ټوله دنیا د هغه په امر او نهي سره چلیږي(الزجاج)څنګه چې وغواړي په خپل ملک کې تصرف کوي،که وغواړي نو معدوم لره موجود کړي او یا موجود لره معدوم کړي(الغزالي)

## (ذوالجلال والاکرام) عزت او جلال والا

د هر قسم جلال او عزت او خیر مستحق صرف الله دی،مخلوق ته عزت یا سخاوت د هغه له طرفه میلاویږي،که یو مخلوق په دنیا کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل سره د سخاوت یا عزت معامله کوي دا هم د الله په توفیق او حکم سره کیږي،د الله سخاوت او فضل په خپل مخلوق باندې بې انتها دی(الغزالي) د الله شان دادی چې مخلوق همیشه د هغه لویې بیان کړي او د هغه څخه همیشه په خوف او ویره کې ووسیږي او د هغه د شان مطابق عزت وکړي ځکه دا په مخلوق باندې د الله حق دی او دا حق د بل چا نشته ځکه الله هیڅ شریک نلري(البیهقي)

## (المقسط) انصاف کونکی

هغه ذات چې د ظالم څخه د مظلوم لپاره قصاص واخلي،په ټولو فیصلو کې د مخلوق سره د انصاف معامله کوي،د هغه د انصاف دلیل دادی چې کله ظالم او مظلوم دواړه راضي کوي،د انس -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې د قیامت په ورځ به الله تعالی د ظالم نیکۍ د مظلوم په کتاب کې واچوي،او مظلوم گناهونه به ظالم ته ورکړی شي،بیا به مظلوم ته د جنت بنگلې او محلونه وښودلی شي او ورته وبه ویل شي ته دا ظالم معاف کړه نو په عوض کې به درته الله دغه بنگلې او جنتونه درکړي،نو مظلوم به ظالم معاف کړي او جنت ته به ظالم او مظلوم دواړه لاړ شي[٢١٤] د انصاف دارنگه معامله صرف د الله ذات کولی شي(الغزالي)

## (الجامع) جمع کونکی

---

[٢١٤] (الدر المنثور ج٣ ص٢٦١

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله هغه ذات دی چې د قیامت په ورځ به مخلوق د حساب،کتاب لپاره راجمع کړي(الزجاج)الله مختلف انسانان په ځمکه کې او په ځمکه او اسمان کې مختلف مخلوقات لکه ستوري،هواګانې،سمندرونه،حیوانات،نباتات،معدنیات د انسان د جسم هډوکي،غوښې وغیره،وینه دا ټول شیان راجمع کونکی دی دارنګه الله متضاد شیان هم راجمع کوي لکه ګرمي،یخني،وچه،لمده وغیره(الغزالي)

## (الغني) بې پرواه

الله د ټولو مخلوقاتو څخه بې پرواه دی،هیڅ حاجت ورته نلري،بلکې مخلوق ټول هغه ته محتاج دی(الزجاج)

## (المغني) بې پرواه کونکی

الله چې په چا باندې اراده وکړي نو رزق ورکوي،مختلف نعمتونه ورکوي،او نورو د سوال څخه یې بې پرواه کوي(الزجاج)

## (المانع) منع کونکی

هغه ذات چې چا څخه د څه شي د منع کولو اراده وکړي نو منع کوي یې،او دهغه منع د حکمت څخه خالي نه وي(الزجاج) هغه اسباب منع کوي او مینځ کې یې حایل ګرځوي چې د دین یا د دنیا د هلاکت سبب ګرځي(الغزالي)

## (الضار) ضرر او نقصان رسونکی (النافع) فایده ورکونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې دواړو نومونو د یو ځاي ذکر کولو مقصد دادی چې مکمل معنی ادا کړی شي،ځکه الله تعالی نفع او نقصان دواړه رسوي او دا د هغه په کامل حکمت او قدرت باندې دلالت کوي،ټول مصیبوته او انعامات د هغه په لاس کې دي،هغه مسبب الاسباب او د مصیبتونو مابین کې حایل جوړیدونکی دی (الزجاج) چا ته چې هم نفع یا نقصان رسیږي د الله په اذن سره وي.

## (النور) رڼا

هغه ذات چې د وحدانیت دلایل یې انتهایی واضحه او روښانه دي(الزجاج) هغه ذات چې هر شي لره ښکاره کونکی دی(الغزالي) ځکه د هغه نه بغیر هیڅ مخلوق نشي کولی چې د یو شي ادراک وکړي یا پرې پوهه شي،که الله د بنده لپاره اساني ونکړي نو خپل مقصد ته هیڅکله رسیدلی نشي،عقل او حواس خمسه(پینځه اندامونه) د الله عطا ده(البیهقي)

## (البدیع)بې مثاله

هغه ذات چې صفات او ذات یې مثل نلري(الغزالي) هغه ذات چې بې مثاله مخلوقات یې پیدا کړي دي،هغه په خپل علم او قدرت سره پیدا کول کوي(البیهقي)

## (الهادي) لاره ښودونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نجات او خپل معرفت لاره ښودونکی،ټولو مخلوقاتو ته د خپل حاجتونو او ضرورتونو د پوره کولو لارې ښايې(البيهقی،الزجاج،الغزالي)

## (الباقي) همیشه پاتې کیدونکی

ټول مخلوقات به ضرور فنا کيږي ليکن الله باندې هيڅ فنا نه راځي(البيهقي)

## (الوارث) حقيقي ميراث اغستونکی

د ټولو مخلوقاتو وارث گرځيدل فنا کيږي لکه بادشاه يا ځامن،يا زميندار چې د بل چا څخه ورته مال او بادشاهي په ميراث کې پاتې شي نو دوی به يو ورځ پخپله هم فنا شي او نور خلک به راځي چې ددوی څخه به ميراث اخلي ليکن الله تعالی حقيقي وارث دی ځکه ځمکه او اسمانونه به زمونږ څخه پاتې کيږي او الله به يې په ميراث کې اخلي(الزجاج،الغزالي،البيهقي)

## (الرشيد) په هدايت باندې تلونکی

يعني په سمه لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


د الله تهول کارونه او احکام په هدایت باندې مبني دي لکه فرمایي:
**﴿إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمْ ۚ مَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾**[٢١٥]

بېشکه ما په الله باندې توکل کړی دی چې زما رب دی او ستاسو رب دی، نشته هېڅ یو خوځنده مگر هم دغه (الله) د هغه وچولي (د تندي وېښتانو) لره نیوونکی دی، بېشکه زما رب په نېغه لار دی.

او دلته (رشید) د (فعیل) صیغه ده چې په معنی د (فاعل) او (مفعل) سره راځي یعني الله راشد هم دی خپله هم په سمه لاره او مرشد هم دی یعني بل ته لاره ښودونکی دی،الله هغه ذات دی چې ټولو مخلوقاتو ته لکه انسانان،جنات،حیوانات،مرغان،او د ځمکې حشراتو ته د زندگۍ د ضروریاتو د حصول لارې ښایې،او مسلمانانو ته د جنت او ثواب د حاصلولو لارې ښایي(الزجاج) دا ټول کارونه الله په خپل علم سره کوي او د هیڅا مشورېې او هدایت یا تجویز ته اړتیا نلري.(الغزالي)

[٢١٥] هود: (٥٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## الصبور:صبر کوونکی

هغه ذات چې گناه گار ته مهلت ورکوي او په عذاب ورکولو کې جلدي نه کوي(البيقهي،الغزالي)

محترم لوستونکو:ددې نه علاوه نور نومونه هم شته چې امام بیهقي -رحمه الله- په خپل کتاب(الاسماء والصفات ص٥٠٦) کې نقل کړي او یو بل کتاب هم شته چې (الموضح للطريق والفسطاط للتحقيق) کې تاسو کتلی شئ د محي الدين البوني کتاب دی،مسلمان بايد ددې نومونو په ذريعه د الله څخه دعا وغواړي او د څه شي باره کې چې دعا کوي د هغې مناسب نوم دې اختیار کړي مثلا که رزق غواړي نو (يا رزاق) دې وايي،که د گناه معافي طلب کوي نو (يا غفار) يا (يا غفور) دی وايي،که هدایت طلب کوي نو (يا هادي) يا (يا رشيد) دې وايي،که چا پرې ظلم کړی وي او انصاف غواړي نو (يا قهار) (يا جبار) (يامقسط) دې وايي،د علم د طلب کولو لپاره دې (يا عليم) وايي،د عزت طلب کولو لپاره دې (يا معز)،د امن طلب کولو لپاره (يا سلام) (يا مومن)،او داسې نور.

**فايده:**په بسم الله کې الله تعالی خپل درې نومونه ذکر کړي:
١ـ الله٢ـ الرحمن ٣ـ الرحيم

چې ددې ترتیب باره کې امام بقاعي -رحمه الله- ليکي:الله يې ځکه مخکې ذکر کړی چې اشاره ده چې ټولو نه مخکې الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخلوقات پيدا کړل ځکه الله په معنی د خالق او ايجاد کونکي او بيا يې رحمن کې اشاره وکړه چې الله په ټولو مخلوقاتو رحمتونه کوي او په رحيم سره يې خپل خاص رحمتونو ته اشاره وکړه او ترغيب يې ورکړ چې د الله خاص بنده جوړ شه چې رحمتونه درباندې وشي.

**فصل:** د هندوانو يوه فرقه چې (اريه) نوميږي ددې مشر (سوامی ديانند) په خپل کتاب(ستيارته پرکاش) کې په اخيري باب کې په قران باندې ډير اعتراضونه کړي دي چې درې اعتراضات زه په لاندې ډول ذکر کوم هغه ليکي:[۲۱۶] **اولنی اعتراض:** دا قران د الله کتاب ندی بلکې د بل چا دی،ځکه که دا د الله کلام وی او واقعي يې د انسانانو دهدايت لپاره راليږلی وو نو داسې به يې نه ويلی چې د الله په نوم شروع وکړئ بلکې داسې به يې ويلی وی چې د انسانانو د هدايت په نوم شروع کوم:

**الجواب:**

۱ـ د قران يوه معنی ده(هغه کتاب چې خلک يې لولي) نو کله چې دا کتاب د لوستلو لپاره نازل شوی دی نو د بنده ګانو لپاره مناسبه ده چې د الله په نوم سره يې شروع کړي.

۲ـ دا اعتراض خو پخپله د (اريه) فرقې په تابعدارو باندې واردیږي ځکه ددوی عقيده ده چې (ويدو) اسماني کتاب دی حالانکه ددې

---

[۲۱۶] په صفحه (۳۹۶) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په شروع کې د (اوم) لفظ دی چې معنی یې (خدا) ده نو ایا ددې شروع د خدای په لفظ سره کیدل دې کتابونو لره ددې باعث گرځي چې اسماني کتابونه تصور نکړی شي؟

**دویم اعتراض:** که الله د قران په ابتدا کې بسم الله ددې لپاره ذکر کړې چې خلک ترې طریقه ازده کړي چې هر کار په بسم الله سره شروع کوي نو دا هم صحیح نده،ځکه ددې نه لازم راځي چې خلک د گناه کارونه هم د الله په نوم سره شروع کړي.

**الجواب:** حقیقت دادی چې الله تعالی د ښو خبرو او ښو کارونو حکم کړی دی ځکه هغه فرمایلي دي:﴿**وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوا ۛ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ**﴾[۲۱۷]

او د الله په لاره کې خرڅ کوئ اوپه خپلو لاسونو هلاکت ته غورځول مه کوئ، او نېکي کوئ، یقینًا الله له نېکي کوونکو سره مینه کوي.

﴿**وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوًّا مُبِينًا**﴾[۲۱۸]

او ته زما بنده گانو ته ووایه چې هغه خبره دې وایي چې هغه تر ټولو ښه وي، بېشکه شیطان د دوی په مینځ کې دښمني اچوي، بېشکه شیطان د انسان لپاره له شروع نه ښکاره دښمن دی.

---

[۲۱۷] البقره: (۱۹۵)

[۲۱۸] بني اسرايیل: (۵۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د بدو کارونو څخه يې منع کړې:

﴿قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ۖ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ۖ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۖ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ ۖ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾[۲۱۹]

ته ووايه: تاسو راشئ چې زه ولولم هغه څه چې ستاسو رب پر تاسو باندې حرام کړي دي، دا چې تاسو له هغه سره هېڅ شی مه شریکوئ او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ، او تاسو خپل اولاد د غریبۍ له وجې مه وژنئ، مونږ تاسو ته روزي درکوو او هغوی ته (هم) او تاسو د بې حیایۍ کارونو ته مه نژدې کېږئ هغه چې په دغو کې ظاهر دي او هغه چې پټ دي او تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مګر په حقه سره دا، (حکم) چې دی، هغه (الله) تاسو ته د دې کلك حکم درکړی دی، د دې لپاره چې تاسو عقل وچلوئ.

﴿لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَا أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتَابِ ۗ مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ وَلَا يَجِدْ لَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا﴾[۲۲۰]

نه ستاسو په ارزوګانو څه کېږي او نه د اهلِ کتابو په ارزوګانو، (بلکې) چا چې هم بد عمل وکړ هغه ته به د دغه (بد عمل) بدله ورکولی شي

[۲۱۹] الانعام: (۱۵۱)

[۲۲۰] النساء: (۱۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هغه به ونه مومي د ځان لپاره له الله نه غير هېڅ كار سازى او نه ځوك مدد كوونكى.

نو بيا دا حكم څرنگه د گناه كار په بسم الله سره شروع كولو باندې صادقيدى شي؟

بلكې ددې څخه خو د الله عظمت راڅرنگنديږي چې ټول د خير كارونه د هغه په نوم سره شروع كولو حكم يې كړى.

۲ـ دلته بسم الله د قران مجيد په شروع كې راغلې ده او دا دليل دى چې پدې سره صرف د خير كارونه شروع كول پكار دي.

**دريم اعتراض:** په بسم الله كې دا خبره ده چې الله رحمت كونكى دى نو كه چيرته د رحمت صفت په حقيقت كې الله كې موجود دى نو بيا يې ولې د ځناورو د ذبح كولو حكم كړى دى حالانكه دا ظلم دى چې انسان يو حيوان لره ذبح كړي او تكليف ورته وركړي؟

**الجواب:۱ـ** دا خبره ياده كړه چې الله تعالى ټول شيان د انسانانو د فايدې لپاره پيدا كړي دي،بعضې د خلكو د خوراک لپاره،بعضې د سورلۍ كولو لپاره،او بعضې د نورو حاجتونو لپاره،لكه هغه فرمايي:

**﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾**[۲۲۱]

[۲۲۱] البقره: (۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې هغه ټول څه پيدا کړل چې په ځمکه کې دي، بيا يې پورته قصد وکړ، نو هغه يې ښه برابر اوه اسمانونه جوړ کړل، او هغه په هر شي ښه عالم دی.

دا د الله فضل دی په خپل مخلوق باندې او د حيواناتو سره ظلم ندی.

**۲**- ډير ځناور پخپله د ژوند تيرولو لپاره د نورو وړو حيواناتو ته ضرورت لري لکه چينجي وغيره خوري او که ويې نه خوري نو د زندگي څخه محرومېږي،نو ايا د غټو حيواناتو د خوراک لپاره د چينجو وغيره وژل ظلم او بې -رحمې ده؟که ته وايي: چی نه نو بيا مونږ وايو چې د انسان د قوت او خوراک لپاره د حيواناتو ذبح کول بلکې د انسان د زندگي او قوت لپاره د حيواناتو ذبح کول بعينه رحمت دی.

**۳**- سوامی پخپله ليکلي دي:غويې،د گاړی،سورلۍ او نورو کارونو لپاره د انسانانو ډير پکار راځي او ددوی لپاره انتهايې مفيد دی[۲۲۲] نو ولې تاسو د غويې،يا خر وغيره باندې کار کولو ته اذيت نه وايي او ددې اجازت ايا بی -رحمي نده؟بلکې تاسو دې ته نعمت وايي،نو مونږ هم وايو چې لکه څنگه چې د حيواناتو استعمالول په کارونو کې بې رحمي نده دغه شان ذبح کول يې هم رواه دي.

---

[۲۲۲] ستيارته پرکاش (ص۲٦٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴۔ د بعضې تکلیف رسونکو ځناورو وژل لکه مار،لیونی سپی،خنزیر،او فصلونو ته نقصان رسونکي ځناورو وژل ایا د سوامي په نزد بې رحمي ده؟

که دا حیوانات ونه وژلی شي نو د خلکو معیشت او زندګي دواړه به تباه شي،نو ددې نه معلومیږي چې د څه حکمت په وجه د ځناورو وژل انصاف دی او بې رحمي نده،او سوامي باید د الله په قدرت او نظام کې سوچ وکړي چې الله د کوم ځناورو د ذبح کولو حکم کړی او د انسانانو لپاره یې حلال کړي هغه په څومره کثرت سره په دنیا کې وجود لري،په زرګونو او لکونو سره حیوانات په یوه علاقه کې ذبح کیږي ایا پدې سره ددې په تعداد کې کمی راغلی دی؟

او ددې باوجود چې اسلام د حیوان د ذبح کولو حکم کړی دارنګه یې حکم کړی چې دغه حیوان ته ایذا او تکلیف ونه رسول شي،چې د ولږي یا تندې څخه یې مړ نکړئ او نه پرې بل قسم ظلم وکړئ بلکې حکم کوي چې د ذبح کولو نه مخکې چاړه ښه تیره کړی شي چې هغې ته تکیف ونه رسیږي.

**الحاصل:** د حکمت او مصلحت په وجه د یو حیوان ذبح کول ظلم او بې رحمي نده بلکې عین رحمت دی،لکه الله تعالی بني اسرایلو ته د غوا ذبح کولو حکم کړی وو چې پدې کې ددوی لپاره ډیرې فایدې وې لکه د قاتل معلومول،الله خپل قدرت ښودل چې څرنګه زه مړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژوندي کوم،او خلکو پدغه وخت کې د غوا عبادت کوو نو خلکو ته د غوا معبودوالی او کمزوالی ښودل چې دا د ځان څخه دفاع نشي کولی.

٦ـ پخپله سوامې لیکي:حکمران ته اجازت دی چې د مصلحت او حکمت په بنا باندې د یو حیوان د وژلو حکم وکړي،لکه هغه وایې:د قوت خاوندانو لپاره جایز ده چې کوم ځناور انسانانو ته تکلیف رسوي چې د وژلو فیصله یې صادره کړي[٢٢٣]

نو دده د خبرې څخه معلومه شوه چې د حکمت د وجې د حیوان وژل جایز دي.

٧ـ پدې باب کې سوامی خپله اعتراض نقل کوي او بیا یې جواب کړی هغه وایي:که څوک اعتراض وکړي چې کوم حیوان لره حاکم ووژني نو ایا غوښه به ورله ضایع کوو؟نو جواب دادی چې د انسان اختیار دی که وغواړي نو سپي ته دې واچوي یا دې هغه حیوان ته ورکړي چې غوښه خور وي یا دې انسان وخوري البته د انسان په طبیعت کې ددې حیوان عادات به راشي چې خلکو ته به تکلیف رسوي (یعنی که دا وژل شوی ځناور موذي وو نو ددغې د غوښې اثر به په انسان باندې وشي)

٢٢٣ ستیارته پرکاش (ص٢٦٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ددې نه ثابته شوه چې سوامی د حیوان د غوښې خوړل د انسان لپاره جایز ګڼري،نو بیا ولې د حلال حیوان ذبح کولو ته بي رحمي وایي؟

## مسایل:

**۱ـ** بسم الله الرحمن الرحیم د سورت توبه نه علاوه د قران د ټولو سورتونو اولنی ایت دی،او ددې دلیل دادی چې نن سبا چې کوم مصحف په دنیا کې موجود دی پدې ترتیب سره دی یعني بسم الله د ټولو سورتونو په ابتدا کې موجود ده د سورت توبه نه علاوه او دا ترتیب نبي ﷺ د الله تعالی څخه ازده کړی وو او بیا صحابه کرامو د رسول الله څخه،او د قران ټولې نسخې د صحابه و او تابعینو د زمانې څخه تر وسه پورې ددنیا په هر ګوټ کې موجودي دي او د هر وړوکي او غټ سورت په ابتدا کې بسم الله شته د سورت توبه نه علاوه،او ددې قطعي دلیل په مقابله کې هیڅ متواتر حدیث ثابت ندی،نه سماع او مشاهده ددې په خلاف ثابته ده،او تر وسه پورې قران کریم د مسلمانانو په سینو کې پدې ترتیب سره محفوظ پروت دی یعني د حافظانو په سینو کې په کوم ترتیب سره چې الله نازل کړی وو یعني د سورت توبه نه علاوه په هر سورت کې بسم الله شته،او هیڅ منصف او پوهه انسان ددې حقیقت څخه انکار نشي کولی نه ددې خلاف ددعوی کولو جرات کولی شي،او بل دلیل د زید بن ثابت -رضي الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


عنه-حديث دى چې ده د ابو بكر -رضي الله عنه-په حكم د قران كريم نسخې چې د مختلفو صحابه كرامو سره وې راجمع كړې او يوه نسخه يې ترې جوړه كړه او بيا چې وروسته څومره نسخې راغلي د هغې مصدر او ماخذ د زيد بن ثابت نسخه وه او مونږ ګورو چې پدغه ټولو نسخو كې د هر سورت په ابتدا كې بسم الله وه نو معلوميږي چې د زيد بن ثابت په نسخه كې هم بسم الله وه چې هغه د رسول الله د شاګردانو څخه راجمع كړې وې او ددې نه څرګنده شوه چې قران په رسول الله باندې هم داسې نازل شوى دى.

امام بيهقي -رحمه الله- د زيد بن ثابت -رضي الله عنه-پدې حديث باندې دا رنګه باب قايم كړى دى:ددې خبرې بيان چې صحابه كرامو چې پخپلو مصحفونو كې كوم الفاظ جمع كړي وو هغه ټول قران دى او د سورت توبه نه علاوه په نورو ټولو سورتونو كې د بسم الله الرحمن الرحيم وجود هم د قران د جملې څخه دى.[٢٢٤]

يو بل دليل د عبدالله بن عباس -رضي الله عنهما- دا حديث دى چې عبدالله بن عباس -رضي الله عنهما-ما فرمايي:چې ما د عثمان -رضي الله عنه-څخه پوښتنه وكړه تا د سورت انفال او سورت توبه په مابين كې بسم الله ولې نه ده ليكلې؟نو هغه وفرمايل:كله چې به د قران كريم څه حصه نازله شوه نو رسول الله ﷺ به مونږ ته حكم كوو

[٢٢٤] په سنن (ج٢ ص٤٠) كې

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې دا په فلانکي ځاي کې کیږدئ،لیکن د سورت انفال او توبه باره کې یې هیڅ راته ونه ویل،او چونکه دا دواړه سورتونو یو مضمون لري(د جهاد باره کې دي) دې وجې نه ددې مابین کې بسم الله نشته گویا کې دا دواړه یو سورت حساب شوی دی.[۲۲۵]

دا حدیث امام ترمذي ورته حسن ویلي دي[۲۲۶]،او امام حاکم -رحمه الله- فرمایي:دا د بخاري او مسلم د شرط مطابق دی،البته امام ذهبي په تلخیص کې ددې خبرې موافقت کړی.[۲۲۷]

ددې حدیث نه ثابته شوه چې د سورت توبه نه علاوه د ټولو سورتونو په ابتدا کې بسم الله لیکل صحابه کرامو د رسول الله په حکم دا کار کړی وو،البته د سورت توبه باره کې یې هیڅ حکم ندی کړی نو صحابه کرامو ددې په شروع کې بسم الله نده لیکلې،او ددې وضاحت او صراحت نه پس د انکار او اعتراض هیڅ گنجایش نشته.

د تفسیر بیضاوي په (۲صفحه) باندې راغلي دي:د علماو پدې خبره اتفاق دی چې په مصحف کې څومره الفاظ دي دا ټول قران دی او ددوی اجماع ده چې بسم الله د سورت توبه نه علاوه د هر سورت په

---

[۲۲۵] په مصنف ابن ابی شیبه،مسند احمد،ابو داود،ترمذي،نسايې،کتاب المصاحف د ابن ابی داود،الناسخ والمنسوخ د ابن النحاس،ابن حبان په صحیح کې،ابو الشیخ،مستدرک د حاکم،دلایل النبوه د بیهقي کې موجود دی:

[۲۲۶] په جامع ترمذي(ج ۲ ص۱۳۵) کی

[۲۲۷] په مستدرک (ج۲ ص۲۲۱) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابتدا کې شته دی حالانکه هغوی ډیره سختي کړې تردې چې په سورت فاتحه کې یې د امین لیکل هم جایز ندي ګنړلي.
ددې دلیل نه دا خبره څرګنده شوه چې دا ایت (بسم الله) د سورت توبه نه علاوه د هر سورت په شروع کې شته،او کله چې دا دلیل امام محمد بن الحسن الشیباني ته پیش کړی شو نو هغه سکوت اختیار کړ.[۲۲۸]
امام نووي -رحمه الله- لیکي:د مصحف باقي ایتونه چې څرنګه لیکل شوي دارنګه بسم الله هم لیکل شوې او ددې په لیکلو باندې د صحابه کرامو اتفاق دی چې دا اتفاق د هغوی د زمانې څخه تر وسه راروان دی،البته پدې خبره یې هم اجماع ده چې د سورت توبه په شروع کې بسم الله لیکل نشته.[۲۲۹]
د امام نووي دا خبره زمونږ د خبرې لپاره تایید دی چې د سورت توبه نه علاوه د نورو ټولو سورتونو په ابتدا کې بسم الله شته او ددې سورتونو ایت دی،او همدا خبره نواب صدیق حسن خان په کې لیکلې ده[۲۳۰]،او امام بیهقي لیکلي دي:بسم الله د سورت توبه نه علاوه د هر سورت ابتدایې ایت دی،او ددې دلیل دادی چې صحابه کرامو په ډیر اهتمام سره قران کریم لیکلی وو،او خاص خیال یې

---

[۲۲۸] تفسیر کبیر للرازي (ج۱ ص۱۹۷)
[۲۲۹] د صحیح مسلم په شرح (ج۱ ص۱۷۲) کې
[۲۳۰] (فتح البیان ج۱ ص۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساتلی وو چې قران کې هیڅ شی د ځانه اضافه نه کړي صرف اجماعي مسایل او ایتونه یې پکښې لیکلي وو د صحابه کرامو څخه نقل دي چې هغوی د سورت توبه نه علاوه د هر سورت په ابتدا کې بسم الله په مصحف کې بغیر د کوم قید او استثنا څخه لیکلې وه نو بیا دا گمان کول انتهایې غلط دي چې صحابه کرامو په قران کې ۱۱۳ ایتونه د ځانه اضافه کړي،کلا وحاشا.[۲۳۱]

ددې مساله د مزید وضاحت لپاره زه دلته یو څو احادیث او اثار ذکر کوم:

**۱**ـ د انس -رضي الله عنه-څخه روایت دی **((بيْنَا رَسولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ ذَاتَ يَومٍ بينْ أَظْهُرِنَا إذْ أَغْفَى إغْفَاءَةً ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُتَبَسِّمًا، فَقُلْنَا: ما أَضْحَكَكَ يا رَسولَ اللهِ، قالَ: أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ فَقَرَأَ: بسْمِ اللهِ الرحمن الرحيم {إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الكَوْثَرَ (١) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وانْحَرْ (٢) إِنَّ شَانِئَكَ هو الأَبْتَرُ} [الكوثر: ١ - ٣]،**[۲۳۲]

چې یوه ورځ مونږ د نبي ﷺسره ناست وو،نو هغه باندې ناڅاپه بې هوشي راغله،او بیا چې رابیدار شو نو مسکی شو،مونږ ترېنه پوښتنه وکړه چې څه شي وخندولې؟هغه وفرمایل:ما باندې وس دا سورت

[۲۳۱] په معرفه السنن والاثار (ج۱ ص ۲۰۲) کې

[۲۳۲] په صحیح مسلم (مع شرح النووي ج۱ ص۱۷۲) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


نازل شو او بیا یې ولوسته چې بسم الله الرحمن الرحیم (انا اعطیناک الکوثر))

ددې روایت نه واضحه شوه چې د هر سورت په شروع کې بسم الله شته او هر سورت د بسم الله سره نازل شوی دی ځکه نبي ﷺد بسم الله په شمول ټولو ایتونو ته د سورت نوم ورکړی دی،امام نووي ددې حدیث په شرح کې لیکي: پدې حدیث کې ډیر فواید دي چې د هغې څخه یو داده چې بسم الله الرحمن الرحیم د قران د سورتونو ابتدایې ایت دی،او امام مسلم دا حدیث ددې مقصد د اثبات لپاره ذکر کړی دی.

**۲ـ** د قتاده -رضي الله عنه-نه روایت دی**((سُئِلَ أَنَسٌ: كيفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبيِّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم؟ فَقالَ: كَانَتْ مَدًّا، ثُمَّ قَرَأَ: {بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم} [الفاتحة: ١]؛ يَمُدُّ بـ{بِسْمِ اللَّهِ}، ويَمُدُّ بـ{الرحمن}، ويَمُدُّ بـ{الرحيم}.**[۲۳۳]

چې نبي ﷺبه د قران تلاوت څرنګه کوو؟نو هغه وفرمایل:نبي ﷺبه الفاظ راښکل یعني مد به یې کوو په بسم الله به یې مد کوو بیا په الرحمن او بیا الرحیم به یې هم اوږد ویله.

ددې حدیث نه معلومه شوه چې بسم الله د هر سورت په ابتدا کې لوستل ضروري دي.

[۲۳۳] په صحیح بخاري(ج۲ ص۷۵۴) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۳ـ** د ام سلمه -رضي الله عنها- څخه روايت دی **((كان يُقَطِّعُ قِراءَتَهُ آيةً آيةً : الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ثُمَّ يَقِفُ : الرحمن الرحيم ثُمَّ يَقِفُ.))**[٢٣٤]

چې نبي ﷺ به قراءت دارنګه کوو چې يو يو ايت به يې جدا جدا لوسته ،بسم الله الرحمن الرحيم به يې جدا لوسته بيا به يې الحمدلله رب العالمين او بيا الرحمن الرحيماو بيا مالک يوم الدين.

دا روايت ابو عبيد،ابن سعد په (طبقات) کې،ابن ابی شيبه،امام احمد په (مسند) کې،ابن خزيمه،دارقطني،مستدرک د امام حاکم او بيهقي وغيره کې نقل کړې[٢٣٥]امام دارقطني فرمايي:دا حديث صحيح دی او راويان يې ټول ثقه دي[٢٣٦]

ددې حديث نه هم په صراحت سره معلومه شوه چې بسم الله د هر سورت ابتدايي ايت دی.

**۴ـ** د ابن عباس -رضي الله عنه- څخه روايت دی **((كان النبيُّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ لا يعرفُ ختمَ السورةِ حتى تنزلَ بِسْمِ اللهِ الرحمن الرحيم))**[٢٣٧]

---

[٢٣٤] په ابو داود(ص٥٥٦) کې

[٢٣٥] الدر المنثور (ج١ ص ٧)

[٢٣٦] سنن دارقطني (ج١ ص٣١٣)

[٢٣٧] ۴ـابو داود (ص ١١٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې نبي ﷺ ته به ددوه سورتونو مابین کې فاصله او فرق نه معلومیده تر څو چې به پرې بسم الله نازله شوې نه وه.

امام حاکم -رحمه الله- دا حدیث پدې الفاظو سره ذکر کړی:یعني نبي ﷺ ته به پته نه لګیده چې دا فلانکی سورت ختم شوی دی تر څو چې به پرې بسم الله نازل شوې نه وي.[۲۳۸]

امام حاکم ددې حدیث باره کې فرمایي:دا د بخاري او مسلم د شرط مطابق دی او امام ذهبي -رحمه الله- په (تلخیص) کې وایي:دا حدیث ثابت دی،حافظ ابن کثیر وایي:دا حدیث د سند په اعتبار سره صحیح دی.[۲۳۹]

ددې احادیثو څخه معلومه شوه چې د سورتونو په شروع کې بسم الله د الله له طرفه نازل شوې ده،او د قران د نزول په وخت پدې ایت سره د سورت ختمیدل معلومیده.

۵ـ د ابن عباس -رضي الله عنه- څخه روایت کوي **((كَانَ الْمُسْلِمُونَ لَا يَعْرِفُونَ انْقِضَاء السُّورَة حَتَّى تَنْزِلَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرحيم فَإِذَا نَزَلَتْ عَلِمُوا أَنَّ السُّورَةَ قَد انْقَضَتْ ))**[۲۴۰]

---

[۲۳۸] په مستدرک (ج۱ ص۲۳۱) کې

[۲۳۹] په تفسیر (ج۱ ص۱۶) کې

[۲۴۰] امام حاکم په مستدرک (ج۱ ص۲۳۲) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې مسلمانانو ته به د یو سورت د ختمیدو پته نه کیده تر څو چې به بسم الله نازله شوې نه وه نو کله چې به بسم الله نازله شوه هغوی به پوهه شو چې سورت ختم شو.

او امام حاکم دې روایت ته صحیح ویلي دي.

٦ـ امام بیهقي[٢٤١] د ابو هریرة -رضي الله عنه-څخه روایت کوي:

**((كان يقول الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العالمين سَبْعُ آيَاتٍ إِحْدَاهُنّ هِي بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ وَهِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ وَهِيَ أُمّ الْقُرْآنِ وَهِيَ فَاتِحَةُ الْكِتَابِ))**

نبي ﷺ به سورت فاتحه لوستله چې وه ایته لري اولنی ایت یې بسم الله الرحمن الرحیم دی او دا هغه سورت دی چې الله ورته (سبع مثاني) ویلی او ام القران(د قران مور) ورته وایي او فاتحه الکتاب هم ددې د نومونو څخه دی.

په سنن د امام بیهقي کې د ابو هریرة -رضي الله عنه-څخه یو بل روایت نقل دی چې نبي صلی اللله علیه وسلم فرمایي: **((إِذَا قَرَأْتُمْ الحمدلله فاقرؤوا بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرحيم أَنَّهَا أُمُّ الْقُرْآنِ وَأُم الْكِتَابِ وَالسَّبْع الْمَثَانِي وَبِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرحيم إِحْدَاهَا))**

کله چې تاسو الحمدلله یعني سورت فاتحه لولئ نو بسم الله الرحمن الرحیم یې په ابتدا کې وایئ،ځکه دې سورت ته ام القران،سبع

[٢٤١] په (سنن ج٢ ص٤٥) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


المثاني،او ام الکتاب وايي او بسم الله ددې د ايتونو څخه يو ايت دی.

امام بيهقي ددې حديث د ذکر کولو نه پس ليکي: چې دا حديث دوه سنده لري يو دا چې نوح بن ابی بلال دا د ابو هريرة څخه موقوفا روايت کړی يعني دا د ابو هريرة خپله خبره ده او بل سند دا چې دا يې د ابو هريرة څخه مرفوعا روايت کړی يعني د نبي ﷺقول ليکن دا علت سبب د اضطراب او حديث ددې د وجې نه ضعيف نه ګرځي ځکه نوح بن ابی بلال ثقه راوي دی او ثقه راوي کله يو حديث موقوفا ذکر کوي او کله مرفوعا چې دا د حديث د کمزوري سبب نه ګرځي.

دويم دا چې که فرض کړو چې دا حديث موقوف دی نو بيا هم د مرفوع حکمي په حکم کې داخليږي يعني کله چې صحابي داسې خبره وکړي چې د اجتهاد ګنجايش پکښ نه وي نو دده قول به مرفوع حديث تصور کيږي ګويا کې ده د نبي ﷺڅخه اوريدلي دي.

حافظ ابن حجر فرمايي:اګر که نوح دا حديث موقوفا بيان کړی دی ليکن دا د مرفوع حديث په حکم کې دی يعني د نبي ﷺفيصله ده ځکه صحابي نشي کولی چې د خپل طرفنه د قران د ايتونو تعيين وکړي.[٢٤٢]

---

[٢٤٢] په تلخيص الحبير (ج١ ص ٢٣٣) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې نه علاوه نور بيشماره روايات شته چې ددې لپاره تاسو دارقطني،بيهقي،مستدرک،الدر المنثور،وغيره کتابونه کتلی شئ،او امام بيهقي -رحمه الله- دې باره کې د ابن عباس،علي بن ابي طالب،ابو هريرة څخه دا قسم اثار نقل کړي.

حافظ ابن کثير -رحمه الله- په تفسير ابن کثير(ج۱ ص ۱٦) کې فرمايي:ددې مذکوره ټولو علماو څخه ثابت دي چې بسم الله د سورت توبه نه علاوه د ټولو سورتونو ابتدايې ايت دی.

علامه ابو الخير جزري په کتاب(النشر فی القراءة العشر ج۱ ص۲٦۲) کې ليکي:ټولو قاريانو د سورت فاتحه نه علاوه د هر سورت ابتدا په بسم الله سره کړې،پدې کې هيڅ اختلاف نشته،او کوم علما چې وايي بسم الله الرحمن الرحيم د هر سورت ابتدايې ايت ندی د هغوی سره هيڅ قوي دليل نشته چې ددې دلايل مقابله وکولی شي.

د مصر مشهور عالم علامه احمد شاکر -رحمه الله- ليکي:کوم علما چې په مونځ کې د سورت فاتحه لوستل د بسم الله نه بغير جايز ګڼړي ددوی سره هيڅ دليل نشته او د کومو احاديثو څخه چې دوی استدلال کوي هغه خو يا ضعيف دي او يا صريح ندي،حالانکه پدې باندې د ټولو قاريانو اتفاق دی چې بسم الله د سورت فاتحه اولنی ايت دی او مصحف هم پدې ترتيب سره ليکلی شوی دی.[۲٤۳]

[۲٤۳] د المحلی (ج۲ ص۲۵۲) په حاشيه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وس زه دلته د هغه علماو دلایل ذکر کوم چې وایي:بسم الله د هر سورت اولنی ایت ندی دې لپاره چې په پورته توگه حقیقت تاسو ته معلوم شي:

۱ـ قدسي حدیث کې راځي چې الله فرمایي((ما مونځ تقسیم کړی دی خپل مابین او زما د بنده مابین کې کله چې هغه الحمدلله ووایي زه وایم نو زما بنده زما تعریف وکړ))

نو دې حدیث کې خو د بسم الله ذکر نشته.

**الجواب:**ددې روایت تعلق د بسم الله لوستلو یا نه لوستلو سره ندی بلکې دې کې د سورت فاتحه د ایتونو فضیلت دی لهذا پدې کې د بسم الله نه ذکر کیدل ددوی د استدلال لپاره دلیل نشي گرځیدی.

**۲ـ** چونکه ټولو صحابه و ته معلومه وه چې د سورت توبه نه علاوه د ټولو سورتونو په ابتدا کې بسم الله شته نو نبي ﷺ ته ددې وضاحت ضرورت رانغلی چې د سورت فاتحه په شروع کې د بسم الله ذکر وکړي.

**۳ـ** دا هم احتمال شته چې الله تعالی د بسم الله جواب بنده ته نه ورکوي او د باقي ایتونو جواب ورکوي دې وجې نه یې بسم الله نده ذکر کړې.

**۴ـ**دې حدیث کې راځي کله چې بنده الحمدلله وایي نو دې کې یو احتمال دا هم شته چې هغه د بسم الله نه شروع وکړي او د الحمدلله

(c) ketabton.com: The Digital Library


پورې ایتونه ولولي نو الله ورته جواب ورکوي او امام نووي -رحمه الله- په شرح مسلم [٢٤٤]کې یوه قاعده ذکر کوي کله چې احتمال راشي نو د دلیل څخه استدلال کول جایز نه وي.

**٥-** دا روایت صریح ندی او کوم احادیث چې مونږ ذکر کړل هغه صریح دي پدې باب کې او صریح په غیر صریح باندې مقدم وي لکه امام رازي دا دلایل ذکر کړي.[٢٤٥]

**٦-** د سورت فاتحه په مینځ کې (الرحمن الرحیم) راغلی دی چې دا د بسم الله الرحمن الرحیم قایم مقام دی همدا وجه ده چې بسم الله یې په شروع کې نده ذکر کړې لکه دا خبره ابن سید الناس په شرح د ترمذي [٢٤٦]کې ذکر کړې ده.

بعضې خلک دارنګه استدلال کوي چې دي حدیث کې راځي اهدنا الصراط المستقیم صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فهولا لعبدي

نو دلته یې هولا لفظ استعمال کړی چې اشاره ده درې ایتونو ته اولنی ایت اهدنا الصراط او دویم ایت غیر المغضوب علیهم او دریم

---

[٢٤٤] (ج١ ص١٧٠)

[٢٤٥] په تفسیر کبیر (ج ١ ص ٢٠١) کې

[٢٤٦] (ج ١ ص ١٩٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولا الضالين ځکه چې هولا د جمع لپاره راځی او د جمع کم از کم عدد درې وي

لهذا معلومه شوه چې ددې درې ایتونو نه مخکې د بسم الله نه علاوه څلور نور ایتونه تیر شوی دي نو ټول ایتونه وه شول او بسم الله ددې څخه خارج شوه.

**الجواب:** دا استدلال ډیر کمزوری دی ځکه په د هولا نه مراد ایتونه ندي بلکې الفاظ دی د سورت فاتحه او په یو روایت کې د هولا په ځاي هذا لعبدي راغلی نو که ایتونه مراد وی به هذا سره ورته اشاره نه وی بلکې دلته صرف کلام مراد دی چې څوک دا کلام ووایي نو دا د هغه لپاره شو او دا خبره امام نووی د مسلم په ش-رحمه الله-[247] کې کړی ده.

بل دا چې ابو هريرة -رضي الله عنه-خپله ددې حديث راوي دی هغه به د سورت فاتحه په شروع کې بسم الله ويله او راوي د خپل حديث باره کې ښه پوهیږي.

۲ـ دويم دليل دا پيش کوي چې حديث کې راغلي دي د سورت ملک (۳۰) ایتونه دي حالانکه د بسم الله په شمول د سورت ملک (۳۱) ایتونه جوړیږي نو ددې نه معلومه شوه چې بسم الله د سورت ايت نه وي.

---

[247] (ج۱ ص ۱۷۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


الجواب:د صریح احادیثو په خلاف دې حدیث لره هیڅ اعتبار نشته ځکه پدې کې دا صراحت نشته چې بسم الله د سورت ملک ایت ندی.

۲ـ ځکه ټولو صحابه و ته معلومه وه چې بسم الله د هر سورت ابتدایې ایت دی،دې وجې نه نبي ﷺدا د سورت ملک په ایتونو کې شمار نه کړ.

ددې نه علاوه نور هم دلایل شته چې مخالفین یې ذکر کوي لکه هغه احادیث چې د بسم الله د پټ لوستلو باره کې حکم پکښ دی چې ددې جواب به زه په خپل مقام کې ذکر کړم.

علامه بن خالویه لیکي:د ابو عمرو او حمزة نه علاوه باقي پینځه قاریان چې د وه مشهورو قاریانو څخه دي،هغوی ټول په دې خبره متفق دي چې بسم الله د سورت توبه نه علاوه د ټولو سورتونو ابتدایې ایت دی.[۲۴۸]

علامه احمد شاکر فرمایي[۲۴۹]:د کومو قاریانو څخه چې د بسم الله عدم اثبات نقل دی د هغوی څخه به بل روایت کې خامخا اثبات هم نقل دی او د یو کس څخه هم داسې روایت نقل نشته چې بسم الله پکښ د سورت ابتدایې ایت نه ګڼړي.

---

[۲۴۸] په کتاب(اعراب ثلاثین سورة من القران الکریم ص ۱۵) کې

[۲۴۹] په حاشیه د (المحلی ج۲ ص ۲۵۱) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه په (ج۳ ص ۲۵۲) کې فرمايي:حق خبره داده چې د وه يا لسو قاريانو څخه چې د چا څخه کوم سورت د بسم الله نه بغير ثابت دی نو دا قراءت شاذ دی صحيح ندی،ځکه د قراءت د صحت لپاره شرط دادی چې د مصحف د قراءت مطابق به وي،او دا خبره معلومه ده چې د سورت توبه نه علاوه په مصحف کې د ټولو سورتونو په ابتدا کې بسم الله شته،او دا ويل چې بسم الله ددې سورتونو ايت ندی نو ددې څخه لازمه راځي چې صحابه کرامو د (۱۱۳) سورتونو په ابتدا کې د ځانه يو ايت اضافه کړی حالانکه دا د هغوی د شان مطابق نه وه،او که مونږ چيرته دارنگه شکوک او شبهات د خلکو په ذهن کې واچوو نو د اسلام ددشمنانو،ملحدينو لپاره به دروازه کولاو شي چې اعتراض وکړي،حالانکه صحابه کرامو خو به انتهايي احتياط کوو چې په قران کې د شک او وهم والا خبره د ځانه اضافه نکړي،دې وجې نه يې په قران کې د سورتونو نومونه او د فاتحه په اخير کې امين نه وو ليکلی،پخپله عمر -رضي الله عنه-يو ورځ په منبر باندې خلکو ته وضاحت وکړ چې د رجم باره کې ايت په قران کې نازل شوی وو البته بيا وروسته منسوخ شو نو که خلکو شک نه کولی چې ما د ځانه په قران کې اضافه کړی نو با به ضرور اضافه کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالحي لکهنوي فرمايي:د محمد بن الحسن الشيباني څخه پوښتنه وشوه چې ايا بسم الله د قران ايت دی؟ هغه وفرمايل:هو د مصحف داخل کې چې څومره ايتونه دي دا ټول د الله کلام دی.[٢٥٠]

**دویمه مساله:** دا خبره ثابته شوه چې د سورت توبه نه علاوه د ټولو سورتونو په ابتدا کې بسم الله يو ايت دی او مخکې دا خبره تيره شوه چې سورت فاتحه نه بغير مونځ نه کيږي لهذا که څوک سورت فاتحه ولولي او بسم الله پکښ ونه لولي نه مونځ يې نه کيږي ځکه ده پوره سورته فاتحه ونه لوسته بلکې بعضې ايتونه يې ولوستل.

**دريمه مساله:** کله چې دا خبره ثابته شوه چې بسم الله د سورت فاتحه يو ايت دی نو بيا په جهري مونځ کې پدې باندې جهر کول هم ضروري دي ځکه که نور ايتونه په جهر سره لوستل ضروري دي نو بسم الله هم ددې ايتونو څخه دی او د جهر د حکم څخه يې مستثنی کول صحيح ندي،او دويم نمبر روايت کې تير شو چې عائشة -رضي الله عنها- فرمايل:نبي ﷺ د سورت فاتحه لوستلو په وخت بسم الله ولوسته او اواز يې پرې اوچت کړ،او عائشة -رضي الله عنها- ته ددې د لوستلو پته هله ولگيده چې نبي ﷺ په زوره ولوسته که په خفيه يې ويله وی نو هغې ته به پته نه وی لگيدلی.

[٢٥٠] په (احكام القنطرة) ،المجموع (ص ٢٢٠) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه شان درېم نمبر روايت کې هم صحابه کرام وايي چې نبي ﷺ به د سورت فاتحه ابتدا د بسم الله څخه کوله نو هغوی ته ځنګه پته ولګېده چې بسم الله به يې لوسته ځکه چې هغه به قراءت په جهر سره کوو.

حافظ ابن عبدالبر په (الانصاف) کې فرمايي:د ام سلمة -رضي الله عنها- په حديث کې دليل دی چې بسم الله د سورت فاتحه څخه يو ايت دی او نبي ﷺ به دا په جهر سره لوسته.

ددې نه علاوه نور هم ډېر احاديث شته چې دلالت کوي پدې چې بسم الله بايد په جهري مونځ کې په جهر سره ولوستی شي،او دا احاديث ډېر زيات دي،همدا وجه ده چې جلال الدين السيوطي دې احاديثو باندې د تواتر حکم لګولی،هغه ليکلي[٢٥١]:په بسم الله باندې د جهر حوالې سره تقريبا د ١٨ صحابه کرامو څخه روايت نقل دی او زه دلته بعضې روايات ذکر کوم:

١ـ نعيم المجمر وايي: **((صلَّيتُ وراءَ أبي هُرَيْرةَ فقرأ : بِسْمِ اللَّهِ الرحيم الرحيم ، ثمَّ قرأ بأمِّ القرآنِ حتَّى إذا بلغَ غَيْرِ المَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ فقالَ : آمينَ . فقالَ النَّاسُ : آمينَ ويقولُ : كلَّما سجدَ اللَّهِ أَكْبر ، وإذا قامَ منَ الجلوسِ في الاثنتَينِ قالَ : اللَّهُ أَكْبر ، وإذا سلَّمَ**

[٢٥١] په خپل کتاب الازهار المتناثرة في الاحاديث المتواترة (ص ١٦) حديث نمبر (٣١) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


**قالَ : والَّذي نفسي بيدِهِ إنيِّ لأشبَهُكم صلاةً برسولِ اللَّهِ - صلَّى اللَّهُ عليهِ وعلَى آلِهِ وسلَّم))**[252]

ما د ابو هريرة -رضي الله عنه- شاته مونځ وکړ نو هغه بسم الله ولوسته او بيا يې سورت فاتحه ولوسته تر دې چې (ولا الضالين) ته ورسيده او بيا يې امين ولوسته کله چې به يې سجده کوله الله اکبر به يې ويله يا به دريم رکعت ته يې د پاڅيدو اراده وکړه نو الله اکبر به يې ويله کله چې يې سلام وګرځوو نو ويې فرمايل:زما مونځ پتاسو ټولو کې د رسول الله د مونځ سره ډير مشابهت لري.

زيلعي -رحمه الله- ليکي:دا حديث ابن خزيمة په صحيح کې او امام حاکم په مستدرک کې نقل کړی او وايي چې دا په بخاري او مسلم کې نشته البته د هغوی د شرط مطابق دی،او دارقطني په سنن کې ذکر کړی او وايي چې دا حديث صحيح دی او راويان يې ټول ثقه دي،او بيقهي په سنن کې روايت کړی او وايي چې سند يې صحيح دی او شواهد لري،او بيهقي -رحمه الله- پخپل کتاب(الخلافيات) فرمايي:ددې راويان ټول ثقه دي او ددوی په عدالت باندې اجماع ده او د بخاري او مسلم راويان دي.[253]

[252] امام نسايې په خپل کتاب (ص ۹۱)کې روايت نقل کوي

[253] په نصب الراية (ج ۲ ص ۳۳۵) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


حافظ ابن سيد الناس فرمايي:دا حديث صحيح دی او خطيب بغدادي هم ورته صحيح ويلي دي او وايي:چې دې کې هيڅ علت او بيماري نشته،همدارنگه حافظ ابن عبدالبر په الانصاف کې ورته صحيح ويلي دي او کوم خلک چې د هغې حديث نه استدلال کوي چې الله فرمايي:ما مونځ خپل او بنده ما بين کې تقسيم کړی پدوی يې رد کړی او و ايې: چې دا حديث ددغې سره معارض دی.[٢٥٤]

علامه قاسم بن قطلوبغا حنفي ديته صحيح ويلي دي.[٢٥٥]

او دا حديث ډير واضح دی ځکه ابو هريرة خلکو ته امامت ورکړ او بسم الله يې په جهر ولوسته ځکه خو نعيم المجمر ته پته ولگيده چې بسم الله يې ولوسته او بيا ابو هريرة -رضي الله عنه-ددې خبری وضاحت هم وکړ چې زما مونځ د رسول الله د مونځ پشان دی.

امام ابن حبان په خپل صحيح کې پدې حديث دا باب قايم کړی:د امام لپاره مستحب دي چې د سورت فاتحه د لوستلو په ابتدا کې په بسم الله باندې جهر وکړي.

امام ابن خزيمة هم په بسم الله باندې د جهر کولو لپاره ددې حديث څخه استدلال کړی.[٢٥٦]

[٢٥٤] په شرح الترمذي (ج ١ ص ١٨٧) کې

[٢٥٥] په تخريج احاديث اصول البزدوي (ص ١٧٧) کې

[٢٥٦] (ج١ ص ١٢٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


حافظ ابن حجر ليکي:پدې حديث باندې امام نسايې باب قايم کړی چې بسم الله په جهر سره لوستل مستحب دي او پدې باب کې دا د ټولو نه صحيح حديث دی البته مخالفين وايي:دا احتمال لري چې دا ابو هريرة ددې خبرې مقصد چې زما مونځ د رسول الله د مونځ پشان دی د هغه مقصد د مونځ بعضې اجزاء وي ټول مونځ نه وي ليکن جواب دادی چې نعيم ثقه راوي دی او زيادت يې قبول دی او حديث ظاهر دی د مونځ د ټولو اجزاءو باره کې لهذا ددې څخه تخصيص کول بغير ددليل څخه جايز ندي.[٢٥٧]

امام نووي فرمايي: ابن خزيمة په خپل صحيح کې فرمايي:په مونځ کې په بسم الله باندې جهر کول د رسول الله نه ثابت دي په صحيح سند چې علما ددې د سند په صحت کې هيڅ شک نه کوي او ددې نه واضحه معلوميږي چې نبي ﷺ به په بسم الله باندې جهر کوو.[٢٥٨]

حافظ ابن عبدالبر په الانصاف کې فرمايي:د ابو هريرة -رضي الله عنه-د حديث لپاره دا هم تايېد دی چې د هغه څخه ثابته ده چې خپله به يې هم په بسم الله باندې جهر کوو لکه د علاء بن عبدالرحمن چې د خپل پلار نه روايت کوي هغه د ابو هريرة نه چې

[٢٥٧] په فتح الباري (ج١ ص ٢٦٧) کې

[٢٥٨] په شرح المهذب (ج ٣ ص ٢۴۴) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺبه كله مونځ شروع كوو نو په شروع كې به يې په جهر سره بسم الله لوستله.

ابن عبدالبر فرمايي: دا حديث د ابو هريرة د سابقه حديث تاييد دی چې د نعيم المجمر څخه روايت دی او ددې حديث راوي اسماعيل بن ابي ادرېس ددې حديث په روايت كولو كې ځانله ندی بلكې نور روايان هم ورسره ملګري دي.

او دا حديث په دارقطني كې پدې الفاظو سره موجود دی:

كله چې به نبي ﷺخلكو ته مونځ وركوو نو قراءت به يې د بسم الله څخه شروع كوو.

ابن سيد الناس ليكلي دي:امام دارقطني فرمايي:ددې حديث ټول راويان ثقه او معتبر دي.[٢٥٩]

په صحيح مسلم كې[٢٦٠] دا حديث د ابوهريرة څخه په درې سندونو سره نقل دی چې هغه فرمايي:په هر مونځ كې قراءت كول ضروري دي،نو كوم مونځ كې چې رسول الله په جهر سره قراءت كړی دی زه يې هم په جهر سره ستاسو مخامخ كوم،او كوم مونځ كې يې په خفيه سره كړی زه يې هم خفيه كوم.

---

[٢٥٩] په شرح د ترمذي (ج ٣ ص ١٨٨) كې

[٢٦٠] صحيح مسلم (مع شرح النووي ج١ ص١٧٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې روايت نه معلوميږي چې ابو هريرة به په جهري او خفيه دواړو قراءتونو کې د رسول الله موافقت کوو،او دا خبره ثابته ده چې ابو هريرة به په مونځ کې په بسم الله باندې جهر کوو نو خپله سوچ وکړه چې هغې دا عمل د سنت خلاف نه کوو بلکې دا يې د رسول الله د تابعداري په وجه کوو،په صحيح بخاري [٢٦١]کې راځي: ابو هريرة -رضي الله عنه-فرمايي:رسول الله به چې مونځ ته ودرېده نو د سورت فاتحه نه مخکې به لږ شانته غلی ولاړ وو نو ما ترې پوښتنه وکړه زما مور او پلار ستا څخه قربان ته پدې حالت کې څه شی لولې؟ هغه وفرمايل: زه دا دعا لولم :ای الله زما او زما د ګناهونو مابين کې دومره فاصله راولې لکه د مشرق او مغرب مابين کې چې څومره فاصله ده. دا حديث زمونږ او د مخالفينو په مابين کې فيصله کونکی دی،ځکه مونږ د هغو څخه پوښتنه کوو چې ايا بسم الله په قراءت کې داخله ده او که نه؟که چيرته په قراءت کې داخل وي نو سنت داده چې په جهر سره ولوستل شي،او که داخل نه وي،نو بيا به ابو هريرة نه د رسول الله نه اوريدلی وی او نه به پرې هغه جهر کړی وی يعني دا به وواېو چې دسره يې بسم الله ويلې نده نه په خفيه سره او نه په جهر سره ځکه کومه دعا چې رسول الله د فاتحه نه مخکې کړی هغې کې د بسم الله ذکر نشته.

---

[٢٦١] (ج١ ص ١٠٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو زه خپل مخالف ته وايم چې يا خو يې په جهر سره لوله او که نه وي نو بيا يې په خفيه هم مه وايه ځکه دې روايت کې يوه خفيه دعا ده چې هغې کې بسم الله نشته او ددې نه پس جهري قراءت شروع کيږي لهذا د بسم الله خفيه ويل پدې حديث باندې عمل ترک کول دي.

زه وايم:د ابو هريرة -رضي الله عنه-د مرفوع حديث او عمل څخه تاسو ته دا مساله د نمر څخه هم ډيره روښانه شوه او د نعيم المجمر روايت ته کافي تاييد ميلاو شو،او مخالفين چې د بسم الله د جهر په خلاف کومه دعوه کوي هغه د غنې د جالې نه هم کمزورې ورګرځيده بلکې زه دا وايم چې ددې حديث په سند کې يو راوي چې ليث بن سعد دی هغه به بسم الله په جهر سره لوسته:

ابن عبدالبر -رحمه الله- په الانصاف کې ليکي:د ابو هريرة -رضي الله عنه-څخه د نعيم المجمر روايت بالکل محفوظ او صحيح دی.

د مصر امام ليث بن سعد دا حديث د خالد بن يزيد څخه روايت کړی او هغه د سعيد بن ابي بلال نه او دا دواړه د مصر معتبر او ثقه علما وو او سعيد بن ابي بلال دا حديث د نعيم المجمر څخه روايت کړی.

عمرو بن هشام البيروني وايي:ما د ليث بن سعد شاته مونځ وکه او هغه په بسم الله باندې جهر وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام زکریا الساجي د لیث بن سعد په سند سره روایت نقل کوي او بیا وایي:ما دا حدیث د خالد نه اوریدلی هغه د سعید نه هغه د نعیم المجمر نه چې ما د ابو هریرة شاته مونځ وکړ نو هغه د سورت فاتحه په ابتدا کې بسم الله ولوسته او بیا یې وفرمایل: زما مونځ د رسول الله د مونځ سره مشابهت لري.

او پدې سند سره په حدیث کې صرف د بسم الله په جهر سره ویلو ته مشابهت ویلی شوی دی،ګویا کې دا حدیث د لیث بن سعد په نزد صحیح وو دې وجې نه به هغه هم په بسم الله باندې جهر کوو،لهذا ددې په مخالفت کې ټولې حیلې او بهانې ختمې شوې.

ددې مساله باره کې د ابو هریرة -رضي الله عنه-څخه یو بل حدیث هم نقل دی چې امام دارقطني روایت کړی:

ابو هریرة -رضي الله عنه-فرمایي**((کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یجهر ببسم الله في الصلاة))**[262]

چې رسول الله ﷺ په مانځه کې په بسم الله باندې جهر کړی.

اګر که ددې حدیث په سند کې محمد بن قیس ضعیف دی،لیکن نور احادیث ددې لپاره شاهد ګرځي، دا یې د شاهد په طور ذکر کړی.[263]

---

[262] په سنن (ج١ ص ٣٠٧) کې

[263] امام حاکم په المستدرک (ج١ ص٢٣٢) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کلام خلاصه دا شوه چې د ابو هريرة -رضي الله عنه-څخه په مختلفو سندونو سره مرفوع روايات او د هغه خپل عمل او د ليث بن سعد عمل چې د مالک او شافعي نه غټ عالم و دا ټول ددې مسالې د تاييد لپاره مضبوط دلايل دي.

عبدالله بن عباس -رضي الله عنهما-فرمايي:نبي ﷺبه مونځ د بسم الله څخه شروع کوو.[٢٦٤]

امام ترمذي ددې حديث باره کې وايي:دومره قوي ندی ځکه پدې کې يو راوي اسماعيل بن حماد او بل ابو خالد باندې جرح ده مگر حافظ ابن حجر په تقريب کې اسماعيل ته صدوق او ابو خالد ته مقبول ويلي دي چې د متابعت په وخت يی حديث حسن گرځي،او د ابن حجر همدا خبره د انصاف په نظر ده ځکه چې هغه په مقدمه کې ليکلي دي چې زه به د راوي باره کې هغه حکم لگوم چې د عدل او انصاف والا وي.

او ددې روايت شواهد هم موجود دي لکه امام بيهقي فرمايي:ددې حديث نور شواهد هم شته چې مونږ په (الخلافيات) کې ذکر کړي.[٢٦٥]

---

[٢٦٤] په سنن ترمذي(ج١ ص٣٣)

[٢٦٥] په سنن ( ج٢ ص٤٧) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لهذا د اسماعیل او ابو خالد والا دا روایت ضعیف ندی،بلکې قابل قبول دی،او د امام ترمذي د مذکوره قول مطلب دا ندی چې دا بالکل ضعیف دی بلکې معنی یې داده چې دا د صحت په اعلی مراتبو کې ندی.

او کوم صحیح روایات چې مونږ مخکې ذکر کړل هغه هم ددې لپاره تقویت ورکونکي دي،او ددې لپاره امام دارقطني[٢٦٦] شاهد هم ذکر کړی چې محمد بن یحیی بن حمزة یې روایت کوي:ما د امیر المؤمنین مهدي شاته مونځ وکړ نو هغه په جهر سره بسم الله ولوسته،ما ددې باره کې تپوس وکړ نو هغه وفرمایل:ماته خپل والد دا حدیث بیان کړی هغه د خپل والد نه روایت کوي او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي چې د ابن عباس -رضي الله عنه- څخه روایت دی رسول الله ﷺ به په مونځ کې بسم الله الرحمن الرحیم په جهر سره لوسته.

بیا ترې ما تپوس وکړ چې ایا زه دا حدیث روایت کولی شم؟هغه وفرمایل:هو.

حافظ ابن حجر په (التلخیص الحبیر ج١ ص ٢٣٥) کې دا حدیث ذکر کړی او سکوت یې پرې اختیار کړی،هیڅ قسم جرح یې نده کړې،لهذا د حنفي اصولو مطابق دا حدیث د ابن حجر په نزد حسن

---

[٢٦٦] په سنن(ج١ ص ٣٠۴) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


يا صحيح گرځي،لکه علامه ظفر احمد عثماني تهانوي په (انهاء السکن ص۲۴)

حافظ ابن حجر په التلخيص الحبير کې پدې روايت سکوت کړی دی او جرح يې نده کړې نو دا د هغه په نزد ددې حديث د حسن يا صحت دليل دی،او که د امام شوکاني کتاب(نيل الأوطار) مطالعه کړو نو ډيرو مقاماتو کې هغه د حافظ ابن حجر سکوت د حديث د صحت لپاره دليل پيش کوي.

لهذا د حديث د ابن عباس -رضي الله عنه- روايت ته تقويت ورکوي او د هغې لپاره شاهد گرځي،او همدا حديث په مسند البزار کې پدې الفاظو سره روايت دی:

ابن عباس -رضي الله عنه- فرمايي:نبي ﷺبه په مونځ کې په بسم الله باندې جهر کوو.

حافظ نور الدين الهيثمي فرمايي:دا حديث بزار روايت کړی دی او رجال يې ثقه دي.[٢٦٧]

او عبدالله بن عباس به خپله پدې حديث باندې عمل کوو او په بسم الله باندې به يې جهر کولو، د عمرو بن دينار څخه روايت دی چې

[٢٦٧] په مجمع الزوايد (ج۲ ص۱۰۸) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن عباس -رضي الله عنه- به مونځ په بسم الله الرحمن الرحيم سره شروع کولو.[۲۶۸]

ابن عبدالبر په الانصاف کې فرمايي:ابن عباس -رضي الله عنه- به بسم الله په جهر سره لوسته او فرمايل به يې چې دا هغه عمل دی چې شيطان ترېنه خلک وران کړي دي.

د عبدالله بن عباس -رضي الله عنهما- دا عمل هم د حديث لپاره تاييد دی،بلکې د هغه مشهور شاګردان لکه سعيد بن جبير،عطاء بن ابې رباح،طاووس،مجاهد،عمرو بن دينار،او عکرمة به هم په بسم الله باندې جهر کوو، وفا وايي:ما د سعيد بن جبير واوريده چې بسم الله به يې په جهر سره ويله او د عطاء،طاووس،او مجاهد څخه هم نقل دي چې بسم الله باندې به يې جهر کولو.[۲۶۹]

د سعيد بن جبير څخه روايت دی چې هغه به د مونځ په هر رکعت کې بسم الله په جهر سره لوستله.[۲۷۰]

او د عمرو بن دينار او عکرمة قول په الانصاف کې موجود دی.

[۲۶۸] په مصنف عبدالرزاق (ج۲ ص۹۰) کې

[۲۶۹] په مصنف ابن ابی شيبه (ج۱ ص۴۱۲) کې راځي:

[۲۷۰] په مصنف عبدالرزاق (ج۲ ص۹۱) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه وایم(بدیع الدین) چې عبدالله بن عباس په ټولو صحابه کرامو کې د قران ستر مفسر وو،دده په باره کې عبدالله بن مسعود فرمایلي وو:ابن عباس -رضي الله عنه- د قران بهترین ترجمان دی.[۲۷۱]

او نبي ﷺدده لپاره دعا کړې وه:ای الله ته ورته د قران او حدیث فهم او د قران تفسیر ورزده کړه.[۲۷۲]

لهذا عبدالله بن عباس چې دا مسلک اختیار کړی چې په بسم الله به یې جهر کولو زمونږ د مسالې لپاره بهترین تایید دی،او د هغه څخه روایت شوی مرفوع حدیث هم ثابت او صحیح دی،او د هغه د شاګردانو پدې مذهب باندې عمل کول نور هم زړه ته تسلي ورکوي،او امام ترمذي [۲۷۳]کې عبدالله بن عباس -رضي الله عنهما-په هغه کسانو کې حساب کړی چې د بسم الله د جهر قایل دي.

د علي -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې رسول الله ﷺبه په مونځ کې بسم الله لوسته.[۲۷۴]

امام دارقطني ددې حدیث باره کې وایي:سند یې قوي دی هیڅ باک نلري.[۲۷۵]

---

[۲۷۱] التهذیب (ج۵ ص۲۲۸)

[۲۷۲] البخاري (ج۱ ص۵۳۱)

[۲۷۳] په سنن (ج۱ ص۳۳)

[۲۷۴] الدراقطني (ج۱ ص۳۰۲)

[۲۷۵] نصب الرایة د زیلعي (ج۱ ص۲۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام زيلعي ددې حديث باره کې د حافظ مزي قول نقل کړی چې وايي:دا سند قابل حجت ندی ځکه سليمان بن عبدالعزيز راوي پکښ دی چې غير معروف دی يعني زه يې نه پيژنم،ليکن دا قول صحيح ندی ځکه حافظ مزي دا خبره د خپل علم مطابق کړې ده،حالانکه دارقطني ورته صحيح ويلي دي او قاعده داده چې د تعارض په وخت د هغه عالم قول مقدم گرځي چې د يو راوي باره کې ورته علم وي او د هغه عالم قول له اعتبار نشته چې وايي زه يې نه پيژنم،بلکې خپله د علي -رضي الله عنه-عمل دا وو چې په بسم الله به يې جهر کوو لکه بيهقي[٢٧٦] د امام شعبي -رحمه الله- څخه روايت دی چې ما د علي -رضي الله عنه-شاته مونځ وکړ نو هغه په بسم الله باندې جهر وکړ.

د انس -رضي الله عنه-څخه روايت دی چې ما د نبي ﷺنه اوريدلي چې په بسم الله به يې جهر کولو.[٢٧٧]

امام حاکم وايي:ددې حديث ټول راويان د اول نه تر اخير پوري ثقه دي،حافظ ذهبي په تخليص کې وايي:د امام حاکم خبره صحيح ده،او امام نووي ورته صحيح ويلي دي.[٢٧٨]

---

[٢٧٦] (ج٢ ص٤٨) کې

[٢٧٧] مستدرک حاکم (ج١ ص٢٣٣)

[٢٧٨] په شرح د مهذب (ص٣٥٠) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


محمد بن السري العسقلاني فرمايي:ما د معتمر بن سليمان شاته څو مرتبه د سحر او ماښام مونځ ادا کړ نو هغه به د سورت فاتحه او نورو سورتونو په شروع کې بسم الله په جهر سره لوسته،او هغه به ويل زه د خپل پلار سليمان پشان مونځ کوم،او زما پلار به ويل چې زه د انس -رضي الله عنه-پشان مونځ کوم،او انس بن مالک -رضي الله عنه-به ويل چې زه پدې باب کې د رسول الله ﷺتابعداري کوم.

امام حاکم فرمايي:ددې حديث ټول راويان ثقه دي،امام ذهبي هم د حاکم موافقت کړی،او امام نووي فرمايي:امام دارقطني فرمايي:ددې سند ټول راويان ثقه دي.[۲۷۹]

دا حديث په خپل مفهوم سره انتهايې واضح دی چې رسول الله ﷺبه په جهري مونځونو کې بسم الله په جهر سره لوستله،او انس بن مالک دده شاګرد سليمان او دده ځوي معتمر به هم ددې حديث مطابق عمل کولو.

امام شافعي [۲۸۰]دا حديث روايت کوي چې انس -رضي الله عنه- فرمايي:معاوية -رضي الله عنه-يو ورځ په مدينه منوره کې خلکو ته د مونځ امامت ورکړ او قراءت يې په جهر سره وکړ د سورت فاتحه په ابتدا کې يې بسم الله په اوچت اواز سره ولوسته ليکن د سورت په

[۲۷۹] په شرح المهذب (ج۳ ص۳۵۰) کې
[۲۸۰] په کتاب الام (ج۱ ص۹۳) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابتدا کې يې بسم الله په خفيه سره ولوسته نو د مونځ د ختميدو نه پس انصار او مهاجرين صحابه ټول راټول شول او غوغا يې جوړه کړه چې دا مونځ يې په صحيح طريقې سره ونکړ نو ددې نه پس به معاوية -رضي الله عنه-په ټولو جهري مونځونو کې بسم الله په جهر سره لوسته.

دا حديث دارقطني (ج۱ ص ۳۱۱)،مستدرک د حاکم (ج۱ ص۲۳۳) ،بيهقي (ج۲ ص۴۹) او الانصاف د ابن عبدالبر وغيره کې د امام شافعي په سند سره نقل دی،دغه شان په مصنف د عبدالرزاق (ج۳ ص۹٦) او معرفة السنن والاثار د بيهقي (ج۱ ص۲۰۵) کې ذکر دی.

امام حاکم فرمايي:دا حديث د مسلم د شرط مطابق صحيح دی.

او امام ذهبي په تلخيص کې دده موافقت کړی،امام دارقطني فرمايلي:ټول راويان ددې حديث ثقه دي،امام نووي په شرح المهذب (ج۳ ص۳۴۹) کې او حافظ ابن سيد الناس په شرح د ترمذي (ج۱ ص۱۹۲) کې ديته صحيح ويلي.

دا حديث انتهايې صريح دی او په لاندې امورو باندې دلالت کوي:

۱ـ مسنون طريقه داده چې په جهري مونځ کې بسم الله په جهر سره ووايو،امام يعقوب بن سفيان په جهري مونځ کې د بسم الله د جهر لپاره ددې حديث نه استدلال کړی.[۲۸۱]

---

[۲۸۱] شرح المهذب د نووي (ج۳ ص۳۴۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲ـ دا د صحابه کرامو عمل وو.

۳ـ بلکې صحابه کرامو به په هغه امام اعتراض کوو چې په جهري مونځ کې به يې بسم الله په جهر سره نه لوسته.

۴ـ ديته به يې د مونځ نه غلا کول ويل چې څوک په پټه بسم الله لولي.

۵ـ بسم الله د هر سورت په ابتدا کې لوستل پکار دي برابره ده که سورت فاتحه وي يا بل سورت.

٦ـ د اهل مدينه يعني د مدينه د خلکو هم پدې باندې عمل وو ځکه پدې واقعې کې انصارو او مهاجرو ټولو په معاوية باندې رد کړی او دا خبره غلطه ثابته شوه چې اهل مدينه به په پټه بسم الله لوسته.

حافظ ابن عبدالبر فرمايي:د امام شافعي دا حديث دليل دی چې اهل مدينه به په بسم الله باندې جهر کولو.[۲۸۲]

او حافظ ابن عبدالبر ددې نه مخکې د عبدالله بن زبير -رضي الله عنه-او په تابعينو کې د محمد بن کعب قرظي،ابن شهاب،ابو قلابة،عمر بن عبدالعزيز،څخه ددې باره کې احاديث نقل کړی،دا ټول په بسم الله باندې د جهر باندې،او دا ټول د مدينې اوسيدونکي وو،بلکې په مدينه کې د بسم الله پټ لوستو عمل د صحابه کرامو د زمانې نه پس شروع شوی وو.

---

[۲۸۲] الانصاف (ج۱ ص۱۹۲) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د امام زهري څخه روايت دی،هغه فرمايي:په مونځ کې مسنون طريقه داده چې د سورت فاتحه او نورو سورتونو په ابتدا کې بسم الله ولوستل شي،خپله به امام زهري د سورت فاتحه او نورو سورتونو ابتدا د بسم الله څخه کوله،او فرمايل به يې:د ټولو نه مخکې په مدينه کې عمرو بن سعيد بسم الله په پټه لوستل شروع کړي وو ځکه هغه باحيا انسان وو.[٢٨٣]

د امام زهري مرتبه د مدينه په علماو کې د چا نه پټه نده،ځکه هغه د مديني د ستر امام مالک استاذ وو،ابو الزناد به ويل:په ټولو خلکو کې ډير پوهه دی،عراک بن مالک وايي:د مدينه په ټولو فقهاو کې د ډير علم والا امام زهري دی،امام ليث بن سعد فرمايي:ما د زهري څخه ستر عالم بل څوک ندی ليدلی.[٢٨٤]

لهذا د هغه دا گواهي کافي ده چې د مدينه د خلکو اصل عمل په بسم الله باندې جهر وو،او عمرو بن سعيد چې ددې خلاف عمل شروع کړی وو هغه صحابي ندی بلکې تابعي دی،حافظ ابن عبدالبر فرمايي:د ډيرو صحابه و نه په بسم الله باندې جهر ثابت دی لکه عمر،علي،عمار،ابو هريرة،ابن عباس،ابن الزبير،ابن عمر،او د ابن عباس شاگردان لکه سعيد بن جبير،عطاء،مجاهد،طاووس،او دا د

---

[٢٨٣] په سنن د امام بيهقي(ج٢ ص٥٠) کې

[٢٨٤] التهذيب (ج٩ ص٤٤٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library


زهري،عمرو بن دينار،ابن جريج،مسلم بن خالد او د اهل مكه و مذهب دی.

ابن سيد الناس ليكي:خطيب بغدادي ددې صحابه کرامو څخه په بسم الله باندې جهر ثابت کړی له ابو بکر الصديق،عثمان،ابي بن کعب،ابو قتادة،ابو سعيد،انس،عبدالله بن ابي اوفی،شداد بن اوس،عبدالله بن جعفر،حسين بن علي،معاوية.[٢٨٥]

ددې نه پس خطيب بغدادي وايي:هغه تابعين چې بسم الله به يې په جهر سره لوستله بې شماره دي لکه:سعيد بن المسيب،طاووس،مجاهد،ابو وايل،سعيد بن جبير،ابن سيرين،عکرمة،علي بن الحسين،محمد بن علي،سالم بن عبدالله،محمد بن المنکدر،ابو بر بن محمد،وغيره ډير زيات دي.

او د عمر بن عبدالعزيز عمل هم ددې مساله لپاره قوي دليل دی،ځکه د هغه په خلافت کې ډير فقها او علما موجود وو چې پدې به يې عمل کولو.

ناظرين،امام اسحاق بن راهويه مشهور محدث او فقيه دی،امام ابن عبدالبر[٢٨٦]د اسحاق بن منصور څخه روايت کوي:چې ما د اسحاق بن راهويه نه تپوس وکړ چې يو کس مونځ کې سورت فاتحه ولولي

[٢٨٥] په شرح د ترمذي (ج١ ص١٩٢) کې
[٢٨٦] په الاستذکار (ج٢ ص١٧٦) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ليکن په ابتدا کې بسم الله ونه لولي نو ايا مونځ يې وشو؟هغه وويل:نه د مونځ اعاده به کوي بيرته به يې راګرځوي.

همدا عمل د مکه د خلکو هم وو او د حرمينو فقها هم پدې خبره متفق وو،دلته چې مونږ کوم علما ذکر کړل په هغې کې مجاهد،عکرمة،عبدالله بن عباس،محمد،عبدالله بن صفوان،او اسحاق بن راهويه د مکې علما دي.

سعيد بن المسيب،علي بن الحسين،محمد الباقر،سالم بن عبدالله،محمد بن المنکدر،ابو بکر بن محمد،نافع،عمر بن عبدالعزيز،امام زهري،عبيدالله بن عمر،حسن بن زيد،زيد بن علي،محمد بن عمرو،او فقيه ابن ابي ذيب دا ټول د مدينه علما دي.

ابو وايل شقيق بن سلمه سعيد بن جبير،حبيب بن ابي ثابت،عبدالله بن معقل،بن مقرن دا ټول د کوفې اوسيدونکي دي.

محمد بن سيرين،ابو الشعثاء جابر بن زيد،ابو قلابة عبدالله بن زيد،ازرق بن قيس،سليمان التميمې،او د هغه ځوي معتمر ټول د بصري اوسيدونکي دي،دارنګه مکحول د شام د علماو څخه دی،طاووس د يمن،او ليث بن سعد د مصر،عمرو بن دينار مکي دی،ددې ټولو تذکره په تهذيب او تقريب کې موجود ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو څرګنده شوه چې ددنیا د ډېرو اطرافو علما د بسم الله د جهر قايل وو.

دارنګه په صحابه کرامو کې شداد بن اوس،او معاويه هم شام کې اوسيدل،عبدالله بن ابي اوفی په کوفه کې،او انس بن مالک په اصل کې مدني و اګر که اخيري عمر کې بصره ته تلی وو،او باقي ټول صحابه مدني دي.

حافظ ابن عبدالبر په الانصاف کې ليکي:عبدالله فرمايي:زما پلار امام احمد به ويل:زه خوښ ګنړم چې په تراويح کې د هر سورت په ابتدا کې بسم الله ولوستل شي.

محترم لوستونکو:ما دلته په جهر باندې د بسم الله لوستلو باره کې اته احاديث ذکر کړل او ددې په ضمن کې مې يو څو نور روايات هم ذکر کړل.

ددې نه علاوه نور هم ډېر احاديث شته چې تاسو يې په سنن دارقطني او سنن بيهقي کې لوستلی شئ،ددې مساله متعلق بعضې محدثينو مستقل کتابونه ليکلي دي لکه امام مروزي،دارقطني،حاکم،ابن خزيمة،ابن حبان،خطيب بغدادي وغيره،د څلورو مذاهبو د علماو څخه هم ددې ثبوت شته مثلا د عبدالله بن المبارک تذکره وشوه چې هغه هم د جهر قايل وو حالانکه احناف هغه په خپلو علماو کې حسابوي،لکه تاسو ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره وګورئ (الجواهر المضيئة د عبدالقادر قرشي الحنفي (ج۱ ص۱۸۸) الفوايد البهية في تراجم الحنفية د عبدالحي لکهنوي (صفحه ۱۰۳)،احکام القنطرة في أحکام البسلمة د عبدالحي (ص۲۷۰) پدې کتاب کې وايي:چې په بسم الله باندې جهر کول سنت دي او د رسول الله څخه ددې د ثبوت انکار کول مشکل نه بلکه ناممکن دي،د مالکي مذهب عالم ابن عبدالبر هم پخپل کتاب الانصاف کې د جهر قايل دی او ددې د اثبات لپاره يې ډير دلايل ذکر کړي،او د شافعيانو مذهب خو ددې باره کې مشهور دی،ځکه د فقه شافعي ټول کتابونو کې دا مساله شته،د حنبلي مذهب مشهور عالم ابو القاسم بن منده د بسم الله په جهر ويلو قايل وو لکه حافظ ابن رجب دا خبره د ابن تيميه -رحمه الله- څخه نقل کړې.[۲۸۷]

وس زه دلته د هغه علماو دلايل ذکر کوم چې وايي:بسم الله په خفيه سره لوستل سنت دي او بيا ددې دلايلو رد او حقيت تاسو ته بيانوم: ددوی د ټولو نه مشهور دليل د انس -رضي الله عنه-دا حديث دی چې امام مسلم [۲۸۸]کې نقل کړی هغه وايي:ما د رسول الله،ابو بکر،عمر،او عثمان شاته مونځ کړی نو هغوی به قراءت د الحمدلله نه

---

[۲۸۷] په طبقات الحنابله (ج۱ ص۱۳۰) کې

[۲۸۸] (ج۱ ص۱۷۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


شروع کوو او بسم الله به يې نه د قراءت په ابتدا کې لوسته او نه اخير کې.

**الجواب:**

۱ـ ددې حديث سند دارنگه دی:

**((حدثنا محمد بن مهران قال نا وليد بن مسلم نا الاوزاعي عن قتادة انه کتب اليه بخبره عن انس))**

يعني اوزاعي وايي:دا حديث ماته قتادة د انس له طرفه ليکلی و،او ياد ساتئ چې قتادة پيدايشي ړوند وو،[۲۸۹] لهذا دا روايت هغه خپله ندی ليکلی بلکې بل چا به ورله ليکلی وي،او هغه کاتب مجهول دی،او دا خبره حافظ بن حجر په (النکت ص۲۹۴) کې کړې ده،او پدې روايت کې د ځانه د اضافه کولو خطره او احتمال هم شته ځکه چا چې دا روايت امام اوزاعي ته رسولی هغه هم مجهول دی،گويا کې د قتادة او اوزاعي په مابين کې دوه راويان مجهول دي،لهذا دا روايت پدې الفاظو سره صحيح ندی،او قتادة پخپله مدلس دی لکه ابن حجر فرمايي:قتادة مشهور مدلس دی او امام نسايې وغيره هغه ته مدلس ويلي دي.[۲۹۰]

[۲۸۹] ـ تهذيب التهذيب (ج۸ ص۳۵۱) تدريب الراوي (ص ۹۰)

[۲۹۰] په طبقات المدلسين (ص١٦) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ابن حبان -رحمه الله- څخه نقل دي[٢٩١] چې قتادة ته يې مدلس ويلي دي او حافظ ابن حجر -رحمه الله- دا د مدلسينو په درېمه طبقه کې شمار کړی دی او دې طبقه کې هغه مدلسين دي چې په سماع باندې تصريح ونکړي يعني (حدثني) يا (سمعت) ونه وايي نو حديث به يې نشي قبلولی،او پدې حديث کې يې هم د سماع تصريح ندہ کړې لهذا دا د حديث د ضعف دويم سبب شو.

٢ـ دا روايت صرف د انس -رضي الله عنه-څخه نقل دی بل کوم صحابي ورسره نشته او مخکې چې کوم احاديث نقل شول هغه د ډېرو صحابه و نه روايت وو لهذا دا يو روايت د هغې مقابله نشي کولی.

٣ـ که فرض کړو چې دا روايت صحيح دی او عمل پرې وکړو نو بيا خو بسم الله لوستل بالکل ندي پکار نه په جهر سره نه خفيه نو کوم علما چې وايي د سورت فاتحه يا بل سورت په ابتدا کې بسم الله لوستل شته د هغوی لپاره دليل څه دی؟

په صحيح مسلم کې دا روايت په بل لفظ سره موجود دی چې د انس -رضي الله عنه-څخه روايت د ی ((**صلَّيتُ خلفَ رسولَ اللَّهِ، وأبي بَكرٍ ، وعمرَ ، وعثمانَ فلم أسمع أحدًا منْهم يجْهرُ بـ (بسمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم)**[٢٩٢]

[٢٩١] په تهذيب (ج٨ ص٣٥٥) کې

[٢٩٢] - صحيح سنن النسائي (١٣٥٦١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما د رسول الله،ابو بكر،عمر او عثمان شاته مونځ کړی او ما د يو څخه هم بسم الله نده اوريدلې.

## ددې حديث نه جواب:

اگر که ددې سند صحيح دی هيڅ علت پکښ نشته،ليکن ددې دوه مطلبه کيدای شي:

۱ـ د انس -رضي الله عنه-د نه اوريدو څخه د جهر نفي نه لازميږي ځکه کيداي شي رسول الله پرې جهر کړی وي ليکن هغه نه وي اوريدلی،او کوم روايات چې مخکې تير شو هغې کې صراحت سره دا خبره وه چې رسول الله جهر کړی وو په بسم الله،نو د انس حديث نافي دی او د نورو صحابه و حديث مثبت دی اثبات د جهر کوي او قاعده داده چې مثبت به په نافي باندې مقدم وي.

۲ـ دويم مطلب دادی چې رسول الله بالکل بسم الله ويلې نده نو بيا کوم خلک چې يې خفيه وايي ددوی سره څه دليل دی،دوی له پکار ده چې بل دليل وگوري کوم چې د بسم الله د خفيه لوستلو اثبات کوي،حالانکه مونږ سره صريح دلايل موجود دي چې رسول الله په جهر سره بسم الله لوستلې ده،او که منکرين د يو حديث څخه استدلال وکړي چې هغې کې صحابي ويلي وي چې ما د رسول الله څخه بسم الله اوريدلې ده نو دا به زمونږ لپاره دليل وي دده لپاره نه.

دغه شان پدې روايت کې نور علتونه هم شته لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱ـ د انس -رضي الله عنه-څخه څلور نور داسې احاديث نقل دي چې صراحت کوي چې رسول الله بسم الله په جهر سره لوستلې ده او دا حديث يې مخالف دى لهذا اعتبار به کثرت لره وي.

۲ـ پدې څلور احاديثو کې يو حديث په بخاري کې دی چې انس -رضي الله عنه-فرمايي:ما د رسول الله نه بسم الله اوريدلې چې اواز به يې پرې اوږد کړ او دا مونځ او عام حالات دواړو ته شامل دی او انس -رضي الله عنه-داسې کيفيت د اوريدو نه بغير هيڅکله نشي بيانولی لهذا د بخاري دا حديث د مسلم د روايت نه بهتر او عمل کول پرې اولی دي.

۳ـ پدې حديث کې د درې خلفاو:ابو بکر،عمر،عثمان مذهب بيان شوی چې هغوی به بسم الله نه ويله حالانکه مخکې دا معلومه شوه چې هغوی به په بسم الله سره جهر کولو،نو دا هم پدې حديث کې يو علت او د ضعف سبب دی.

۴ـ د انس -رضي الله عنه-خپله مذهب هم دا وو چې په بسم الله به يې جهر کولو نو هغه بيا ددې په مخالفت کې څنګه روايت کولی شي؟

او د احنافو په نزد خو دا حديث منسوخ ګرځي،ځکه ددوی اصول دي چې کله راوي د خپل روايت نه خلاف وکړي نو د راوي عمل لره به اعتبار وي،او روايت به يې منسوخ وي ځکه چې ده په روايت باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library


عمل ځکه ترک کړ چې نسخ یې ورته معلومه وه،لکه دا قاعده د اصول فقه حنفي په مشهور کتاب (نور الانوار ص۷۵۵) کې ذکر شوې ده.
او د محدثینو په نزد هم ددې روایت علت انتهایې ظاهر دی او که صحیح هم ومنلی شي نو بیا به ووایو چې د انس -رضي الله عنه-څخه دوه قسمه احادیث نقل دي اول دا چې په بسم الله یې جهر کړی او دویم دا چې بسم الله یې په خفیه ویلې او د اول عمل لپاره دده خپله فتوی په تایېد کې موجود ده لهذا اولني روایت ته تقویت میلاویږي او قابل عمل ګرځي.
۵ـ مخکې تیر شو چې معاویة -رضي الله عنه-مونځ وکه خلکو ته او بسم الله یې په پټه ولوسته نو ټولو صحابه و پرې اعتراض وکړ نو دا دلیل دی ددې روایت د معلول کیدو لپاره.
٦ـامام سیوطي څخه نقل دي چې بسم الله باندې د جهر کولو احادیث د تواتر حد ته رسیدلي او دا هم د انس -رضي الله عنه-د روایت د علت لپاره مضبوط دلیل دی.
۷ـ ددې روایت په متن کې اضطراب دی لکه یو روایت کې راځي چې هغوی به بسم الله نه ذکر کوله
بل روایت کې راځي:هغوی به په بسم الله باندې جهر نه کولو
یو بل روایت کې راځي:هغوی به بسم الله نه لوستله.
بل روایت کې راځي:هغوی به بسم الله په جهر سره لوستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بعضې راویان وایي:یعني ما د یو ښخه هم بسم الله نده اوریدلی.
او یو روایت کې راځي چې د انس -رضي الله عنه-ښخه ددې باره کې تپوس وشو نو هغه وفرمایل:زه بوډا شوی یم او خبره رانه هیره شوې.
دا خبره انسان په فکر باندې مجبوروي چې د یو صحابي ښخه مروي روایت کې سخت اختلاف دی بعضې جهر ثابتوي او بعضې نور یې نفي کوي او بعضې نور لا د بسم الله د لوستلو ښخه انکار کوي او ددې اختلاف تطبیق نا ممکن دی لهذا دا د حدیث د معلول کیدو قوي سبب دی.
حافظ ابن عبدالبر -رحمه الله- په الانصاف کې فرمایي:دا روایت ددومره اختلاف باوجود محل د استدلال نشي کیداي او ساقط الاعتبار ګرځي.
امام سیوطي -رحمه الله- [٢٩٣]دې روایت ته معلول ویلي دي،دغه شان حافظ ابن الصلاح [٢٩٤]دیته معلول ویلي دي او فرمایي:ددې روایت اصل الفاظ دادي: چې ما د رسول الله،ابو بکر،عمر،عثمان ښخه اوریدلي چې مونږ به یې د الحمدلله سره شروع کوو.
او دا د بخاري او مسلم روایت دی باقي روایتونو کې چې راځي چې جهر به یې نه کوو وغیره نو دا د راویانو خپل فهم دی چې د غلطي

[٢٩٣] په تدریب الراوي (ص٩٠) کې
[٢٩٤] په مقدمه (ص٤٣) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


احتمال پکښې شته ځکه د الحمدلله څخه د مونځ د شروع کولو دا معنی نده چې هغوی به بسم الله پریخودله یا به یې جهر پرې نه کوو،بلکې مطلب یې دادی چې د بل سورت نه مخکې به یې الحمدلله ویله.

دارنګه دا خبره ابو الفضل العراقي په (التقیید والایضاح ص۱۱۹) او علامه سخاوي په (فتح المغیث ص۹۵) او سیوطي په (تدریب الراوي ص۹) کې بیان کړې ده او ددې نه لاندې خبرې معلومیږي:

۱ـ د انس -رضي الله عنه-څخه منقول احادیثو کې صرف د بخاري او مسلم حدیث صحیح دی چې انس -رضي الله عنه-فرمایي:ما د رسول الله،ابو بکر،عمر،عثمان شاته مونځ کړی او هغوی به مونځ د الحمدلله څخه شروع کوو.

باقي ټول روایات معلول دي او د رواتو ادراج پکښې دی یعني د ځانه یې پکښې د خپل فهم مطابق اضافت کړی دی او دا اتم علت شو.

۲ـ راویانو چې د خپل فهم مطابق کوم الفاظ اضافه کړي هغې له هیڅ اعتبار نشته.

۳ـ د راویان د حدیث په فهم کې خطا شوي دي.

۴ـ د انس -رضي الله عنه-د صحیح روایت څخه صرف دومره معلومیږي چې رسول الله،ابوبکر،عمر،او عثمان به مونځ د فاتحه نه شروع کوو بیا به یې بل سورت ویلو او بسم الله خو د فاتحه ایت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او امامانو چې پدې حديث باندې كوم ابواب تړلي دي د هغې نه هم دا خبره معلوميږي لكه امام نسايي پدې حديث باب تړي ((ددې خبرې بيان چې د بل سورت نه مخكې سورت فاتحه لوستل پكار دي).

او مخكې دا خبره وشوه چې د سورت فاتحه دويم نوم الحمدلله دی نو ددې حديث معنی داده چې هغوی به مونځ كې اول سورت فاتحه لوستله او بيا بل سورت،او همدا معنی امام شافعي په (كتاب الام ج١ ص٩٣) كې بيان كړې ده او د امام شافعي دا قول امام ترمذي په ((سنن ج١ ص٣۴)) كې ذكر كړې ده او هيڅ رد يې پرې ندی كړی. امام بيهقي په (سنن ج٢ ص٥١) كې،امام حازمي په (كتاب الاعتبار ص٨١) كې،بغوي په شرح السنة (ج٣ ص٥٥) او نووي په (شرح المهذب ج٣ ص٣٥)،حافظ ابن الصلاح په (مقدمه ص ۴٣) كې ابو الفضل عراقي په (فتح المغيث ج١ ص١٠٩) كې،كرماني په (شرح البخاري ج٥ ص١١١)ابن حجر عسقلاني (فتح الباري ج٢ ص٢٢٧) علامه قسطلاني په (ارشاد الساري ج٢ ص٧٢) كې دا معنی بيان كړې.

د لغت په مشهور كتاب (مجمع بحار الانوار ج٣ ص٥٣) كې هم دا معنی موجود ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لهذا ددې حديث څخه د بسم الله د پټ لوستو لپاره استدلال كول صحيح ندي.

دويم دليل د مخالفينو چې استدلال ترې كوي د بسم الله د خفيه لوستلو لپاره(( **عن ابن عبد الله بن مغفل قال سمعني ابي وانا في الصلاة اقول بسم الله الرحمن الرحيم فقال لي اي بني محدث اياك والحدث قال ولم ار احدا من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كان ابغض اليه الحدث في الاسلام يعني منه قال وقد صليت مع النبي صلى الله عليه وسلم ومع ابي بكر ومع عمر ومع عثمان فلم اسمع احدا منهم يقولها فلا تقلها اذا انت صليت فقل الحمد لله رب العالمېن** (سنن الترمذی، كتاب الصلاة)[۲۹۵]

ابن عبدالله بن مغفل څخه روايت دی ما په مونځ كې بسم الله وويله نو زما پلار ماته وويل:ځويه دا بدعت دی او صحابه كرامو به د بدعت سره ډير نفرت لره،او ما د رسول الله،ابو بكر،عمر او عثمان شاته مونځ كړی د يو څخه مې هم بسم الله نده اوريدلی،نو په مونځ كې بسم الله مه وايه بلكې د الحمدلله څخه ابتدا كوه.

## الجواب:

۱ـ دا روايت ضعيف دی ځكه ددې راوي ابن عبدالله بن مغفل مجهول دی لكه ابن عبدالبر دا خبره كړې هغه وايي:دا راوي د

[۲۹۵] امام ترمذي په سنن (ج۱ ص۳۳ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


محدثینو په نزد مجهول دی او د مجهول حدیث حجت ندی[۲۹۶]،امام نووي د ابن خزیمة،ابن عبدالبر،خطیب بغدادي څخه نقل کړی دی چې دا راوي مجهول دی[۲۹۷]،حافظ ابن حجر ورته مستور یعني مجهول ویلي دي،[۲۹۸]لهذا دا روایت معتبر ندی،خصوصا د هغه احادیثو مقابله نشي کولی چې ددې برخلاف مخکې ذکر شو.

۲ـ که دا روایت صحیح ثابت شي نو بیا به یې معنی دا وي چې بسم الله لوستل بالکل جایز ندي که خفیه ولوستل شي او که جهرا نو بدعت به وي،ځکه هغه خپل ځوي ته ویلي چې بسم الله مه وایه،او کوم خلک چې ددې حدیث څخه استدلال کوي هغوی خو د خفیه لوستلو قایل دي نو دا پدوی باندې هم رد دی.

۳ـ که دا روایت صحیح هم تسلیم کړی شي نو معنی به یې دا وي چې عبدالله بن مغفل وایي:ما ندي اوریدلي نو دده نه اوریدل د عدم جهر د بسم الله نفي نه کوي ځکه ده ندي اوریدلي نورو صحابه و خو اوریدلي وو چې رسول الله بسم الله لوستلې ده او جهر یې پرې کړی،او قاعده داده چې کوم راوي سره علم نه وي د هغه خبرې لره به اعتبار نه وي بلکې اعتماد به د هغه چا په خبره وي چې علم ورسره وي.

---

[۲۹۶] په الانصاف (ج۱ ص۱۵۹) کې

[۲۹۷] په شرح المهذب (ج۳ ص۳۵۵) کې

[۲۹۸] په النکت (ص۳۰۲) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دارنگه د صحیح احادیثو په مقابله کې دده قول لره هیڅ اعتبار نشته،خطیب بغدادي -رحمه الله- فرمايي:ددې روايت راوي عبدالله بن مغفل مجهول دی او که صحیح هم تسليم کړی شي بيا هم د ابو هريرة -رضي الله عنه-د حديث مقابله نشي کولی چې د بسم الله د جهر باره کې تير شوی دی،ځکه عبدالله بن مغفل د وړو صحابه و څخه وو،او ابو هريرة د غټو صحابه وو څخه وو،او رسول الله دا حکم کړی وو چې ماته به په مونځ کې عاقل او غټ عمر والا کسان نژدې ودريږي،نو ابو هريرة به مونځ کې د عبدالله بن مغفل په نسبت ډير نژدې ودريده،او دا عين ممکنه ده چې ابو هريرة بسم الله اوريدلې ده او عبدالله بن مغفل نده اوريدلې،ځکه ابو هريرة به د رسول الله په احاديثو باندې ډيره توجه کوله د نورو په نسبت.

**دريم دليل ددوی**: د تقسيم الصلاة والا حديث دی چې الله فرمايي:ما مونځ تقسيم کړی خپل او بنده مابين کې کله چې هغه الحمدلله ووايي.

ليکن مخکې دا خبره وشوه چې دا حديث د بسم الله د لوستو منافي ندی،نو د جهر منافي هم ندی،ځکه ددې حديث راوي ابو هريرة به خپله بسم الله په جهر سره لوستله او رواي د خپل روايت خلاف عمل څنگه کولی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله صرف د سورت فاتحه ایت ندی،بلکې د ټولو سورتونو ابتدایې ایت دی،او پدې حدیث کی صرف د هغه ایتونو بیان دی چې سورت فاتحه سره خاص دي،او پدې کې د بسم الله د سرا او جهرا لوستلو متعلق هیڅ خبره نشته،او کوم صریح او صحیح احادیث چې مونږ د بسم الله د جهر باره کې ذکر کړل کافي او شافي دي،لهذا د صحیح او صریح احادیثو باوجود ددې قسم احادیثو څخه استدلال کول سینه زوري ده.

**الحاصل:** سنت طریقه داده چې په جهري مونځونو کې په بسم الله جهر وشي،او په سري مونځ کې سرا ولوستل شي ځکه دا د سورت توبه نه علاوه د هر سورت ابتدایې ایت دی.

او زه امید کوم چې د حق پرستو لپاره زما دا تحقیق کافي او شافي وي،په اخیر کې زه د محمد بن مقدسي -رحمه الله- خبره ذکر کوم چې هغه دې باره کې کتاب هم لیکلی او تاسو یې ملاحظه کړئ،حافظ ابن الملقن په (البدر المنیر ص٣٦٣) کې دا خبره نقل کړې:

دا خبره یاده کړه چې د بسم الله متعلق چې څومره احادیث راغلي بیشماره دي،تقریبا ٢١ صحابه کرامو دا احادیث د رسول الله څخه روایت کړي دي،چې بعضې انتهایې صریح او نور په اشارې سره د بسم الله د جهر اثبات کوي،او د بسم الله د پټ لوستلو باره کې هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library


صريح او صحيح حديث نشته،د انس -رضي الله عنه-حديث په څو علتونو باندې مشتمل دی او د عبدالله بن مغفل حديث خو ضعيف دی،او چا د تقسيم الصلاة والا حديث نه استدلال کړی دی لیکن دا واضح ندی پدې باب کې.

**تنبيه:**يوه مشهوره قصه ده چې بعضې خلک يې بيانوي،چې د روم بادشاه قيصر عمر -رضي الله عنه-ته خط راوليږه،چې د ډير وخت نه زما په سر باندې درد دی نو څه دوا راته راوليږه،نو هغه ورته يوه ټوپۍ وليږله کله چې يې په سر کړه د سر درد يې ختم شو او کله چې يې ويستله بيرته راغلی،نو هغه تعجب وکه او چې ښه يې ټوپۍ وکتله نو بسم الله پرې ليکل شوې وه.

دا واقعه هيڅ سند نلري،امام رازي[٢٩٩] او شيخ اسماعيل حنفي[٣٠٠] ذکر کړې ده لیکن د تاريخ د کوم کتاب حواله يې نده ورکړې نه يې ورله سند ذکر کړی،او دا واقعه د اردو په کتابونو کې هم موجوده ده لکه (الداء والدواء د نواب صديق حسن خان ص١٦) ،(فوايد ستاريه ص٦٨) (غذاء الارواح د علامه داود راغب ص٣٦) ،اسلامي وظايف د علامه عبدالسلام بستوي (ص٣٦) ،شرعي تعويذات د علامه عبدالقادر حصاري (ص٣۴) وغيرهم.

---

[٢٩٩] تفسير کبير (ج١ ص١٧١)

[٣٠٠] په روح البيان (ج١ ص٩) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې کتابونو کې دا واقعه د اضافت سره موجوده ده چې بادشاه کله دا ولیدل نو مسلمان شو،او ددې د رد لپاره دومره کافي ده چې حافظ ابن حجر په (فتح الباري ج۱ ص۴۴) کې ذکر کړي چې قیصر بادشاه د مرگ پورې نه وو مسلمان شوی.

بلکې په صحیح د ابن حبان کې د انس -رضي الله عنه-څخه روایت دی چې رسول الله د روم بادشاه ته خط لیږلی وو چې د اسلام دعوت یې ورته ورکړی وو،په جواب کې ورته هغه خط ولیکل چې زه مسلمان شوم،لیکن چې رسول الله دا خط ولوسته نو ویې فرمایل: د الله دشمن دروغ وایي دا مسلمان ندی بلکې نصراني دی.[۳۰۱]

[۳۰۱] موار الظمان (ص۳۹۳)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library